بهوپال

د هندوستان پښتانه

لیکواله
صفیه حلیم

۱۳۸۲ سلواغه

Download from: aghalibrary.com

بهوپال - د هندوستان پښتانه

لیکواله: صفیه حلیم
خپرونکی: کتاب خپرولو صندوق – هېنداره
د خپرولو لړ: درېیم
د خپرېدو نېټه: سلواغه ۱۳۸۲
د خپرېدو ځای: کابل - افغانستان
شمېر: ۳۰۰۰ ټوکه
چاپ وار: لومړی
د پښتۍ طرحه: میرویس میاخېل

د چاپ ټول حقوق له خپرونکي سره خوندي دي

بسم الله الرحمن الرحيم

Download from: aghalibrary.com

نیولیک

سرلیک	مخ
پېژندنه	
دوست محمد خان	
بهوپال په اتلسمه پېړۍ کې	
د پښتنې مېرمنې دعوا	
د قدسیه بېگم واکمني	
قدسیه بېگم او سیاست	
د سکندر بېگم مشکلات	
شاه جهان بېگم	
مور، لور او سیاست	
سلطان جهان بېگم	
وروستی نواب	
اوسني پښتانه	

Download from: aghalibrary.com

پېژندنه

د ۱۹۴۷م کال د اګست دیارلسمه نېټه وه. د بهوپال په سرکاري دفتر کې نواب حمیدالله خان له خپل مېز سره ولاړ دی. د هغه توپنچه ډکه پر مېز پرته ده. د هغه تندی تریو او لاسونه یې یو پر بل کلک نیولي دي. لږه شېبه وروسته د هغه مشره لور دفتر ته ننوزي. دواړه یو بل ته سلام اچوي او سمدلاسه نواب خپلې لور ته وايي:

'زه پاکستان ته ځم. غواړم چې د بهوپال چارې ته پر مخ یوسې. کېدای شي ما د پاکستان مشر وټاکي. ما ته جناح ویلي دي چې راشه، خو زه غواړم چې ته ما ته د یوې خبرې ډاډ راکړې او هغه دا چې ما ته به د بهوپال له خزانې پنځه لکه روپۍ دکال رالېږې. ته دا خبره منې؟'

لور یوه شېبه د پلار په سترګو کې سترګې واچولې، خو خپل قهر یې نشو څرګندولی. پلار ته یې بې ادبي نشوی کولای. پر مېز اېښې توپنچې ته یې اشاره وکړه او ویې ویل:

''ته ولې په ما د دې توپنچې ډز نه کوې؟ زه بې وسلې یم. دا نوابي تا پورې اړه لري. دا سیمه که له هند سره یو ځای کېده نو په دې فیصله زه خپله ګوته نشم لګولی. او سبا به خلک وايي ښځه وه ځکه خو یې د دې خاورې له هند سره د یو ځای کېدو مخه ونه نیوله. او هغه وطن چې زموږ مشرانو په تېرو دوه نیم سوو کلونو کې د خپلو سرونو په بدل ساتلی و، یوې ښځې هند ته تسلیم کړ.''

د نواب حمیدالله خان دا لور عابده سلطان وه، چې د بهوپال د وروستۍ نوابې په توګه په دیارلس کلنۍ کې نومول شوې وه او په ۲۰۰۲ د مې پر ۱۱ نېټه د ۸۹کلونو په عمر په کراچۍ کې په حق ورسېده.

دا د اورکزيو د هغې کورنۍ مېرمن وه چې د هند په مدهيه پردېش ايالت کې يې د اتلسمې پېړۍ په سر کې د بهوپال د خپلواکې نوابۍ بنا کېښوده.

د هندوستان په پراخه خاوره کې له لرغونو وختونو څخه هرې سيمې د انتظامي چارو لپاره يو واکمن لرلو. د پښتنو، عربانو، ترکانو او مغولو له خوا چې هرکله دا سيمه نيول شوې او د دوی سلطنت پرې جوړ شوی، نو دغو سيمه ييزه واکمنو ته يې درناوی کړی دی. او که جګړه يې ورسره نه کوله، نو د باج او خراج په بدل کې يې ورته القاب او خطابونه ورکړي دي. هغه صوبې يا ايالتونه چې لکه د پاچاهانو په کې راجه ګان او نوابان واکمن وو، د خپلې سيمې د خلکو لپاره هم مهم وو. د ځمکو د شخړو، د امنيت، د ناروغۍ او وبا او دغسې نورې ورځنۍ چارې د نوابانو له خوا ټاکل شوي پوليس، پوځ، قاضيانو او وزيرانو اداره کولې. د يو پاچا د يوه کاميابه حکومت تر شا هم دغه نوابان او راجه ګان وو. د بهرني يرغل پر ضد د پوځ برابرولو لپاره به هم دې نوابيو ډېر لوی رول ترسره کاوه.

په ۱۹۰۰ عيسوي کال کې چې انګرېزان د هند په لويه وچه واکمن وو، د دې نوابيو او راجواړو په اړه يې يوه تذکره ليکلې چې د هغې له مخې د هند او اوسني پاکستان او بنګله دېش په ګډون دلته تر شپږو سوو ډېر نوابان او راجه ګان وو. په نولسمه پېړۍ کې ځينې رياستونه او ايالتونه لکه اسام، مرهټه او پنجاب په انتظامي توګه خپل حيثيت له لاسه ورکړی و.

په ۱۹۴۷م کال کې د انګرېزانو په حساب **۵۲۵** رياستونه موجود وو. په دې کې زمينداري او ټيکانې هم شاملې وې. زمينداري يوازې په يو څو کليو مشتمله وه. دوی ته به يې تعلق دار يا جاګيردار هم

ويلو. يوه زميندار يا جاګيردار به له خلکو د ماليو راټولولو کار هم کاوه. په دې کې زياتره مورثي وې، خو کله کله پاچا د انعام په توګه هم داسې جاګيرداري ورکولې.

جون پور داسې يوه زمينداري وه. له زمينداري پرته د "وصل" په نوم هم يو انتظامي يونټ و، چې واړه او کوچني کلي به له ګاونډي نوابۍ يا راجه سره وصل وو. خو دوی به کله کله خپلواکه اختيارات هم لرل. شورپور او ګړوال د دې ښې بېلګې دي. په راجواړو او نوابيو کې هم دوه ډوله امتيازات ورکړی شوي وو. د نورو لويو رياستونو په شان بهوپال او حيدرآباد هم داسې امتيازات لرل.

دې ته به يې ګن سيليوټ ياني هغه چې د توپو سلامي لري. دا دود د انګرېزانو په وخت کې پيل شو. او هغه نواب يا راجه چې دوی به ډېر درناوی ورته کاوه هغه ته به يې د يوويشت توپو سلامي امتياز ورکاوه، چې تر ټولو لوړ اعزاز و. تر ټولو وروکی د دريو توپونو سلامي واله و.

دويم هغه ځيني وو چې د توپو سلامي امتياز يې نه لرلو. په دې کې بسوده (چې د پښتنو رياست و)، نواب ګنج او خيرګړ غونډې ځايونه شامل وو. د يوويشت توپو د اعزاز رياستونه يوازې پنځه وو، چې د حيدرآباد نظام، ميسور مهاراجه، جمو او کشمير په کې شامل وو. مهاراجه او د بړوده ګايک مهاراجه او د ګواليار مهاراجه سندهيا وو.

د نولس توپو سلامي به د بهوپال (د پښتنو نواب)، د اندور او اودې پور راجه ګانو ته ورکول کېدې. په دې کې هم فرق دا و چې ځينې موروثي او ځينې موقتي وو. هغه وخت د مځکې او شمېر له حسابه د مسلمانانو تر ټوله لويه نوابي د حيدراباد دکن وه چې واکمن

به "نظام" بلل کېده. له دې وروسته د مځکې له پلوه د مسلمانانو لويه نوابي د بهوپال هغه وه. چې بنسټ يې د اورکزيو يو تن دوست محمدخان اېښی و. دلته څلورو ښځو پرله پسې دوه سوه کاله حکومت کړی دی. ددې وړوکې سلطنت د پوځ لپاره به زياتره د صوبه سرحد او په تېره د قبايلي سيمو خلک روزل کېدل. د خلکو لپاره به دا هم نوې خبره وي چې په بهوپال کې اوس هم اپرېدي، يوسفزي او ميرازي خېل پښتانه نه يوازې دا چې ژوند کوي ځينې په کې اوس هم پښتو وايي. ما ددې سيمې له ځينو کورنيو سره ليدلي او د هغوی د ژوند ژواک حال مې له نژدې اخيستی دی. دا کتاب د بهوپال مکمل تاريخ نه دی. يوازې د تېرو دريو سوو کلونو حال دی چې په کې دوه نيم سوه کاله د پښتنو مېرمنو او د دوی حالات بيان شوي دي. په وروستۍ برخه کې مې د بهوپال د اوسنيو پښتنو حال ليکلی دی. په دې لاره کې ما سره ډېرو خلکو مرسته کړې ده. په تېره بيا د وروستۍ واکمنې عابده سلطان زوی شهريارخان چې د خپلې کورنۍ په اړه يې ډېر معلومات راکړل.

Download from: aghalibrary.com

د صوبه سرحد په لوېديځ کې د تيرا غرونه دي، چې په کې د اپريدو نهه قامونه ملک دين خېل، سپاه، کوکي خېل، اکا خېل، زکا خېل، کمبرخېل، حسن خېل او ادم خېل اباد دي. په ۱۲۷۲ م کال کې د اورکزيو د يوه سردار نورمحمد خان په کور کې يو ماشوم وزيږېد چې په دوست محمد خان ونومول شو. مور پلار يې ډېر خوشاله وو. د پېنځو کالونو په عمر کې د قران د لوست او ديني زده کړو لپاره ورته يو استاد وساتل شو، دا استاد ملا جمالي نومېده چې د بدخشان اوسېدونکی و. دوست محمد خان چې د اس د سورلۍ شو، نو پلار ورله يو اس ورکړ. له دې سره سره يې د توري او غشي ويشتلو تربيه هم ترلاسه کړله. ۱۷ مه پېړۍ چې په ختمېدو وه، نو دوست محمد خان يو تکړه او غښتلی ځوان و. هغه وخت د هندوستان پر تخت د مغولو پاچا اورنګزېب ناست و او د خپل سلطنت ساتلو لپاره له مرهټه وو سره په جنګ وو. د مغول دربار د شان او د هند د شتمنۍ کيسې هر چا اورېدلې وې. له تيرا نه هم ځوانانو ډېلي ته د تللو ارمان درلودلو. ځينې ځوانان د دوست محمد خان له سيمې هم هندوستان ته ورغلي وو او د مغولو په پوځ کې به شامل شول، نو ډېره ښه تنخوا به ورته ورکول کېده. هندوستان ډېره لويه مځکه لري او د هر يو رياست والي ته به د پوځ لپاره مېړني ځوانان پکار وو. د پوځ لپاره تکړه ځوانان او ښه اسونه د پښتنو له سيمو هم ور تلل. په تيرا کې ځينو کورنيو د دې جنګيالو لخوا په رالېږلو پيسو خپل ژوند ته وده ورکوله. په ۱۲۹۷ کال کې دوست محمد خان له ۲۰ کالونو اوښتی و او تل به ناکراره و. مور و پلار ورله د يوې بلې اورکزۍ کورنۍ نجلۍ غوښتې وه چې معراج بي بي نومېده، خو دوست محمد خان لکه د

Download from: aghalibrary.com

لومړی څپرکی
دوست محمد خان

بهوپال ـ د هندوستان پښتانه

کاواکه اس ژوند کاوه. په نه څه خبره به يې توره راايستله او وينه به
يې تل په جوش کې وه. د معراج بي بي مور و پلار چې دا حال وليد،
نو ويې پتېيله چې خپله لور د دوست محمد خان يوه بل تربره ته
ورکړي. دا خبره د دوست محمدخان لپاره د منلو وړ نه وه. خو څرګنده
نه ده چې ايا دی پخپل سپکاوي ناراضه و او که معراج بي بي
ورباندې ډېره ګرانه وه، خو د ځوانۍ جوش او د دوست محمد خان
کاواکه طبعيت اخر دې ته ورساوه چې خپل تربور يې ووژلو.

په دې کړنه نه يوازې د هغه د قام خلک پر ده په قهر شول، بلکې د
هغه خپله کورنۍ مور و پلار هم ناراضه شول او دوست محمد له قامه
وايستل شو. د ده لپاره بې له دې بله هېڅ چاره نه وه چې له خپل اخوره
(طبيلې) يو ښه اس واخلي او خپل ټاټوبی پرېږدي. ده ختيز لوري ته
مخه کړه او جلال اباد ته ولاړ.... (دا د ننګرهار جلال آباد نه بلکې د
ډيلي په شمال لوېديځ کې سل ميله لرې يو ښار دی.)

دی له تيرا نه د جلال آباد په لاره د پېښور، لاهور امرتسر او پنجاب
له ټولې ښېرازې مځکې تېر شو. د لارې په هر يو سرای کې به يې
پښتانه ليدل.او له دود سره سم به هغوی ورته غېږه خلاصه کړه. د
ډوډۍ، استوګنې او د وخت د حالاتو د خبرېدو لپاره څه مشکل نه و.
څو مياشتې وروسته له جلال آباد سره نژدې د لوهارې په سيمه کې د
سردارجلال خان مېلمه شو. دی هم اپرېدی و او د دوست محمد په
ليدو ډېر خوشاله شو. په خپل مېلمستون کې يې د هغه د استوګنې
بندوبست وکړ. سردارجلال خان په لوهارې کې د مغولو منصب دار و
او د ده نيکونو ته هلته ځمکې ورکړل شوې وې چې ورباندې دده خپل
ټبر ژوند کاوه. دوست محمد د سردارجلال خان د کورنۍ له ځوانانو
سره د اس ځغلولو، د غشي ويشتلو او غېږې اېستلو سيالۍ کولې.

په همدې وخت کې د هغه د سردارجلال خان په کور کې يوه ځوانه
خدمتګاره خوښه شوه. يوه ورځ چې سردارجلال خان په کور کې لويه
مېلمستيا کړې وه، د هغه د زوی او د دوست محمد خان تر منځ د
دغې نجلۍ پر سر خبرې ورانې شوې. د جلال خان زوی ورباندې د
غشي ګوزار وکړ، دوست محمد خان هم سمدلاسه خپل خنجر
راواخيست او د هغه پر وجود يې ومنډلو. د ځوان له مړينې سره هغه
ته اندازه وشوه چې دی له لوی خطر سره مخامخ شوی دی. د خپل
مربي زوی يې په لوی لاس ووژه. دا ډېره د شرم خبره وه او په پښتنو
کې د مرګ بدل مرګ وي. مخکې له دې چې د جلال خان خلک يې
ونيسي، ده هم هغه وخت راټوپ کړل. پر خپل اس سپور شو او له هغه
ځايه يې پښې سپکې کړې.

خو په دې تېښته کې هغه ټول وخت په دې وېره کې و چې د جلال
خان خلک ورپسې دي. دا سيمه د هغوی لپاره نوې نه وه. په هرکلي
کې هغوی خلک پېژندل. د دې سيمې د لوړو او ژورو نه هغوی خبر
وو او د دوست محمد خان لپاره د پټېدو ځای نه و. ده ته لاره هم
معلومه نه وه، خو دومره خبر و چې د ډيلي په جنوب ختيز کې ۱۰۰
ميله لرې و. لمر ته په کتو ده اندازه لګوله چې کومې خوا ته د اس مخ
وګرځوي. دی تر شپږ ساعته پورې په منډه و او اس يې د يوې شېبې
لپاره هم دمې ته نه ايله کاوه. نتيجه يې دا شوه چې په يوه ځای کې د
ده وفاداره اس راپرېوتو او ساه يې ورکړه. د دوست محمد لپاره دا
يو لوی ګوزار و. ده فکر وکړ چې خدای پاک ورته سزا ورکوي. خو
اوس دی بېرته نشو ګرځېدای. همدا و چې ده په پښو مزل پيل کړی.
ډيلي ته ۳۰ مېله لا پاتې وو چې دی د کرنال سيمې ته ورسېد. بېر سر
او لوږې تندې وهلی و. وچې شونډې او په بدحال دوست محمد په

دې سیمه کې یو نامعلومه شخص و... پلې مزل یوه ګټه دا ورته وکړه چې دی له خپلو پلټونکیو یو څه پټ شو چې په اس سپور د یوه لوړ دنګ پښتون په اړه یې له خلکو پوښتنې کولې. دوست محمد خان د خپل ژوند ځینې حالات په یوه کتابچه کې لیکلي دي چې روزنامچه نومېږي. دوست محمد په دې کې لیکي: ...له خپلو نالیدلیو دښمنانو نه په تېښته ما داسې فکر کاوه چې دوی راپسې دي، تر ډېرو ورځو مې هېڅ نه وو خوړلي، جېب مې تش و او د ژوند هېڅ هیله مې نه لرله... زه د یوه نانبایي تنور مخې ته ودرېدم... زړه کې مې راګرځېدل چې یو څو ډوډۍ او هګۍ وتښتوم، ځکه نور مې د لوږې توان نه درلود. (په هندوستان کې اوس هم د لارې پر سر ډوډۍ او هګۍ د مساپرانو لپاره ارزانه خواړه دي.). په دې حال کې یو زوړ سړی چې لویه سپینه ږیره یې لرله د دوست محمد څنګ ته ودرېد... ده ته ځیر شو او بیا یې ترې په ادبي فارسي پوښتنه وکړه: ''ته د تیرا دوست محمد نه یې؟''

دوست محمد ساه نیولی ودرېد. فکر یې وکړ چې اخر دښمن ورپسې راورسېد. په یوه شېبه کې د هغه د ژوند ښایسته مانۍ راونړېده... بله چاره یې نه لرله، دې سپین ږیري ته یې وویل: ''هو زه دوست محمد یم.''

سپین ږیري ورته وویل: ته ما نه پېژنې زویه... زه د کاشغر ملا جمالي یم او په تیرا کې مې درته د قران کریم درس درکاوه. هغه وخت ته وړوکی هلک وې. د دوست محمد د خپل استاد په لیدو ببرته د ژوند هیله راوټوکېده... له هغه سره یې روغبړ وکړ... او کله چې ملاجمالي پوښتنه ترې وکړه چې له تیرا څنګه راووتلې. نو دوست محمد خان په لنډو خپله کیسه ورته وکړه. ملا جمالي هغه وخت له

غوښتنو سره سم له خپلې سیمې هندوستان ته ورغلی و او په ډیلي کې یې یوه اسلامي مدرسه پرانستې وه... دی یې له ځانه سره خپل کورته بوتلو ډوډۍ یې ورله ورکړه او کله چې د هغه ساه صورت پر ځای شو، نو دوست محمد ورته خپل مشکل وویلو. دی نږدې یو کال د ملا جمالي په کور کې پاتې شو.

ملا جمالي د بدخشان اوسېدونکی و او په ډیلي کې د ده د مدرسې او دیني تعلیم له کبله ډېرو خلکو پېژندلو. هغه وخت مغول پاچا اورنګزېب د اتیا کالو و او زیاتره به د ملک په جنوب کې په جنګونو بوخت و. په جنوب کې د ده زامنو پخپلو کې نانډرۍ اېرۍ وهلې چې د پلار تر مړینې وروسته به یې څوک پر تخت کښېني. اورنګزېب ته وفاداره د ده والیان چې افغان، ترک، هند او د مرکزي اسیا اوسېدونکي وو د خپل قدرت د ساتلو لپاره ځان - ځان ته لګیا وو. مغول سلطنت په ټوټې کېدو و او هر چا غوښتل چې په راتلونکي کې د واکدارۍ لپاره سمه لاره غوره کړي. په دې وخت کې اروپايي ملکونو هم اندازه لګولې وه چې هند یو مهم ځای دی او د دوی له خوا هم تجارتي او سفارتي ډلې پرله پسې راروانې وې چې خپلې اغېزې قوي کړي. انګرېز خو د ایسټ انډیا کمپنۍ دفترونه په مدراس او بنګال کې ښه پاخه جوړکړي وو. د حیدرآباد او اودهه غوندې نوابیو کې یې پوځ هم ساتلی و. په دې وخت کې دوست محمد خان چې د تیرا غرونو کې یې ژوند کړی و، د هند د هغه وخت کلتور ته سترګې وازې نیولې وې. دغه وخت ډیلی د بېلا بېلو قامونو او کلتورونو په ورګډېدو ډېر پرمختللی ښار و. هر ډول هنرمندان، لیکوال، شاعران او عالمان دلته راټول وو، خو دوست محمد خان ددغه یوه کال په موده کې له ملا جمالي نه ډېره زده کړه وکړه. له ژبې پرته یې د

بېلابېلو مذهبونو کلتورونو او د دوی د اخلاقو مطالعه او مشاهده کوله او ځان به يې ورته برابرولو. دی به مشاعرو ته ورتللو، د لوبو او اس ځغاستې په سياليو کې به يې ونډه اخيستله او د نظام الدين په درګاه کې به يې قوالي اورېدله.

خو له دې هرڅه سره له هغه خپل هدف هېر نه وو... د مغول په پوځ کې نوکري اوس هم دده ارمان وو. ملا جمالي هڅه وکړه چې دوست محمد خان ديني زده کړو ته پام وکړي او د ده غوندي عالم شي، خو دوست محمد خان دا نه غوښتل، نو اخر ملا جمالي ورته يو اس او پېنځه اشرفۍ ورکړې چې ځان په مغول پوځ کې ورګډ کړي. هغه وخت د اورنګزېب د وسله تون مشر مير فضل الله و.

په ۱۷۰۴ کې دوست محمد خان خپل لومړي مسلکي جنګ ته حاضر شو. دا جنګ په ګواليار کې د بنديل کنډ سيمه کې و. ددې ځای والي تردي بېګ له پاچا بغاوت کړی و او هم د ده د مخنيوي لپاره د مغول پوځ ورواستول شو. دوست محمد په لومړۍ دسته کې شامل و، خو ډېر ژر مغول پوځ په ګونډو شو. د تردي بېګ قومندان کاشکوخان نومېده او سخت جنګيالی سړی و... دوست محمد خان د توري ګوزارونه وخوړل او ټپي هم شو، چې ويې ليدل د ده پوځ په بدحال کې دی، نو فيصله يې وکړه قومندان ته ځان ورسوي. ده خپله نېزه راواخيسته او په هغه هاتي يې يرغل وکړ چې کاشکوخان پرې سپور و، خو د هغه ساتونکيو او هاتيوان ورباندې ګوزارونه وکړل. دوست محمد خان په دې هم بې حوصلې نه شو او خپلې حملې يې جاري وساتلې. دی په خپلې روزنامچې کې کاږي:

يو وخت هاتي دی په خپل خړتم کې ونيولو خو ده ترې ځان خلاص کړ او د خړتم په مټ لوړ وروخوت او په يو ګوزار يې کاشکوخان ووژلو.

د قومندان په وژنه د تردي بېګ پوځ وارخطا شو او د مغول پوځ ماتې په بري واوښته. اورنګزېب ته خبر ورکړی شو او ورسره د دوست محمد خان د مېړانې کيسه هم ډيلي ته ورسېده. ميرفضل الله هغه خپل دربار ته وروغوښت او تابيا يې وکړه چې اورنګزېب يې ووينې.

په ۱۷۰۵ کې اورنګزېب ۲۱ کاله د مرهټه وو سره له جنګونو وروسته بېرته ډيلي ته راغلی. دوست محمد خان اوس د ۳۳ کالو و... دی په خپله روزنامچه کې کاږي:

يوه ورځ دده لښکر د مغول باچا د معاينې لپاره اورنګ آباد ته وروغوښتل شو. دی ليکي که څه هم اورنګزېب پاچا ډېر زوړ او ستړی ښکارېده، ولې دده شخصيت داسې و، چې دی پرې اغېزمن شو. اورنګزېب پر ټولو عسکرو او د دوی پر قومندانانو يو ځغلنده نظر واچاوه او بيا يې سترګې پر دوست محمد خان ابساري شوې. پر ده يې غږ وکړ: "اې ځوان روهيله راوړاندې شه او ما ته ځان حاضر کړه".

بيا ده فضل الله ته مخ ورواړاوه او ورته ويې ويل چې دا ځوان ښکلی، قوي او د اوچتې کورنۍ ښکاري. د دې خبرې تابيا يې وکړه چې دی ونازوي او د يوه ستر لښکر قومنداني ورته وسپاري. بيا پاچا دوه موټې اشرفۍ راواخيستې او د دوست محمد خان په لاس کې يې ورکړې. دوست محمدليکي چې د پاچا په مهربانۍ دی ډېر تر اغېز لاندې راغی او ورته ځرګنده يې کړه چې دی به ورته پتمن وي. اورنګزېب پاچا له دې پېښې څه موده وروسته مړ شو او داورنګزېب زامنو (اعظم شاه او بهادرشاه) ترمنځ د تخت پر سر جګړه پيل شوه. دواړو دوست محمد خان ته پيغامونه ورواستول چې د دوی په ملاتړ دې ودرېږي. خو دوست محمد خان ورته ځواب ورکړ چې ما ستاسو له

پلار سره د پت قسم خوړلی و او نشم کولای چې د هغه د یوه زوی پرضد ودرېږم. دی هغه مهال په مالوه کې د پوځ قوماندان و. هرې خوا ته راجواړې جوړې شوې او د حکومت پوځ په څو برخو وېشل شوی و. په داسې حال کې له دوست محمدخان سره یوازې ۵۰ تنه پښتانه پاتې شول. د ځان ځانۍ په دې دور کې دوست محمدخان له خپلو ملګریو سره کله د یوه راجه او کله د بل نواب د واک ساتنې لپاره د هغوی په بلنه جنګ کاوه. دوی لکه د کرایې د ساتندویانو ډېرې جګړې وکړې او په بدل کې به دې نوابانو او راجه ګانو ښې ډېرې پیسې ورکولې.

د اورنګزېب له مړینې یو کال وروسته دوست محمد خان په مالوه کې ټولو خلکو پېژندلو. په دې وخت کې منګل ګړ راجپوت راجه انند سنګ چې د خپلو ګاونډیو راجه ګانو نه په وېره کې و دوست محمد ته یې د ساتندوی په توګه نوکري ورکړه. لږه موده تېره شوه چې راجه مړ شو. خو د هغه مور دوست محمدخان ته خواست وکړ چې د دوی د ساتنې لپاره دې ایسار شي.

په ۱۷۰۸ م کال کې رانۍ دوست محمدخان د ټولې راجواړې مختار وټاکلو چې دی به د رانۍ او د منګل ګړ د ریاست ساتنه کوي. په دې وخت کې دوست محمدخان د راجه د کورنۍ له یوې راجپوتې نجلۍ سره واده وکړ. هغه مسلمانه شوه او نوم یې فتح بي بي شو. دوست محمد نور ودونه هم کړي وو، خو فتح بي بي ورته ډېره ګرانه وه. دې مېرمنې له خپل ځان سره ډېره شتمني د دوست محمد خان کور ته یووړه. فتح بي بي د بهوپال د مسلمان نوابۍ لومړۍ مېرمنه وه چې د حکومت په چارو کې یې مهم رول درلود. خو عجیبه خبره دا ده چې د نوابۍ تاریخ لیکونکیو د فتح بي بي په اړه هیڅ نه دي لیکلي.

نور هغه خلک چې مسلمانان نه وو او د نوابې کورنۍ سره وو د هغوی په اړه هم څه نه دي لیکل شوي. په تېره هغه ځینې چې د ودونو له لارې یې کورنۍ ته ورداخل شوي وو له پامه غورزول شوي دي. په داسې تاریخونو کې د میراث او د وارثانو ذکر ښه په تفصیل شوی دی.

فتح بي بي یو عامه ښځه نه وه. دا هوښیاره، په زړه پورې او له ژونده ډکه وه. له دوست محمد سره به هر ځای پر اس سوره وه. هغه که به جګړه وه او یا هم په سیل وتل او ښکار کول وو.

دوست محمد به پرې ډېر باور او اعتماد کاوه په راتلونکو څو کلونو کې له ده نه منګل ګړ پاتې شو او له هغه ځایه یې شاوخوا سیمو ته پوځ کشي کوله. خو ډېر ژر یې فیصله وکړه چې د ځان ځانۍ په دې دوره کې به دی د نورو لپاره تل جګړه نه کوي او ده ته د پښو لګولو یو ځای پکار وو. ده له بهوپاله ۲۲ کلومیټره لرې شمال لور ته د بیراسیه نومي ځای د مغولو له یوه نوابه په اجاره واخیست، چې کلنۍ اجاره یې ۳۰زره روپۍ وه.

دوست محمد دلته یوه وړوکې غونډې نوابي جوړه کړه. یو جومات او یوه کلا یې په کې جوړه کړه او د انتظام لپاره یې خپل بااعتباره افغانان په کې مقرر کړل. خو د ګجرات په یوه معرکه کې دی د خپلو پوځیانو له خوا مرهټه سردار ته وسپارل شو او هغه بندي کړ. فتح بي بي د هغه د راخوشي کولو لپاره ډېرې روپۍ مرهټه سردار ته ورکړې او دی یې راخوشی کړ، چې د سازشونو په دې دوره کې هغه په هېچا هم باور نه کاوه او غوښتل یې چې خپل خپلوان له تیرا راوغواړي.

په ۱۷۱۲ م کې دوست محمد خان د خپل ټبر پنځوس کسان له تیرا نه راوبلل. په دې ډله کې دده پلار پنځه ورونه او معراج بي بي چې

اوس دده مېرمنه وه شامل وو. دا څرګنده نه ده چې هغه څنګه او څه وخت دوست محمد ته واده شوې وه. دا د بهوپال لومړې مېشت پښتانه وو. او په بېراسیه کې یې ځانونو ته استوګن ځایونه جوړ کړل. د دوی کورونه د ختو وو او په نږدې ځنګل کې د یو بوټي چې ''برو'' نومېدو څانګې به یې پرېکولې او د چت لپاره به یې کارول. ځايي خلکو به ورته بروکټ پټهان ویل. دوست محمد تر دې دمه له فتح بي بي سره په منګل ګړ کې اوسېدو. خو د هغه لومړۍ مېرمنه معراج بي بي د دوست محمد له نور تېر سره په بېراسیه کې اوسېدله. د منګل رانۍ چې دوست محمد یې خپل زوی کړی و، د هغې څوک وارث پاتې نه و، نو د منګل ګړ ټوله خزانه او شتمني د دوست محمد لاس ته ولوېده. دوست محمد نه یوازې په جنګونو کې د مېړنتوب له امله بلکې پخپلې بې رحمۍ د شاوخوا زمیندارانو او د وړو پرګنو مشرانو په زړونو کې ویره اچولې وه. او هغه څوک چې د دوی په مقابله کې به یې ځان کمزوری ګڼو، ده ته یې سر ټیټ کړ. په دې وخت کې دوراها، سي هور، اچاور، اشتا او د شجال پور سیمې دده په کنټرول کې راغلې. د ځینو سیمو د رانیولو لپاره په جنګونو کې د ده دوه ورونه هم ووژل شول.

په ۱۷۱۵ کې د ده پلار نورمحمد خان مړ شو. دوست محمد د سیمې د هندوانو او په تېره بیا د راجپوت قام سره خپل اړیکي هوار ساتل او له ځینو سره یې ملګرتیا هم کوله. د اوسني بهوپال حیثیت هغه وخت د یوه کلي وو او دا د ګېنور یوه برخه وه. د ګېنور شاوخوا هغه وخت د هندوانو دوه قامونه اوسېدل یو ګونډ او بل بهیل نومېده. دوی قبیلوي ژوند کاوه. په وړو وړو ډلو ویشلي او خپل مشر یې لرلو. په دوی کې تر ټولو زورور د نظام شاه په نوم واکمن و. ده ډېرې

ښځې لرلې خو کملاپتي یې د خپل وخت یوه ډېره ښایسته، هوښیاره او ځیرکه ښځه وه. ځايي خلکو به په سندرو او متلونو کې ستایله. د عالم شاه په نوم د نظام شاه یو تربور د چین پور بارا د سیمې راجه وو. یا خو په کملاپتي مین وو او یا یې د ګېنور واکمني غوښتله نو یوه ورځ یې نظام شاه ته په ډوډۍ کې زهر ورکړو. د هغه له مړینې وروسته ده پر کملاپتي زور راوړ چې ورسره واده وکړي. د هغې لپاره یوازینۍ لاره چې د خپل خاوند د مړینې بدل هم واخلي او د عالم شاه له خطره ځان هم خلاص کړي، یو زورور سړی پیدا کول و او په دې سیمه کې له وړاندې د دوست محمد د مېړانې او د هغه د چلند نغاره غږېده. د راکهي د لمانځلو پر وخت کملاپتي د دوست محمد خان پر مړوند راکهي وتړله او دی یې ورور کړ. د هندوانو د راجپوت قام په دې لمانځلو کې خویندې د خپلو وروڼو پر ښي مړوند یو زرین تار تړي، خوارېه ورله ورکوي. ورور پر دې موقع پیسې یا تحفه د هغې په لاس اېږدي. دا رسم د ورور او خور د یوه ابدي تړون نښه ګڼلی شي. کله کله به مېرمنو د خپل ناموس د ساتنې لپاره پردي سړي ته هم راکهي تړله.

کونډې کملاپتي په ډېره هوښیارۍ له دوست محمد خان دا ژمنه واخیسته چې د ورور په حثیت به د هغې د ناموس ساتنه کوي او د هغې د خاوند قاتل به هم وژني. دده په بدل کې رانۍ ورله د یو لکو روپیو د ورکولو لوظ وکړ. دوست محمد خان له ژمنې سره سم عالم شاه ووژلو. خو کملاپتي یو لک روپۍ نه لرلې. هغې ورله پنځوس زره روپۍ پوره کړې او د نورو په بدل کې یې د بهوپال کلی وروسپارلو.

دا د دوست محمد د نوابۍ د پلازمېنې لومړی بنسټ و. کملاپتي ۱۰ کاله ښه په ارام ژوند وکړ، کله چې هغه په ۱۷۷۳م کال کې مړه

شوه، نو دوست محمد خان دا کلا او د دې ټوله شتمني تر خپل لاس لاندې راوستله. په دې وخت کې د کملاپتي زوی نوال شاه وسله پورته کړه او له دوست محمد سره په جنګ شو. خو د دوست محمد د ځواکونو له خوا ووژل شو.

اوس چې دوست محمد ته پراخه سیمه پیدا شوه نو هغه خپلې پښې ټینګې کړې او د یوه خپلواک حکمران په توګه د بهوپال او شاوخوا سیمو واکمن شو. په دغو شپو ورځو کې د مغول دربار او مرهټه وو تر منځ د واک پر سر جنګ روان و. نو دوست محمد خان په داسې حال کې یو خوا مغول دربار ته سوغاتونه واستول او هغوی ته یې خپله وفاداري څرګنده کړه، نو بل لور یې د مرهټه واکدار ته مالیه (چوت) چې د حاصل څلورمه برخه کېده ورکوله. خو مرهټه وو ته یې مالیه په دې شرط ورکوله چې هغوی به دده چارو کې لاسوهنه نه کوي.

اسلام نګر

په ۱۷۲۰ م کې بهوپال د یوه کلي غوندي و او دې کې تقریبا زرو کسانو ژوند کاوه، خو دوست محمد په اسلام نګر کې اوسېده. ددې له لرغوني مانۍ سره جوخت هغه ځان له یوه مانۍ جوړه کړې وه، چې تر اوسه پاتې ده. بهوپال له دې ځایه ۱۵ میله جنوب ته دی.

د مرهټو او راجپوت سره په جنګ کې دوست محمد خان هېڅ ډول اصول نه منل.د اتلسمي پېړۍ په سر کې د هندوانو پر خاوره داسې ځان ځاني وه چې مسلمانان تر خپلو مینځو او هندوان تر خپلو مینځو په جنګ اخته وو. له ۱۷۱۲م کال نه تر ۱۷۱۵م پورې دوست محمد د بهوپال شاوخوا څو ځلې د راجپوتو سره وجنګېدو. په پراسون نومي ځای کې دا جنګ څو ورځې روان و. په دې کې د هولي ورځې

شوې. دا هغه لمانځنې دي چې راجپوت هندوان پر یوه بل رنګ پاشي او د یوه بل کورونو ته ورځي. د راجپوتو مشر دوست محمد ته پیغام ورواستوو چې د دوی د مذهبي لمانځنو په ویاړ دې څو ورځې جنګ بندي وکړي. دوست محمد ورسره دا خبره ومنله. خو دی پوهېدو چې د هولي په ورځو کې راجپوت نه یوازې لمانځنې کوي. دوی بنګ هم څښي او خپله وسله یې ایښې وي. یوه شپه دوست محمد خپل یو جاسوس د ګداګر په لباس کې د راجپوت پوځي کېمپ ته ورواستوو، چې حال راوړي. هغه خبر راوړو چې راجپوت نشه دي. دوست محمد هم نور انتظار ونه باسلو او هم هغه شپه یې ورباندې چپاو وکړ او جنګ یې وګټلو. د بېراسیه نه شل کیلو میټره لرې د جګدېش پور کلي و او د یو بل راجپوت ډلې مشر نارا سنګ راوچوهان دوست ته د خبرو اترو پیغام ورواستوو چې د سولې تړون ورسره وکړي. دوست دا وړاندیز ومنلو او له دواړو غاړو د ۱۲ کسانو په بدرګه دوست او چوهان په جګدېش پور کې د تهال سیند په غاړه له یوه بل سره د لیدو فیصله وکړه. د روغې جوړې لپاره ددې غونډې کوربه دوست محمد و او په خپلې خېمې کې یې د ډوډۍ بندوبست ورته کړی و. له ډوډۍ وروسته دوی له کېږدیو بهر راوتل او د هغه وخت له دود سره سم یې خپلو مېلمنو ته پان او عطر وړاندې کړل. دوست محمد خپل عسکر نژدې د ونو شا ته پټ درولي وو او د هغه په اشاره یې د تمبوانو مراندې پرې کړې او د راجپوت ټول کسان یې ووژل. دا وژنې دومره په وحشت شوې وې چې د نږدې وروکي سیند اوبه د راجپوتو په وینو سرې شوې او وروسته د تهال پر ځای دا سیند د هلالي په نامه ونومول شو.

دوست محمد خان وروسته جګدېش پور د اسلام نګر په نامه واړولو.او ډېر ژر یې پکې یوه قلعه جوړه کړه. دا دبهوپال سلطنت

لومړۍ پلازمېنه وه او دغسې په ۱۷۲۳ م کې دوست محمد شپاړلس کاله وروسته د يوه ايله جاري او جنګيالي پرځای د يوه حکمران په توګه رااوچت شو.

په دې وخت کې د ده وفاداره فتح بي بي ورسره وه. ددې نوابۍ د انتظام کار پيل شو. د وخت رواج سره سم ټولې ليکنې به په فارسي ژبه کې کېدلې او له مغول درباره يې ځان ته د نواب نوم (خطاب) هم واخيست. په ۱۷۱۷ م کال کې هغه د نواب دلېر جنګ نوم ځان ته ګټلی و. خو لکه چې د پښتنو دود و دوست محمد چېرې هم د پلار او د مشر ورو په موجودګۍ کې دا نوم ځان ته کله هم نه کارولو. خو اخر د ورونو په ټينګار يې دا خطاب ځان ته غوره کړ.

يو ورځ فتح بي بي او دوست محمد خان د ښکار لپاره ځنګله ته ورغلي وو. څو ساعته په ګرمۍ کې د اس له ځغاستې ستړي شول او د بهوپال له سيند سره نږدې يې د ونو سيوری ومونده او د دمې لپاره هلته ايسار شول. د دې ځای خاموشي کې دواړو ارام کاوه او د دوست محمد سترګې سره ورغلې، په خوب کې ګوري يو بزرګ ورته وايي په دې ځای به يوه کلا جوړوي. دی چې راپاڅېدو نو فتح بي بي ته يې خپل خوب بيان کړ، هغې سوګند ترې واخيست چې هرومرو به پر دې ځای کلا جوړوي.

دا د فتح ګړ د کلا بنا وه.د دې کلا لومړۍ تيږه د رای سين قاضي محمد معظم کېښوده چې وروسته د بهوپال مشر قاضي هم شو. دوست محمد، فتح بي بي او د بروکټ پښتنو پخپلو لاسونو دا کلا جوړه کړه او د بهوپال پخوانۍ کلايې ورسره يو ځای کړه . په دې کې شپږ دروازې وې چې د شپږو ورځو په نومونو وې. او هم په دې کلا کې د بهوپال لومړۍ جومات چې د دوه نيمو پوړو جومات يې ورته

وايه جوړکړل شو. (اوس د دوست محمد او فتح بي بي قبرونه څنګ په څنګ د بهوپال په فتح ګړ کلا کې جوړ دي).

د دوست محمد لومړی ديوان يانې مشر وزير بيجې رام- د شجال پور يو هندو مشر و . په داسې وخت کې چې نظام د حيدرآباد او مرهټه يوې خوا ته او مغول بلې خوا ته په خپلو کې سره په جنګ وو، نو دوست محمد ته د خپلې نوابۍ ساتل ګران کار وو. له عسکري پلوه مغول کمزوري وو. نظام او مرهټه دواړو د هند جنوب نيولی و او د مغول واک يې نه منلو. خو دوست محمد د کمزوري مغول واکدارانو مله کوله. په ۱۷۲۰ کې د نظام او مرهټه ګډ ځواکونه د بهوپال له لارې دکن ته تېرېده چې د دوست محمد ورور ميراحمد له خپل ځواک سره په دې لښکر حمله وکړه. خو ماتې يې وخوړله او خپله هم ووژل شو. په داسې حال کې نظام د دوست محمد سخت مخالف شو. په ۱۷۲۳ م کال کې له دوست محمد سره لس زره عسکر وو او د مرکزي هند يوه لويه برخه دده په نوابۍ کې شامله وه. خو له دې وخته بيا د هغه تر مرګه يانې تر ۱۷۲۸ م کال پورې دده مشکلات هم مخ په زياتېدو شول. په ۱۷۲۴ م کې نظام مغول ځواک ته سخت ګوزار ورکړلو، وروسته يې بهوپال ته مخه کړه چې له دوست محمد سره حساب برابر کړي. دوست محمد ورسره جنګ ونه کړ او د لنډې محاصرې نه وروسته يې يوه لوظنامه ورسره وکړه. ددې لوزنامې ترمخه ده خپل ۱۴ کلن زوی يارمحمد خان نظام ته د يرغمل په توګه وسپارلو او دوست محمد د نظام له خوا د اسلام نګر کلا دار وټاکل شو.

دا هر څه ښايي دوست محمد ډېر ځيرک شوی و او د نظام له ځواک سره د ډغرې وهلو پر ځای يې چې نتيجه به يې د دواړو کمزوري او د

مرهټه پیاوړتوب و. ده د سولې لاره غوره کړه. د ده تر واک لاندې اوس اوه زره کیلومیټره مربع ځمکه وه چې د اوسني اسرایل هومره ملک ترې جوړېږي.

په دې وروستیو څو کلونو کې دوست محمد زیات شمېر روڼ اندي، استادان، ارټستان او عالمان بهوپال ته وربلل. د برو کټې پښتنو پرته دلته یوسفزي فیروزخېل او روهیله پښتانه په زیات شمېر کې مېشته شول چې خپل پښتني کلتور یې له ځانه سره راوړو.
د هند د نورو مسلمانانو لپاره هم هغه وخت بهوپال یو د امن ځای و.
هم په دې وروستیو کلونو کې د فتح بي بي له مرګه وروسته دوست محمد صوفي لاره خپله کړه.

دی په ۱۷۲۸م کې د **۵۲** کلونو په عمر کې مړ شو. ده له بېلا بېلو ښځو شپږ زامن یارمحمد، سلطان محمد، صدرمحمد، فاضل محمد، واصل محمد، خان بهادر او پنځه لوڼه درلودې.

د هغه پر وجود تر **۳۰** ډېر ټپونه وو چې دده د جنګونو د مېړنتوب نښې وې.

د معراج بي بي څلور اولادونه وو، خو یارمحمد د هغې زوی نه و.
فتح بي بي اولاد نه درلود. او هغې یو ماشوم په غېږ اخیستی و چې ابراهیم نومېده. دوست محمد د کنور سردار بابي سره هم واده کړی و چې د راجپوت انند سنګ لور وه او یو څو اولادونه یې لرل.

یوه هندوانۍ ښځه تر یوه بریالیتوب وروسته په انعام کې ورله ورکړل شوې وه چې نوم یې جای کنور و او د مسلمانېدو وروسته یې ورته تاج بي بي وویل. ددې درې اولادونه وو.

دا څرګنده نه ده چې د هغه ځای ناستي یارمحمد چې وروسته د بهوپال دویم نواب شو، د دوست محمد د کومې ښځې زوی و. ځینې

اندازې داسې دي چې کېدای شي دی د یوې مسلمانې ښځې زوی وي چې له معراج بي بي نه وروسته دوست محمد کړې وه.

په دې کې شک نشته چې دوست محمد د پخې ارادې خاوند و، ګڼې په داسې یوه سیمه کې چې ۹۰فیصده هندوان وي او خواو شا له هر لوري په دښمنانو کې راګېر وي د یوې مسلمانې نوابۍ جوړول اسان کار نه وو. هغه له فتح بي بي سره دومره مینه لرله چې د بهوپال سرکاري بېرغ تر اوسه فتح نشان نومېږي.

***

دویم څپرکی

بهوپال په اتلسمه پېړۍ کې

کله چې دوست محمد خان د مالوی په پراخه سیمه کې ځان ته د یو ملک د جوړولو هلې ځلې کولې. د ډیلي د تخت لپاره د مغول پاچا اورنګزېب د لمسو تر مینځ د واک لپاره سازشونه روان وو. یو پسې به بل شهزاده پر شاهي تخت کښېناستو. او بیا به یا په جنګ کې او یا د سازش له لارې ووژل شو. په حیدرآباد کې د مسلمانانو تر ټولو لوی ریاست مشر نظام له مرهټو سره په جنګ و. او یو وخت د دوی لښکرې د دوست محمد لپاره هم خطر راودروو. دوست محمد په دې حال کې له هوښیارۍ کار واخیستو او له نظام سره یې د سولې تړون وکړو. ددې تړون له مخې ده نظام ته لس لکه روپۍ باج یو فیل او خپل ۱۴ کلن زوی یارمحمد د یرغمل په توګه وروسپارل. یارمحمد په حیدراباد کې څلورکاله تېر کړل. له ده سره د بهوپال درې عالمان ورلېږل شوي وو. خو د حیدرآباد په دربار کې د یارمحمد ښه روزنه وشوه. هغه اردو او فارسي ژبې زده کړې. د نورو شهزادګانو غوندې یې د اس سپرلي، د تورې او سیاست تعلیم وکړو.د دوست محمد د مړینې پر وخت حیدرآباد بهوپال د خپلو وزرو لاندې نیولی وو.او دې ریاست ته یې د ملګري په سترګه کتل. نظام سمدلاسه د ۴۰۰ پوځیانو په بدرګه یارمحمد لکه د یوځای ناستي نواب بېرته بهوپال ته ورولېږلو. ده ته یې د نواب او امیر خطاب ورکړو اوله شاهي بېرغ او پوځي درناوي سره د یارمحمد فیل د بهوپال خاورې ته ورداخل شو. خو دلته له وړاندې د دوست محمد خان ژوندی ورور عاقل محمد خان د یارمحمد اته کلن مېرنی ورور د سلطان محمد خان نوابي اعلان کړې وه. ددې فیصلې تر شا د بروکټ پښتنو د ځنیو مشرانو غږ هم ورګډ وو.

د دوست محمد دیوان (مشر وزیر) بیجي رام د یارمحمد په پلوي د سلطان محمد د نوابۍ دعوا ردکړه. ځکه یو خو دی ماشوم وو او بل د سیاست تجربه یې نه لرله. د سلطان محمد مور ته د جاګیر پېشکش وشو. او هغې د خپل زوی له حق نه لاس واخیستو. دغسې په ۱۷۲۸ م د اګست پر ۳۰ نېټه یارمحمد د بهوپال د دویم نواب په توګه خپله دنده په غاړه واخیسته.

په کور دننه پښتنو هغه د دوست محمد د مشر زوی په حیث نواب ومنلو خو د مرهټو خطر هم هغسې موجود وو چې اوس د مالوی د کنټرول لپاره یې چریکي حملې کولې. یارمحمد له مرهټو سره همدغسې په یوه جنګ کې له نورو بندیانو سره یوه ښکلې راجپوت نجلۍ هم شامله وه چې ماموله بايي نومېده. یارمحمد له وړاندې نورې ښځې لرلې. خو د خپل پلار په پل یې پل کېښود او له ماموله بايي سره یې واده وکړو. په راتلونکو کلونو کې دې مېرمنې د بهوپال سیاست کې لوی اغېز وکړو. خو دا په خپله بې اولاده مړه شوه. د یارمحمد مشر زوی فیض محمد په ۱۷۳۱ م کې وزیږېد. دده څلور نور زامن حیات محمد، سعید محمد، حسین محمد او یاسین محمد له بېلا بېلو مېرمنو نه وزیږېدل.

خو ماموله بايي د بهوپال په سیاسي چارو کې یو فعاله رول پیدا کړ، دې خپل نوم نه و اړولی خو مسلمانه شوې وه. او په بهوپال کې یې درې جوماتونه جوړ کړل.

د حیدراباد د نظام او د مرهټو ترمینځ روانې شخړې نه یارمحمد هم ګټه واخیسته او ځینې هغه کلي چې مرهټو نیولي وو بېرته یې ترې واخیستل.

د حیدرآباد نظام بهوپال خپله طرفداره سیمه ګڼله. او له مرهټو سره چې یې جنګ وبایيللو ددې سیمې اختیار یې د دوی مشر پېشوا باجي راو ته وسپارلو. یارمحمد اوس مجبوره شو چې مرهټو ته باج ورکړي. د بروکټې پښتانه په دې حالت خوشاله نه وو. او نږدې وه چې مرهټو بهوپال نیولی وای، چې په ۱۷۳۹ کې د ایران نادرشاه افشار پر هند حمله وکړه. او په یوه ورځ کې یې د ډیلي ۲۰ زره کسان ووژل. مرهټه په دې حالت وېرېدل او فکر یې وکړو چې که نادرشا جنوب لوري ته خپلې حملې جاري وساتلې نو ډېر ژر به د دوی سیمه هم ونیسي. د یارمحمد لپاره د دوی حمله یوه خدایي مرسته وه. په ۱۷۴۰ م کال پېشوا باجي راو مړ شو او دده زوی دویم بالاجي د جنګ پر ځای د سیاست لاره غوره کړه. او د یوه تړون له لارې او د باج په بدل کې یې په بهوپال کې د یارمحمد نوابي په رسمي توګه ومنله. خو لږه موده وروسته د مرهټو نوي مشران یو واري بیا د خپلو مځکو او کلیو د بېرته نیولو په هڅه کې شول.

د یارمحمد د ۱۴ کالو په نوابۍ بهوپال یوڅه آرامي ولیده خو د مځکې ډېره برخه او پیسې یې ورو ورو مرهټو ته ورکول. دی د ۳۲ کالو په عمر مړ شواو د اورکزیو په کورنۍ کې د نوابۍ دعوې داران بیا راپورته شول. د یارمحمد مېرنې ورور سلطان محمد خان دویم واري هڅه وکړه. ده له خپل ورور صدرمحمد سره یو ځای د فتح ګړ کلا ونیوله او د نورو پر ضد یې له مرهټو مرسته وغوښته او ورته یې د بهوپال له پنځو کلاګانو نه د یوې د ورکولو لوظ وکړ.

په دې موقع د یارمحمد کونډې ماموله بايي د اسلام نګر په کلا کې ددې بغاوت مخه ونیوله او ټولو ته یې دروغې جوړې لاره وښودله. د یارمحمد مشر زوی فیض محمد د ۱۱ کالو و. دی یې د

یارمحمد ځای ناستی اعلان کړ. او د دوست محمد د وفاداره بیجي رام په مرسته یې د بهوپال عام ولس ځان سره کړو چې فیض محمد د نواب په توګه ومني. بیجي رام پنځه زره پوځیان راټول کړل او د عیدګاه په غونډۍ یې د سلطان محمد خان پر ضد مور چې ونیولې. په دې وخت کې مرهټو هم له سلطان سره غداري وکړه او دی یې په میدان پرېښود. سلطان ماتې وخوړه او له ماموله بایي نه د ښښنې غوښتونکی شو.

۲۷ کلنې ماموله بایي له دوی سره په دې شرط روغه وکړه چې دوی به تر عمره د نوابۍ د عوا نه کوي او پاتې ژوند به په کوروایي کې تېروي. فیض محمد خان د ماموله بایي تر څارنې لاندې لوېدو. دی د یو مذهبي او صوفي ځوان په حیث رالوی شو. او څومره چې وخت تېرېدو له قدرت او د نیاوي کارونو نه یې زړه توربدو. ډېر ژر د شاوخوا سیمو خلک دده د دیني زده کړو او د نرم طبعیت له کبله دده زیارت ته راتلل.

په بهوپال کې اوس هم د فیض محمد عرس هندوان او مسلمانان دواړه لمانځي. په دې وخت کې عملا ماموله بایي د بهوپال واکمنه وه.او د مرهټو او راجپوتو علاوه ګاونډیو ریاستونو سره ټول سیاست ددې په لاس کې و. خو په دې وخت کې د یارمحمد ورور فاضل محمدخان له مرهټو سره پټې معاملې کولې.او دا هیله یې وه چې دوی به یې د بهوپال نواب وټاکي. خوداسې ونشوه. ماموله بایي د مرهټو په مرسته د رای سین هغه مشهوره کلا محاصره کړه، چې یو وارې دوست محمد نیولې وه، د هغه تر مړینې وروسته بیا د مغولو په لاس کې وه. په ۱۷۵۰ م کې په ډیلي کې مغول واکمن دویم عالمګیر وو، خو د هندوستان په پراخه خاوره اوس مغول، نظام او

راجپوت خت په دې وخت کې هندوستان کې دوه نور قوتونه ډېر په چټکۍ ددې خاورې په پوځي او سیاسي ډګر کې په برلاسي کېدو وو، یو انګرېز او دویم مرهټه. خو هم په دې وخت کې د هند شمالي برخه د یوه بل قدرت د حملو لاندې وه. دا قدرت د احمدشاه ابدالي و. انګرېز تر دا دمه د هند ټول ساحلي ښارونه لکه کلکته او سورت کې ځان ته چاونۍ جوړې کړې وې.خو مرهټه لکه د سیلۍ هرې خوا ته ورتلل او د مسلمانانو ښارونه یې ورانول. په دې وخت کې دوی ته احمدشاه ابدالي د خدای له طرفه یوه مرسته ښکاره شوه. د جنورۍ په میاشت ۱۷۶۱م کې د پنجاب د پاني پت په میدان کې چې د احمدشاه ځواکونو مرهټه وو ته ماتې ورکړه، نو د بهوپال خلکو دا د فیض محمد د نېکۍ او د هغه د دعاګانو ثمر وګڼلو. د هغه لپاره د بهوپال د عام ولس په زړونو کې نور هم قدر زیات شو.

په راتلونکو ۳۵ کالو کې فیض محمد د بهوپال واکمن و، خو عملا حکومت د ماموله بایي او بیجي رام په لاس کې و.

په ۱۷۶۶ م کې د وفاداره بیجي رام د مړینې سره د پښتنو لخوا یو واري بیا د سازش ورونه پرانستل شول.د بیجي رام زوی ګهانسي رام دیوان مقرر شو. خودی د خپل پلار په شان ایمانداره نه وو او د هندو او مسلمان ترمنځ د کرکې او بې اعتبارۍ خبره یې په ډاګه کوله. په دې چلن هغه د یو پښتون له خوا ووژل شو. دده پر ځای یو مسلمان پښتون عزت خان دیوان وګومارل شو. خو ده له زهر ورکړې شو. دربیم دیوان کیساري لال وو چې دده کور یو پښتون په بارودو والوزو. بهوپال اوس یو ډېر سخت دور کې ورداخل شو. اخر د شخړې دختمولو لپاره ماموله بایي د فیض محمد کشر ورور یاسین ته د دیوان دنده ورکړه. چې د ریاست انتظام دې په کورنۍ کې دننه پاتې

شي. د مرهټو نوميالي مشران څه د پاني پت په ميدان کې او څه وروسته مړه شوي وو. د بهوپال په ګاونډ کې د هولکر راجه ملهار راو چې مړ شو نو د هغه کونډې اهليه بايي له دې مېرمنې سره ښه اړيکي وساتل او څه موده د بهوپال شاوخوا سيمې آرامې شوې.

په ۱۷۷۵ م کال کې مرهټه رياستونه د ډيلي د واک د نيولو پر ځای خپلو رياستونو ته پام وګرځوو. ګواليار، اينډور، بړوده او ناګ پور خپلې واکمنۍ ټينګې کړې. خو په دوی کې د هر چا نظر په مالوه و. په ۱۷۷۶م کال کې مهاجي راو سينډهيا د مالوی د نيولو لپاره بهوپال ته لښکر يوووړ.

ماموله بايي په دې وخت کې د جنګ پر ځای ورسره روغه وکړه او د پنځو ولسواليو سره يې د مالوی د هوشنګ آباد لرغوني کلا ورته وسپارله.

په ۱۷۷۷م کې د ډسمبر پردولسمه نېټه د بهوپال صوفي نواب فيض محمدخان د ۴۲ کالو په عمر کې له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې.

دی د خپلې ۳۵ کلنې نوابۍ دور کې يو واري د بهوپال نه بهر تللی وو. ده اولاد نه لرلو او دده کونډې صالحه بېګم چې د بهو بېګم په نوم پېژندل کېده د ماموله بايي سره د واک پر سر شخړه راپورته کړه.

د فيض محمد څلوېښتې لا نه وه شوې چې ماموله بايي د يارمحمد بل زوی د څلورم نواب په توګه اعلان کړو. دی هغه وخت د ۴۳ کالو وو او زيات وخت يې په ښکار او ميلو کې تېروو. خو صالحه بېګم په دې فيصله خوشاله نه وه او د دوست محمد د کورنۍ نور غړي يې راولمسول چې د ماموله بايي مخه ونيسي. اصلي کيسه داسې وه چې ماموله بايي کله د يارمحمد سره ژوند پيل کړو او څه موده ددې اولاد

و نشو نو هغې څلور هندو هلکان په فرزندۍ واخيستل. دوی يې مسلمانان کړل او د خپلو اولادونو په شان يې د دوی روزنه وکړه. په دوی کې يو ماشوم د هندوانو د لوړې طبقې برهمن و او چهوټې خان په نوم وپېژندل شول نو ماموله بايي چهوټې خان هم د ديوان په توګه وروړاندې کړو. صالحه بېګم په دې خبره خوشاله نه وه او ماموله بېګم يې تورنه کړه چې د خپلو هندوانو لپاره د نوابۍ لاره پرانېزي.

صالحه بېګم د فاضل محمدخان لور وه چې د خپل وراره فيض محمد پر ضد يې د مرهټو پېشوا سره په بهوپال د حملې سازش کړی و. وروسته چې مرهټو دی پر ميدان پرېښودو نوزړه ماتی مړ شو. ماموله بايي د فاضل محمد کونډه عزت بېګم د خپلې اته کلنې لور صالحه بېګم سره بېرته بهوپال ته راوستله. او د خپل سيوري لاندې يې وساتل. داسې ښايي چې د صالحه بېګم په دې وخت کې د ماموله بايي سره کينه پيدا شوه.

چهوټې خان د ديوان په حيث ډېر ژر د بهوپال چارې په سمه لاره روانې کړې. پوځ يې منظم کړو. د پوليسو محکمه يې جوړه کړه. د تجارت او کاروبار لپاره يې اسانتياوې برابرې کړې. د ښار لارې کوڅې يې جوړې کړې او په بهوپال کې د يو شمېر سيندونو د پاسه يې د پلونو د جوړولو پرته په بن ګنګا سيند يو بند هم جوړ کړو چې اوبه د کر مځکو ته ورسېږي. ده په ۱۴ کالو کې بهوپال د يوه کلي نه په يوه ښکلي ښار واړاوه.

صالحه بېګم د خپل خاوند له مړينې وروسته ليدل چې ماموله بايي اوس زيات اختيارات چهوټې خان ته سپارلي وو. يوه ورځ يې د دوست محمد خان لمسي شريف محمدخان ته پېغور ورکړو چې که زه سړی وای نو يوه برهمن غلام ته به مې دومره اختيار نه وای ورکړی

چې د دوست محد خان پر کورنۍ حکومت وکړي. کله چې ماموله بابي د فیض محمد ځای ناستی حیات محمد خان وټاکلو، نو صالحه بېگم ددې څرګند مخالفت ته ملا وتړله. دې د فتح ګړه نه پنځه میله لرې په اسلام نګر کې د فیض محمد له قبر سره څنګ کې دیوه خپلواکه حکومت اعلان وکړو او سرکاري دربار به یې جوړاوه. بهوپال اوس عملا په دوو برخو ویشل شوی و. صالحه بېگم همدغسې درې کاله یو مساوي حکومت چلوو.

ماموله بابي ورته پېغامونه ولېږل چې که دا د یارمحمد هر یو ورور غواړي د هغه نوم دې د د واکمنۍ لپاره وړاندې کړي. حیات محمد خان هم دې ته رضا شو چې د صالحه بېگم د خوښې واکمن ته به سر ټیټ کړي، خو هغې شریف محمد ته د جنګ د تیاري لپاره وویل. شریف محمد د پنځه زره عسکرو د برابرولو لپاره له صالحه بېگم نه د پیسو غوښتنه وکړه. خو صالحه بېگم پیسې نه لرلې. شریف محمد چې خبر شو نو هغې ته یې وویل: ''په تشه خېټه جنګ نه کېږي''.

چهوټې خان د بهوپال چارې هم هغسې پر مخ بوولې. خو هغه اندازه ولګوله چې صالحه بېگم دومره زور نه لري څومره چې شریف محمد ورته خطر جوړېدای شي. ده دوه ورونه لرل او دده ځلمی او تکړه زوی وزیرمحمد لکه د دوست محمد د توري مېړنی و.

د صالحه بېگم سره د لاس یوځای کولو لپاره دی دبغاوت په تور تورن او له بهوپاله وشړل شو. شریف محمد خان د راجپوت یو ګاونډي ریاست ته پناه یوړه. ده سره د ده د ټبر خلک هم وو. راجپوت هندوانو د دوی تود هرکلی وکړو او د ګینور د کلا د نیولو لپاره په جنګ کې ورسره ودرېدل.

دا د حیات محمد خان واک ته لومړی لوی ګواښ و چې په خپله پښتنو ورته ودرولی و.

په ۱۷۸۷ کې د بهوپال نه اته میله لویدیځ کې د پهندا په کلي کې د دواړو غاړو پوځونه جنګ ته راووتل. ددې جنګ پر وخت حیات محمد خان په بهوپال کې پاتې وو. دده د پوځ مشري چهوټې رام کوله او ورسره راجپوت، سیکان او د بهوپال سرکاري پوځ و. شریف محمد سره دده ورونه او راجپوت مله و. وزیر محمد خان د ښځو او ماشومانو د ساتنې لپاره په اشتا نومي کلي کې پاته شو. جنګ پیل شو، د تورو ټوپکو او توپو په درزا سخته مرګ ژوبله وشوه. شریف محمد سره د خپلو پنځو ورونو ووژل شو. یوازې یو وروركامل محمد ژوندی پاتې شو. چهوټې خان د شریف او دده د ورونو سرونه پرېکړل او په تورو ټومبلي حیات خان ته یې وړاندې کړل. حیات خان په دې کار سخت ناکراره شو او په لومړي ځل د چهوټې خان د شخصیت منفي اړخ ورته څرګند شو. د اورکزیو په ټبر کې دا پېښه یوه لویه غمیزه وه او په راتلونکو نهو کالو کې چهوټې خان د بهوپال ټول پښتانه د ځان پر ضد راوپارول. دی لکه د یوه کاواکه اس د هېچا قابو کې نه راتلو. په ۱۷۹۲ م کې ماموله بابي د اتیاو کالو په عمر مړه شوه. له دې څو میاشتې وروسته چهوټې خان هم مړ شو.

د حیات محمد خان له شریف محمد کورنۍ سره شوی ظلم هیر نه وو. د هغه زوی وزیر محمد د راجپوتو سره اوسېدو او حیات محمد خان چې خپل نالایقه آرام طلبه زوی غوث محمد ته لیدل نو ددې خبرې احساس ورته زیاتېدو چې دی د نوابۍ وړ نه و. په ۱۷۹۴م کال کې د بروکټ د پښتنو د یوه جنرال لور زینت بېگم یې غوث محمد ته واده کړه. د زینت پلار له مرهټو سره د دسې هور په

جنګ کې وژل شوی و او مور عصمت بېګم یې د بل ماشوم په زېږون مړه وه. د زینت بېګم نه د غوث محمد دري اولادونه وزېږېدل. دوه زامن موعېز او پوځدار او یوه لور یې ګوهرآرا نومېده. اخوا د شریف محمد زوی وزیرمحمد د راجپوتو نه ولاړو او یو څه موده د حیدرآباد د نظام دربار کې ملازم شو او په خپل استعداد ښه مقام ته ورسېدو.
خو حیات محمد غوښتل چې وزیر سره روغه وکړي. هغه لیدل چې غوث محمد د بهوپال د ساتنې نه وو. ده وزیر محمد راوبللو او ده ته یې د دیوان او د پوځ د مشر د دندې پېشکش وکړ. خو غوث محمد د خپل پلار ددې فیصلې مخالفت وکړ. ځکه هغه د خپلو اختیاراتو او اغېز لپاره وزیر یو ګواښ وګڼلو. اخر وزیر ته په بهوپال کې د استوګنې اجازه ورکړی شوه. او د دیوان د دندې لپاره مرید محمد خان راوبلل شو. مرید د سلطان محمد خان زوی و، چې دوه واري یې د نوابۍ دعوا کړې وه. مرید په ۱۷۹۲ د خپلو ۱۰۰۰ تنو ملګریو سره بهوپال ته ورداخل شو او ژمنه یې وکړه چې یو واري بیا به د پښتنو واکمنې پر ځای کړي. د مشر وزیر (دیوان) په حیث ده د پیسو په لګولو لاس پورې کړو. د پوځ تنخواګانې یې زیاتې کړې. د ودانیو په جوړولو یې لاس پورې کړ او چې خزانه یې خالي ولیده نو پر مځکه والو یې زور راوړو چې مالیه ورکړي. کله چې به دوی انکار وکړو نو په بندي خانو کې به یې واچول. په یوه کال کې دننه د مرید اصلي څېره راښکاره شوه. د بهوپال ځینې مځکې یې پنډاریانو ته ورکړې او چې د پوځ د تنخوا پیسې هم پاتې نه شوې نو پوځ بغاوت وکړو. په دې وخت کې مرهټه یو واري بیا د بهوپال سرحدونو ته خطر ودروو.
مرید ته بله هېڅ لاره ښکاره نه شوه نو د حیات محمد مېرمنې عصمت بېګم ته ورغلو. دا مېرمنه په حیات محمد ډېره ګرانه وه او په دربار

کې یې ډېره اغېزه لرله. په ۱۷۹۷ کال د ډسمبر پر ۳۰ مه نېټه دا دپردې تر شا کښېناستله او د مرید غوښتنه یې واورېده چې خپلې ګانې او نغدې دې ورته وسپارې چې د مرهټو سره جنګ لپاره تیاری وکړي. عصمت بېګم په ځواب کې ورته وویل چې د مځکه والو نه مالیه راټوله کړه. په دې ځواب مرید په قهر شو، پرده یې وشلوله او پر عصمت بېګم یې برید وکړ. هغې منډې کړې خو په پوښو یې راګېره کړه او ویې وژله. د هغه ملګریو د عصمت بېګم ساتونکې خواجه سراګلاب هم ووژلو. دوی د عصمت بېګم ګانې، نغدې پیسې او هرڅه چې په لاس ورتلل واخیستل او له هغه ځایه ولاړل. د حیات محمد کورنۍ په دې پېښه هک پک پاتې شول او مرید په خپله دفاع کې وویل چې ده ته غوث محمد ویلي وو چې دا ښځه دې مړه کړي.
خو هېچا په ده باور ونه کړ. ده د حیات پر ضد د فتح ګړ کلا ونیوله او مرهټو ته یې پیغام ورواستاوه چې د بهوپال په نیولو به دی ورسره ملا وتړي. په دې پېښه حیات محمد د مرید د غدارۍ اندازه ولګوله او سمدستي یې وزیرمحمد راوبللو چې د مرید چاره دې وکړي.
وزیرمحمد ۱۰۰۰ تنه پښتانه راټول کړل او بهوپال ته ورننوتل.
لومړي یې د هوشنګ آباد کلا له مرهټو ونیوله. مرید محمد د ګوالیار او ناګپور مرهټه راجه ګانو ته پیغامونه ورواستول چې د بهوپال د نواب پر ضد دده د بغاوت ملاتړ وکړي. د ګوالیار جنرال بالار او مرید ته خپل پوځ په دې شرط واستولو چې د بهوپال له دوو لویو کلاګانو څخه به یوه ده ته ورکوي. مرید ورسره د اسلام نګر د سپارلو ژمنه وکړه. دی پخپله د اسلام نګر پر لوري ولاړو چې دا کلا د مرهټو پوځ ته ورکړي. او د فتح ګړه په کلا کې یې د مرهټو یوه ډلګۍ پرېښوده چې د حیات محمد او غوث د تېښتې مخه ونیسي.

اسلام نگر ته په رسېدو مريد خبر شو چې دا کلا اوس د حيات محمد خور موتي بېگم سمبالوي او هغې خپلو ساتندويانو ته امر ورکړی و، چې پر مريد حمله وکړي. له دې ځايه مريد په تېښته د راى سين کلا ته مخه کړه. دا يې ونيوله او بالا راو ته يې تسليم کړه. له دې ځايه د مرهټو له ۴۰۰۰۰ زره عسکرو سره د فتح گړ کلا د محاصرې لپاره روان شو. مريد سره دغه وخت د گواليار، ناگ پور او د ټونک د نواب اميرخان پنډاري جنگيالي ملگري وو. بلې خوا ته د حيات محمدخان سره وزيرمحمد او د امبايانې جاگيردار قلي خان ولاړ و.

وزير محمد د فتح گړ په کلا کې ډېره مېړانه وښودله او اخر بالا راو مجبوره شو چې خپل پوځ پر شا کړي. ډېر ژر بالاراو خبر شو چې مريد ورته دروغ هم ويلي وو، نو هغه يې ونيولو او په سرونج کې يې بندي کړو. مريد په بندي خانه کې د الماسو زرې وخوړلې او ځان يې په خپله ووژلو. وزيرمحمد مرهټو ته د ماتې ورکولو وروسته په پورا اعزاز د حيات محمد له خوا د بهوپال ديوان او د پوځ مشر وټاکل شو. او په راتلونکو اوو کالو کې يې د بهوپال هغه سيمې چې نورو ترې نيولې وې ډېر په سياست بېرته واخيستې.

ده له انگرېزانو سره هم خبرې اترې پيل کړې، چې د ده د قوي گاونډيانو په مقابله کې د بهوپال ساتنه وکړي. خو غوث محمد له مرهټو سره بېل سازشونه پيل کړي وو. حيات محمدخان په ۱۸۰۷ م کال د ۷۳ کالو په عمر مړ شو او غوث محمد د پنځم نواب په توگه واک ترلاسه کړ. اوس هغه په ښکاره د وزير محمد مخالفت پيل کړ او وزير د شخړې پر ځای بهوپال يو واري بيا پرېښود او د گينور په کلا کې مېشت شو. د وزير له وتلو سره مرهټه بيا برلاسه شول او غوث محمد په خپله کلا کې لکه د نظربند پاتې شو. د روغې لپاره يې خپل

زوی موعېز مرهټو ته وسپارلو چې ناگپور ته يې يوړو. وزيرمحمد يو واري بيا د بهوپال ژغورنې ته راغی. خو دا ځل مرهټه ځواکونو د اوږدې مودې پلان سره بهوپال محاصره کړ.

بهوپال تر يوه کاله پورې تر محاصرې لاندې و. نژدې ۸۲۰۰۰ پوځيان د دې چارچاپېره ولاړ وو. د وزير ملاتړي، سکان، راجپوت د ټونک اوسېدونکي او د پنډارې پښتانه له کلا ووتل. له وزير سره يوازې ۶۰۰ افغانان پاتې وو. غوث محمد خان د لوږې او محاصرې د سختو زغم نه لاره او وزير هغه ته اجازه ورکړه چې له خپلو هيجراگانو او د کورنۍ سازوسامان سره د بهوپال له کلا نه ووزي او يو کور کې مېشت شي. عجيبه خبره دا وه چې محاصره کوونکيو هم د نواب په راتلو باندې هېڅ غرض ونه کړ. د هغوی لپاره غوث محمد خان اوس يوه له کاره وتلې سيکه وه. يوه بله عجيبه خبره دا وه چې غوث محمد خان لومړۍ مېرمن زينت بېگم او د هغې ۱۴ کلنه لور قدسيه په بهوپال کې پاتې شول او دا هوډ يې وکړ چې تر مرگه به د بهوپال په دفاع کې هلته پاتې وي.

د محاصرې شپږ مياشتې چې پوره شوې، نو په کلا کې د خوړو لپاره هېڅ پاتې نشول. مرهټو به هره شپه حمله کوله. گولۍ او بارود په ختمېدو وو. په دې موقع زينت بېگم له پردې راووتله. ټولې ښځې ورپسې شوې او دوی د پوځ تر شا ودرېدلې. دوی به پوځيانو ته خواړه رسول. د توپونو او ټوپکو ډکول يې کول د سړيو په شان جامې يې واغوستلې او له بارووده د کار اخيستو چل يې زده کړ. يوه پلا دوی په فلزي نغريو کې بارود کېښودل او له کلا نه يې پر دښمن وروېشتل چې په مځکه له لگېدلو سره به وچوېدل. زينت بېگم په دسترخوان ټولې ښځې راټولولې او ډوډۍ به يې ورکوله. يوه ورځ د

هغې یوه خدمتګاره چې کور به یې جارو کولو رانغله. زینت بېګم له نورو پوښتنه وکړه نو هغو ورته وویل چې د خدمتګارۍ ماشومانو له دوو ورځو هېڅ نه دي خوړلي، هغې ورته د املي (یو ډول بوټي) پاڼې واېشولې چې ویې خوري. زینت هغه خدمتګاره راوبلله او سمدلاسه یې خپلې لور قدسیې ته وویل:

هغه دوه چپاتې چې د خپل ورور فوځدار لپاره یې ایښې وو دې ښځې ته ورکړې.

قدسیې هغې ته یو چپاتي ورکړ او بل هغه یې په خپلو جامو کې د خپل وړوکي ورور لپاره وساته. کله چې خدمتګاره روانه شوه نو زینت هغه ودروله او چپاتی یې ولید. لور ته یې مخ ورواړاوه او په قهر یې ورته وویل: زه خبره وم چې ته به درغلي کوې او یو چپاتی به ورور له ساتې. ما درته وویل چې دواړه ډوډۍ دې ښځې ته ورکړه.

په یوه بله موقع د هغې زوی موعیز د کلا په څنډو د توپچي دنده په غاړه لرله چې نابېره د ټوپک په یوې ګولۍ ټپي شو. زینت په منډه ورته ورغله، له خپلې لوپټې نه یې پټۍ ورته جوړې کړې. د هغه پرهارونه یې پرې پټ کړل او بیا دا خپله توپې ته ودرېده او د خپل زوی د هوش تر راتلو پورې یې په خپله توپه چلوله. د محاصرې په نهمه میاشت چې نور د خلکو حوصلې ماتې وې، وزیرالملک یو جنګي مشاورت راوبللو. هغه اعلان وکړ چې دی به د ښځو او ماشومانو د خوندیتوب غوښتنه وکړي. او کله چې دوی له کلا ووتل، نو ۳۰۰ تکړه ځوانان به یو وروستی یرغل په محاصره کوونکیو وکړي او سرونه به بایلي...

د وروستۍ حملې فیصله یوه ورځ وځنډول شوه، هغه ځکه چې د کلا له یوه دېوال سره نږدې د بارودي وسلو یوه زېرمه موندل شوې وه

.ښځو د سرېو جامې واغوستې او د کلا پر دېوال په کتار کې له سرېو سره یو ځای اوږه پر اوږه ودرېدې، چې بریدکوونکیو ته خپل شمېر ډېر وښیي. دوی خبر نه وو چې د مرهټو په پوځ کې د کولرا وبا ګډه وه او د دوی ځواک هم کمزوری شوی وو. له دې علاوه د ناګپور د پوځ مشر صادق علي د ګوالیار له مشر جاګوا باپو سره اختلافات پیدا شوي وو او هغه خپل پوځ له محاصرې لرې کړی وو. ځکه خو د بهوپال له خوا د حملې په ورځ محاصره کوونکیو هېڅ مقاومت ونه کړ. کله چې د حملې لپاره د کلا لویه دروازه خلاصه شوه، نو د باپو د پوځ ډېره وړه برخه هلته موجوده وه. د کلا له دېواله نه ښځو د توپونو ډزې پیل کړې او د وزیر محمد خان په مشرۍ یې په پوره زور باندې حمله وکړه. او هغوی یې تېښتې ته اړ وېستل. د مرهټه وو مشر له کولرا مړ شو او کومندان یې د الماسو زرې وخوړې او ځان یې په خپله ووژلو. د بهوپال د دفاع اتل وزیرمحمد شو او د دوست محمد تر مړینې وروسته یو واري بیا د دوی مشرې د یوه غښتلي کس په لاس ورغله. خو وزیر په رسمي توګه د نوابۍ له اخیستو انکار وکړ. هغه غوث محمد خان ته بیا هم د نواب په سترګه کتل خو په ښکاره یې له واکه لرې کړی و. عامو خلکو وزیر ته درناوی کاوه او غوښتل یې چې دی د بهوپال د مشر په توګه پاتې وي. د محاصرې ختمېدو لږه موده وروسته د ګوالیار یوه کلي پر بهوپال د خېټې اچولو هڅه وکړه. په ۱۸۱۹ کې انګرېزانو په هند کې خپلې پښې کلکې کړې وې او د مغول واک تر ډیلي پورې محدود و. دوی د ګوالیار راجه ته په سخته وویل چې بهوپال به د انګرېزانو تر تحفظ لاندې د یوې ازادې نوابۍ په توګه پاتې وي.

***

وزیر محمد خان نهه کاله د بهوپال نواب پاتې شو او په ۱۸۱۲ عیسوي کال کې د ۵۰ کالو په عمر مړ شو. دده دوه مېرمنې وې او له دواړو نه یې یو یو زوی لاره. یو امیر محمد خان او بل نذرمحمد خان نومېده. د نذرمحمد مور یوه راجپوته هندوه وه. غوث محمدخان خپله لور ګوهر بېګم (قدسیه) نذرمحمد ته په نکاح کړې وه او وزیرمحمد تر مرګ له مخه د خپل زوی امیرمحمد خان پر ځای نذرمحمد د نوابۍ لپاره ځای ناستی ټاکلی و. نذرمحمد چې نواب شو، نو په ۱۸۱۷ کې ګوهر بېګم ورته واده شوه. په هغو ورځو کې دا رواج و چې د پښتنو کورنیو تر منځ د نجلۍ او هلک د کوژدنې او نکاح فیصله به په ډېر وړوکوالي کې کېده. دا د دې لپاره چې کورنۍ یې خپلو کې یوه ټینګه خپلولي ولري. کله ناکله به د دوو کورنیو تر منځ د تاو تریخوالي ورکولو لپاره هم دا کار کېدو. د دښمنۍ او تربورانو تر منځ یو بل ته د سازشونو مخنیوی هم په دې رشتو خښنیو کېدو.

د نذر محمد خان د نوابۍ دوره په بهوپال کې د امن او بیارغونې یو زرین دور و. ده لکه د خپل پلار وزیرمحمد خان له انګرېزانو سره ښه اړیکي ساتلي وو چې اوس یې ورو ورو د هندوستان له ساحلونو ددغه هېواد مرکزي خاورې ته پښې غزولې وې. هغه نوابۍ او راجواړې چې انګرېزانو ته خواخوږي وو خپلې مځکې یې له ځان سره وساتلې.

نذرمحمد خان به د کال ۵۱ لکه روپۍ انګرېزانو ته ورکولې او په بدل کې دوی ورته هغه پنځه پرګنې بېرته ورکړې، چې مرهټه وو نیولې وې. د مرهټه وو مشر سندهیا د هوشنګ اباد او د اسلام نګر

دریم څپرکی

د پښتنې مېرمنې دعوا

کلاګانې هم بېرته بهوپال ته ورخوشې کړې. همدغه وخت کې د یرغلګرو یوه ډله چې په کې د هر نسل او مذهب خلک شامل وو په ورو ورو نوابیو او راجواړو حملې کولې او چور تالان به یې پرې ګډ کړ. دا یرغلګر پنډاري نومېده او تر ډېرې مودې یې د انګرېزانو پوځ په مخه اخیستی و. د بهوپال پخوانی نواب غوث محمد خان لا ژوندی و. خو په اصل کې نذرمحمد د بهوپال واکمن و چې په رسمي توګه یې نوابي نه وه اعلان شوې. په ۱۸۱۸ کې نذرمحمد له انګرېزانو سره یو تړون لاسلیک کړ چې له مخې یې بهوپال د یوې خپلواکې نوابۍ په توګه له نوابانو سره پاتې شو. د انګرېزانو لپاره له بهوپال سره دا تړون په مرکزي هند کې د امنیت لپاره یو مهم ګام و.

خو دا خپلواکي تر دې حده وه چې خپله په بهوپال کې نواب هر ډول اختیار ولري، ولې د ګاونډي راجه ګانو او نورو ریاستونو سره د انګرېزانو د اجازې پرته هېڅ تړون او بله معامله نشي کولای. په دې وخت کې انګرېزانو په بهوپال کې خپله چاونۍ هم جوړه کړه چې ۴۰۰ پلي عسکر او ۲۰۰ اسونه به په کې ساتل کېدل. د نذرمحمد او ګوهر بېګم (قدسیه) یوه لور وشوه چې دوی ورته سکندر بېګم نوم ورکړ. په ۱۸۱۹ کې کله چې نذر محمد د اسلام نګر په کلا کې له خپلې ماشومې لور سکندر بېګم سره لوبې کولې د ګوهر بېګم وړوکي ورور پوځدارخان چې اته کلن و له یوې تمانچې سره لوبې کولې په خطایۍ کې یې ګولۍ وچلوله او نذرمحمد له ټپي کېدو وروسته مړ شو. یوه بله کیسه داسې ده چې د نذرمحمد دښمنانو پوځدار خان ته د تمانچې چلولو چل ورزده کړی و او دی یې پوه کړی و چې پر خپل تربره دې ډز وکړي. پښتانه هلکان له وړوکوالي د وسلې په چلولو پوهېږي او کېدای شي چې دا خبره رښتیا هم وي.

پوځدار خان د غوث محمد زوی و او د نذرمحمد په وژلو کېدای شوه چې غوث محمد بېرته د بهوپال واکمن شوی وای.

د انګرېزانو استازي مېجر هېنلې د دې وژنې په اړه په خپل رپورټ کې کښلي چې د تمانچې ډز له دومره نژدې شوی و چې د هغه وېښتان او د مخ پوستکی یې سوځولي وو. هغه په دې کې شک نه لاره چې نذرمحمد په خطا ویشتل شوی و.

د نذرمحمد وژنې د بهوپال لپـــاره بیا یو خطر راپیدا کړ. وزیرمحمد او نذرمحمد چې تر اوسه کوم ګامونه پورته کړي وو په دې د بهوپال عام ولس او د دوست محمد کورنۍ یو څه ناڅه خوشاله وو.

له تیرا څخه له دوست محمد خان سره یو بل اورکزی چې له مېشتي خېل قام نه و، د بایزید زوی کیلیګ خان نومېده. د دوست محمد خان د مړیني وروسته د کېلیګ خان زوی عمرخان د خپل پلار په شان د دوست محمد خان کورنۍ ته پتمن پاتې شو. دا هغه خلک وو چې د نن سبا په الفاظو ورته مسلکي پوځیان ویلای شو.

د عمرخان زوی الف خان د نواب فیض محمد خان د پوځ کوماندان (بخشي بهادر) و او ده خپله دنده خپل زوی محمدخان ته وسپارله چې د حیات خان د پوځ کوماندان و. د محمدخان زوی بهادرخان هم د بهوپال په محاصره کې توري برېښولې وې او د خپلې مېړانې لپاره یې ښه نوم ګټلی و. په راتلونکې کې بهادرخان او د هغه اولادونو د بهوپال په تاریخ کې مهم رول ولوبولو.

د نذرمحمد په مړینې د دوست محمد په کورنۍ کې د نوابۍ لپاره ډېر دعوا داران راپورته شول. د غوث محمد ۲۵ اولادونه وو. دده مشر زوی موعېز چې د ګوهر بېګم سکه ورور هم و د نوابۍ قوي

مدعي و. غوث محمد په خپله ژوندی و خو دومره کمزوری او زوړ شوی و چې د بېرته نواب کېدو امکان يې ډېر کم و.

د وزير محمد خان مشر زوی امير محمدخان هم په دې هيله و چې د ګدۍ اصلي وارث دی دی.

د نذرمحمد د مړينې دربيمه ورځ وه، د اورکزيو ټول ټبر د هغه په کور کې د دربار په لوی تالار کې يو ځای شوی و. د نذرمحمد خان د پوځ کوماندان بخشي بهادر هم هلته موجود و. له فاتحې او خيرات وروسته پر دې خبره بحث روان و چې د نوابۍ لپاره به مناسب کس څوک وي؟

د نذرمحمد کونډه نولس کلنه ګوهر بېګم (قدسيه) په بورقه کې پټه ناسته وه. په غېږ کې يې پنځلس مياشتنۍ لور سکندر بېګم نيولې وه. دويم ماشوم يې په نس و. هغې په تالار کې د ناستو پښتنو تر منځ له مخه پړونۍ لرې کړ او هغوی ته يې خپله وينا پيل کړه. هغې د خپلې کورنۍ د اختلافاتو او د بهوپال د تېرو سختو ورځو شپو د ذکر نه وروسته خپله دعوا وکړه چې د نوابۍ حقداره د هغې ماشومه لور سکندر بېګم ده. بيا يې د خپل مړه خاوند نذرمحمد ليکلې وصيت ټولو ته ښکاره کړ چې په کې يې کښلي وو:

که دی چېرې ناڅاپه مړ شي نو دده لور سکندر بېګم به نوابه وي او تر څو چې دا ځوانه شوې نه وي پخپله ګوهر بېګم (قدسيه) به د دې سرپرسته او د بهوپال واکمنه وي. سکندر بېګم چې ځوانه شي نو د اورکزيو په کورنۍ کې به ودېږي او له واده وروسته به د هغې خاوند د بهوپال نواب شي.

ګوهر بېګم دا دعوا هم وکړه چې په دې فيصله د بهوپال خلک هم خوشاله دي او ځينو مذهبي مشرانو دا فيصله لا پخوا منلې وه. بيا

يې ټولو ته وويل: که څوک په دې فيصله اعتراض لري نو راپورته دې شي او په ډاګه دې خپله خبره وکړي.

په دربار کې ناست ټول خلک غلي وو. د اعتراض مانا دا وه چې دوی به د نذرمحمد د وژلو په سازش کې څه ناڅه لاس لري.

نذرمحمد ته پتمنو څلورو سلاکارانو هم هغه وخت د قدسيه بېګم په فيصله خوښي څرګنده کړه. نورو هم ورته سرونه ټيټ کړل. ډېر ژر په بهوپال کې د سکندر بېګم د نوابۍ او د هغې د مور قدسيه بېګم د سرپرسته کېدو خوشالي ولګېده.

د خپلو مخالفينو د خولې بندولو لپاره قدسيې ډېر ژر هر چا ته مراعات او امتيازات وروسپارل. خپل لوی مخالف مشر ورور موعېز ته يې جاګير ورکړو. پوځدار خان وړوکی و هغه يې تر خپلو وزرو لاندې کړ. له خپل لېور اميرمحمدخان سره يې ژمنه وکړه چې د هغه زوی منير محمد خان ته به خپله سکندر بېګم ورکوي او دغه ډول به منير نواب هم شي. قدسيه پوهېده چې سکندر لا وړه ده او تر راتلونکيو ۱۲ کلونو پورې به دا واکمنه وي.

له دې هر څه سره قدسيه د انګرېزانو استازي مېجر هېنلي ته د تصويب لپاره خپله فېصله واوروله. هغې د نذرمحمد د وصيت دليل ورته ورکړ.

د انګرېزانو لپاره د يوې ښځې مشري د تشويش وړ وه. دوی د بهوپال په ملګرتيا کې د مرهټه وو مخالفت منلی و. دوی فکر کاوه که په دې رياست کې سړی واکمن وي نو د دوی دريځ به غښتلی او ټينګ وي. خو په ولس او کورنۍ کې دننه د هغې ملاتړ انګرېزان دې ته مجبوره کړل چې هغه د نوابې په توګه ومني.

همدا وه چې قدسيه بېگم د خپلې ماشومې لور د سرپرستۍ په توګه د نوابۍ په تخت کښېناسته. ددې لپاره چې څوک د اسلامي اصولو له مخې د هغې لاره ونه نيسي دې يوه فتوا د بهوپال له مفتي او بله د قاضي لخوا تر لاسه کړه. دغه سند هغې خپلو خپلوانو، اميرانو او سردارانو ته هم ورکړ چې تصويب وربانديې وکړي.

په هغه وخت کې داسي اوازه ګډه شوه چې قدسيه بېگم د خپل خاوند نذرمحمد په وژلو کې لاس لري. ددې وخت د پرېشانيو يو تاوان دا وشو چې نازېږېدلی ماشوم ضايع شو. او ددې خبرې امکان نور هم کم شو چې د دوست محمد خان د اولادونو وزير محمد او د غوث محمد کورنۍ به بيا متحدې شي.

انګرېزانو په دې وخت کې د سکندربېگم او منير محمد خان د کوژدنې خبره ومنله او مياشت وروسته يې ماشوم منير په رسمي توګه د نوابۍ په ګدۍ کښېنولو. خو شرط دا و چې قدسيه بېگم به يې سرپرسته وي او کله چې د دې لور سکندر بېگم د ځوانۍ سن ته ورسېده او منير ته واده شوه نو پخپله به نوابي هغه ته ورپرېږدي.

قدسيه بېگم د خپل خاوند د وصيت پرځای کولو، خپلو ترورانو سره سره د يو بل قام په استازي د خپلې خبرې د منلو لپاره له ډېرو ستونزو سره مخامخ وه. خو د هند په هغه اړې ګړې کې د ځان ساتنې لپاره يې ډېر په هنر او استقامت چلن کاوه.

د اس د سورلۍ، پوځي تربيت او د جنګ د فن او په دې کې د برياليتوب لپاره يې زده کړه پيل کړه. دا په عقيده ټينګه مسلمانه مېرمنه وه، خو دا خبره يې نه منله چې ښځه د رياست مشره کېدای شي. هغې دا وويل چې د ښځې مخنيوي لپاره خلکو له اسلام نه ناوړه ګټه اخيستې ده.

د قدسيه بېگم لپاره د خپل پلار د عېش خوښونکي شخصيت او د مور مېړانه چې د جګړې په ډګر کې يې ښودلې وه ددې سوب شوه چې ځان ته خپله لاره وټاکي.

دا به د بهوپال په کليو بانډو کې ګرځېده چې د عامو خلکو له حاله ځان خبر وساتي او په وړو پوځي مهماتو او معرکو کې به يې د عسکرو مشري کوله.

قدسيې بېگم چېرې هم د عېش وعشرت ژوند نه و تېر کړی. له ماشومتوب نه يې د جنګ سختې ليدلې وې. د هغې د لارې مشال د هغې خپله مور زينت بېگم وه. خو د پښتنو په ټبر کې ځينو خلکو اوس هم د نذرمحمد وصيت ته د شک په سترګه کتل. د خپلې ماشومې لور د سرپرستۍ په توګه د واکمنۍ په لومړنيو کلونو کې خپلو خپلوانو او انګرېزانو دواړو ته دا جوته شوه چې دا د دې مهمې دندې لپاره وړ او قابله ده.

هغه له اميرمحمد خان او د هغه له پلويانو نه هم په اندېښنه کې وه چې په دې انتظار وو چې کله به سکندر بېگم ځوانېږي او کله به منير د نوابۍ په ګدۍ کښېني.

په بهوپال کې اوس په څرګنده پښتانه په دوو ډلو وېشل شوي وو او دواړو د يوه بل په فعاليتونو داسې نظر ساتلی و لکه يو باز چې يې په خپل ښکار ساتي.

***

خلــورم څــــپرکـــی
د قدسيې بېګم واکمني

د يوې مسلمانې او په تېره بيا پښتنې ښځې لپاره د نولسمې پېړۍ په پيل کې واکمن کېدل اسانه کار نه و. هغه هم په داسې حالاتو کې چې په کور دننه او د باندې ورته د مخالفانو ډلې ناستې وې. قدسيه بېګم د پردې او ستر ساتلو سره د بهوپال چارې پر مخ بېولې او په دې انتظام کې د هغې مرسته هم هغو اميرانو او مشاورينو کوله چې د ښځې مشري ورته عيب نه ښکارېده. په دې مشاورينو کې پوه او مسلکي خلک شامل وو چې درې تنه په کې مهم وو. راجه هشونت راى، بهادر محمد خان (بخشي بهادر) او شهزاد مسيح (فرانسوي نژاد).

د شهزاد مسيح د کورنۍ کيسه ډېره په زړه پورې ده. "په ۱۷۴۰ م کې چې د ايران نادرشاه افشار په ډيلي حمله وکړه او دا يې ويجاړ کړ، نو په دې وخت کې د مغولو له دربار نه يوې فرانسوي کورنۍ لومړۍ ګواليار او وروسته بهوپال ته پناه يو وړه. ددې کورنۍ مشر سيلواډور بوربن نومېده. په بهوپال کې دې کورنۍ ماموله بايي ته ځان ورسولو چې د دوست محمد خان د لمسي فيض محمد خان کونډه وه. ماموله بايي بوربن ته ځمکې ورکړې او کله کله به يې د حکومتي کارونو لپاره ترې مشورې اخيستې. سيلواډور يو ډېر ځيرک او پوه انسان و او تر ډېرې مودې يې د بهوپال د نوابې کورنۍ خدمت کاوه. دى وزير محمد خان ته هم نژدې و او په بهوپال کې ده د عنايت مسيح په نوم شهرت لرلو.

د بهوپال د محاصرې په وخت دی له خپل زوی بالتازار، چې د شهزاده مسيح په نوم پېژندل کېدو، يو ځای د نذرمحمد خان په پوځ کې د مرهټو پر ضد جنګېده.

کله چې قدسيه بېگم د خپلې لور لپاره د نوابۍ دعوا وکړه نو له پېرنگيانو سره د خبرو اترو لپاره به شهزاد مسيح د هغې د استازي په توگه ورتلو. د قدسيې بېگم د نوابۍ په لانجه کې شهزاد مسيح (بالتازار) د هغې په ملاتړ ودرېد او له انگرېزانو سره د خبرو اترو لپاره د بهوپال د نوابۍ په استازيتوب ورتلو. قدسيې بېگم پر ده لوی باور درلود. همدا و چې د پښتنو تر منځ داسې گنگوسې راپورته شوې چې گوندې شهزاد مسيح له قدسيې بېگم سره اړيکي لري.

شهزاد مسيح يو لوستی پوځي و او په انتظامي معاملو کې يې ساری نه لرلو. هغه اردو او فارسي ژبې رواني ويلې او د فطرت په نامه يې شاعري کوله. يو فرانسوی ليکوال او هند ته سفر کوونکی ويتولادي گولېش پخپل کتاب ''د هند نوابي سلطنتونه''کې ليکي کله چې ''قدسيې بېگم د بهوپال نوابي ترلاسه کړه، نو دا او شهزاد مسيح يوه بل ته د مينانو په څېر نږدې شول.''

په دې وخت کې د بوربن کورنۍ دومره قوي شوه چې نيم بهوپال يې په لاس کې و او که دوی انگرېزانو ته غږ کړی وای کېدای شي هغوی ورته د بهوپال نوابي ورکړې وای. خو شهزاد مسيح داسې ونه کړل او قدسيه بېگم په امر يې د ډيلي له يوې انگرېزې نجلۍ ازابېلا ستون سره واده وکړ. قدسيې بېگم د شهزاد مسيح مېرمنې ته ''د سرکار دلهن'' خطاب ورکړ او په بهوپال کې د جهانگير آباد په سيمه کې يوه کېتوليک کليسا، هديره او يو ښوونځی د دې په نامه ونومول شول. په دې سيمه کې د يوه پخواني کور کنډوالې اوس هم شته دي چې ورته د ''سرکار دلهن حوېلي'' وايي.

قدسيه بېگم د بهوپال د چارو، حکومتي کارونو او له انگرېزانو سره د معاملو سره سره پخپله کورنۍ کې دننه له مخالفتونو سره

مخامخ وه. هغې د ماشوم منير محمد پالنه هم کوله چې خپل لوی مخالف يانې د خپل لېوره امير محمد په مقابله کې يې ترې برمته نېولی و.

منير محمد او د قدسيې بېگم لور سکندر بېگم د هغې تر سيوري لاندې لويېدل. اميرمحمد به انگرېزانو ته دا خبره يادوله چې د تخت اصلي وارث دده زوی منير دی او پکار ده چې دی دې واکمن اعلان شي. منير چې زلموټی شو، نو دی هم د پلار او د کورنۍ د نورو سړيو فکر ته اوښتی و. دا خبره به تل کېده چې د ښځو واکمني غېر اسلامي کار دی.

قدسيې د وخت واگې په خپل لاس کې نيولې وې. د امير محمد د اغېز کمولو لپاره يې له انگرېزانو نه يوه بله خبره هم په سند ليکلې واخيسته، هغه دا چې د منير او سکندر بېگم تر نکاح وروسته او په دې حالت کې چې که د هغې لور خپل مېړه ته نوابي پرېښوده نو امير محمد به د بهوپال په حکومتي چارو کې د مداخلې هېڅ حق نه لري. خو بل لوري ته به هغې له اميرمحمد خان سره ښه اړيکي ساتل. هغه ته به يې ويل:

''ته زما له انتظام نه دومره بدگومانه يې چې د دوو ماشومانو په واده دې زور راوړی دی. دوی تر اوسه ځانونه نشي سنبالولی نو ملک به څنگه سنبال کړي. لږ نور انتظار وباسه.''

خو امير محمد خان به په دې نه قانع کېده. د بهوپال غونډې ښېرازې مځکې واک يې د خپلې ورېندارې په لاس کې نه شوی زغملای. اخر ده د خپل اوښي اسد سره د قدسيې بېگم له واکه د لرې کولو يو سازش جوړ کړ. دوی د اورکزيو ځينې غړي او د روهيله پښتنو ايله جاريان له ځان سره مله کړل او د قدسيې د وژلو لپاره يې

له يوه پټ مرکز نه د حملې پلان جوړ کړ. په دې سازش کې منير محمد هم شامل و. خو قدسيې بېگم تر دوی زيات قوي استخبارات لرل. د دوی پوځ هغه مرکز محاصره کړ چې مخالفو يې مورچې پکې نيولې وې. په بهوپال کې کورنۍ جگړه پيل شوه. دواړو غاړو تر څلورو ورځو پر يوه بل ډزې کولې او اخر د بهوپال پوځ ددې سازش خاتمه وکړه. يو څو کسان په کې ووژل شول. کشران يې ونيول او منير محمد يې لاس تړلی قدسيې بېگم ته حاضر کړو. منير د هغې په پښو پرېوتو او معافي يې وغوښته. قدسيې بېگم دی وبښلو، خو اميرمحمد او اسد يې له درباره منع کړل. دا ديوې ښځې هغه انصاف و چې د خپل سر دښمنان يې ژوندي پرېښودل. انگرېزانو له دې جنگه وروسته د قدسيې بېگم د ساتنې لپاره د خپل پوځ يوه ډله هغې ته ور واستوله.

قدسيه بېگم اوس پوه شوې وه چې ددې مخالفان به کله هم دا ارام ته نه پرېږدي. په ۱۸۲۷ م کال کې چې سکندر بېگم اوس هم د ۱۰ کالو وه. قدسيې بېگم دا خبره اعلان کړه چې منير ناځوانه دی. د يوې مسلمانې ښځې له خوا ددې خبرې ډنډوره کول ډېر عجيبه کار و. منير د هغې تر سيوري لاندې لوی شوی و او په نوابي کورنۍ کې به نرښځي (هيجړاگان) خدمتگاران وو.

دوی به د هلکانو او جينکو دواړو د ځوانۍ او پېغلتوب له عادتونو خبر وو او قدسيې چې دا خبره وکړه نو مانا يې دا شوه چې منير محمد به اولاد نشي زېږولی. امير محمد ددې خبرې په اورېدو سره د خپل کشر زوی جهانگير لاس وروړاندې کړ. انگرېزانو هم دې خبرې ته غاړه کېښوده او قدسيې ته درې کاله نوره موده پاتې شوه، چې جهانگير د نوابۍ لپاره وروزي، ځکه دی له منير نه هم درې کاله کشر و. په ۱۸۳۰ کې د انگرېزانو استازی لانس لوټ وېليکنسن

وټاکل شو. دی ۱۱ کاله په بهوپال کې پاتې و او په دې ټوله موده کې يې د قدسيې د واک مخالفت کاوه. د هغه نقادان وايي چې ده ته به د اميرمحمد خان د ډلې له خوا ډالۍ ورکول کېدې. دی به له هغوی سره په ښکار تلو. خو د هغه پلويان په دې نظر دي چې ده له انگرېزانو د هغه تړون درناوی غوښت چې قدسيې ورسره کړی و او هغه د واک انتقال و. جهانگير په دې وخت کې د **۱۵** کالو و خو د قدسيې ځواب دا و، چې تر څو جهانگير د ۱۹ يا ۲۰ کالو نشي دا به ورله سکندر په نکاح کې ورنه کړي. په ۱۸۳۲ م کال کې قدسيې بورقه وغورزوله. په دې کار هغې خپلې لور سکندر ته هم لاره هواروله ځکه هغې دا تجربه کړې وه، چې د پردې شا ته حکومت کول گران کار دی. يو کال وروسته قدسيې انگرېز گورنر جنرل ته ليک ور واستولو او تر ۱۰ نورو کلونو پورې د خپل واک غزېدل وغوښتل چې تر څو جهانگير او سکندر د حکومت په کارونو پوه شي. انگرېزانو دا خبره رد کړه او سمدلاسه يې غوښتنه وکړه چې د جهانگير او سکندر نکاح دې وشي.

قدسيه په دې خبره په قهر وه خو هېڅ يې نشو کولای. جهانگير اوس د ۲۰ کالو و او سکندر بېگم د ۱۸ کالو وه. هغې د اس د سپرلۍ، د نېزې، تورې او غشي د ويشتلو تر څنگ د قرآن تعليم او د فارسي او پښتو ژبې زده کړې وې. خو په وجود کې تکړه او زړوره وه. تر ټولو مهمه خبره دا وه چې د هغې له جهانگير سره مينه پيدا شوې وه. خو قدسيه بېگم بيا هم د لور په واده کې زړه نازړه وه. اخر اميرمحمد بيا تورې ته لاس واچاوه او د جنگ خطر پيدا شو نو قدسيه رضا شوه.

قدسيې بيگم نژدې ۱۸ کاله د خپلې لور او د زوم د سرپرستې په توگه د بهوپال واک په لاس کې لرلو. د هغې شخصيت د بهوپال د

او خپله شخصي پانګه يې بېله کړه. له خپلې ماڼۍ يې د لاسي ګنډلو کار پيل کړ. ښځې يې په کې په کار ولګولې او د خپل پخلنځي خرڅ به يې له دې پيسو پوره کاوه. ډېر ژر هغې د عامو خلکو زړونه وګټل. خلکو به يې ډېر درناوی او احترام کاوه.

د قدسيې بېګم سياست

په ۱۸۳۵م کې سکندر بېګم جهانګير ته واده شوه او شپاړس کاله وروسته د امير محمد سره شوی لوز پوره شو، د دوی دواړو واده د دښمنو کورنيو تر منځ د اسې يو والی و چې د مينې او محبت پر ځای په کې تربګني او رقابت ډېر و. له واده سمدستي وروسته انګرېزانو له قدسيې بېګم غوښتنه وکړه چې نوابي دې جهانګير ته وسپاري. خو قدسيې وويل: د هغې زوم لا تراوسه نوابۍ ته تيار نه دی. سکندرې او جهانګير چې ګډ ژوند پيل کړ، نو هغه خپل خاوند ته وفاداره شوه. او دې په خپله له موره وغوښتل چې واک دې د هغې خاوند ته وسپاري. د دواړو کورنيو ترمنځ اړيکي خړپړ وو. امير محمد په خپله دا باور درلود چې قدسيه به چېرې هم واک د هغه زوی ته نه پرېږدي. ده يو واري بيا د بغاوت جنډه راپورته کړه. د بهوپال له ښاره بهر سيهور نومي ځای کې يې مورچې ونيولې او پوځ يې وربرابر کړ. قدسيې ډېر په مېړانه دا جنګ وګټلو. خو اوس انګرېزانو ورودانګل. د برتانيا د بهرنيو چارو وزير يو ليک قدسيې ته ورواستولو چې په کې يې په دې خبرې ټينګار کړی و چې هغه دې واک خپل زوم ته وسپاري. د قدسيې بې له دې نور وس ونه رسېد چې له بهوپال ښار نه د اسلام نګر کلا ته ولاړه شي. برتانيا هغې ته اته سوه او شپاړس کلي په جاګير کې ورکړل او د يولسو توپو د سلامي اعزاز يې هم ورکړ. په

راتلونکيو واکمنانو لپاره يوه بېلګه وه. ددې په حکومت کې د بهوپال اقتصاد په خپلو پښو ودرېدو. دې د خپل شخصي خرڅ لپاره له خزانې څخه يوه پيسه نه اخيستله. کالي پټري يې نه کول. په طبعيت کې ډېره ساده او له غروره خلاصه ښځه وه. خو په ودونو کې به يې کله کله له نورو ښځو سره خپل غړ ورګډ کړو. ددې د وروستيو کلونو يو انځور پاتې دی چې پکې دا يوه لوړه او نرۍ مېرمنه ښکاري. په سريې لوپټه او په سترګويې عينکې دي.

په بهوپال کې د موتي مسجد په نامه د جامع جومات تر جوړېدو وروسته يې د پرانستنې مراسمو ته ولاړه. خو په ټول وخت کې د دې لوی انګړ د يوې ونې سيوري ته ناسته وه او سترګې يې ټيټې نيولې وې. وروسته چې له دې پوښتنه وشوه چې ولې يې د دې دومره ښکلي جومات منارونو او ګنبدې ته نه کتل، نو دې وويل: ''زه وېرېدم هسې نه ددې په ليدو سره به په ما کې غرور پيدا شي.''

دا به د ښار په لارو کوڅو کې پلې ګرځېده. د غريبو خلکو کورونو ته به ناڅاپه وردننه شوه چې د هغوی حالت له نژدې وګوري. د ماڼۍ په چمن کې يې يوه لويه ټلۍ ايښې وه او خلکو ته يې اعلان کړی و چې که هر څوک کومه ستونزه لري نو دا ټلۍ دې وغړوي. ددې ماڼۍ په وره کې هر ورځ دوه منه ۸۰ کيلو غنم ايښودل کېده. د سهارلمانځه وروسته به ضرورتمندو ته وېشل کېدل. په لومړي ځل يې د ښځو اوبو لپاره په بهوپال کې يو نل (پايپ) تېر کړ. د اورګاډي پټلۍ د غزولو لپاره يې له خپلو شخصي پيسو پانګه ورکړه. په مکه او مدينه کې يې د بهوپال د حاجيانو لپاره سرايونه واخيستل، چې اوس هم شته. په خپل باغ کې به يې له عامو خلکو سره ليدل. د هغوی ستونزې به يې اورېدې او مرسته به يې ورسره کوله. د رياست خزانه

۱۸۳۷ کې جهانګير محمد په يوه ځانګړي دربار کې د بهوپال نواب وټاکل شو. هغه له نواب کېدو سره سمدستي قدسيې بېگم ته پتمن د پوځ مشر بخشي بهادر محمدخان ته وړانديز وکړ، چې که د قدسيې بېگم له ملاتړه لاس واخلي نو لويې مځکې به په انعام کې ورکړي. بهادرخان ورته په ځواب کې وويل:

''زه په بد وخت کې د خپل مربي سره نيمه وچه ډوډۍ خوړې شم خو د يوه ډارن او ناسپاله کس په خدمت کې د مال خاوند نشم کېدی.''

ده له خپلو دوو زامنو صدرخان او باقي خان سره يو ځای خپلې تورې د تيکو نه واېستلې او له هغې ډلې سره روان شول چې په کې قدسيه بېگم د اسلام نگر د کلا پر لوري روانه وه.

د جهانګير د نواب کېدو سره سم د بهوپال فضا بدله شوه. په ماڼيو کې د رقص او سرود محفلونه شراب او د مېلمستاوو دوران پيل شو. دی په خپله يو شاعر و او ارام ژوند يې خوښېده. د زمري ښکار، د نورو ښځو سره روابط او د شرابو څښل ورته عيب نه ښکارېدل.

ده په بهوپال کې يوه نوې سيمه د جهانګير اباد په نوم ودانه کړه. د پوځ لپاره يې چاونۍ او د ځان لپاره يې يوه نوې ماڼۍ جوړه کړه. سکندر بېگم به هره ورځ د خپلې مور قدسيې بېگم پوښتنې ته اسلام نگر ته ورتله. د جهانګير نواب په دربار او مېلمستيا کې به انګرېزان هم شامل وو.

سکندر بېگم به په هره موقع له خپل خاوند سره مله وه. يوه ورځ د انګرېزانو استازي ويلکينسن چې هر وخت به د جهانګير نه تاوېدو راتاوېدو، سکندر بېگم ته ورنږدې شو. د هغې د الماسو غوږوالي ته يې لاس يوړو او ويې ويل:

''بېگم صېب ستا کالي څومره ښايسته دي!''.

سکندر بېگم د ټولو خلکو په وړاندې ويلکينسن ته پر مخ يوه څپېړه ورکړه او په قهر يې ورته وويل:

''ويلکينسن صېب! ته نه يې خبر چې يوې پردۍ مسلمانې ښځې ته لاس وړل د هغې سپکاوی وي.''

امير محمدخان او د هغه د ډلې له خوا اوس دا سازشونه کېدل چې څرنګه سکندر بېگم له مېنځه يوسي. ځکه له قانوني پلوه دا نوابه وه او سره له دې چې جهانګير په نامه د بهوپال نواب و. خو عامو خلکو اوس هم د قدسيې بېگم او د هغې د لور سکندر بېگم درناوی کاوه. د جهانګير له لارې اميرمحمد خپله غوښتل چې واکمن شي. اخر يې خپل زوی دومره ولمساوه، چې خپله مېرمن ووژني. دده د واده درې کاله شوي وو. سکندر بېگم اوس حامله وه او په څو ورځو کې دننه يې ماشوم کېده. دا به د شپې خپله کوټه کې يوازې ويدېده. جهانګير به د خپل عېش و نوش له محفلونو د شپې ناوخته ورتلو.

يوه شپه سکندر بېگم د هرې ورځې په شان په خپل کې کټ ملاسته وه. هغې بهر د اس د راتلو غږ واورېدو. خوشاله شوه چې جهانګير نن شپه د وخته کوټې ته ورروان و. د پښو ښکالو يې تر غوږو کېده، خو هغې د لوی کټ له پردو نه اندازه لګوله، راتلونکی د برنډې پر پونړو د ختلو پر وخت د برنډې پر څنډو بلېدونکي روغني څراغونه هم يو يو مړه کړل. نابېره سکندر بېگم پوه شوه چې د خاوند په جامه کې يې اجل راروان دی. هغې د چپرکټ له پردو کتل چې د هغې خاوند جهانګير توره په لاس کوټې ته ورننوتو. دا ساه نيولې ملاسته وه. مرګ ترېنه څو ګامه لرې و. په دې وخت کې هغې ځان په څادر کې تاوراتاو کړ او يو غټ بالښت يې په ځان کېښود. جهانګيرد تورې يو زورور ګوزار وکړو او د هغې په تېره څوکه يې په ګوته د تودو وينو

احساس وکړو نو پوه شو چې د هغه اندازه سمه وه. ښځې له د توري يو گوزار کافي وي. سمدلاسه يې پښې سپکې کړې او له کوټې ووتلو. بهر پيرادارن حيرانه وو چې جهانگير نن شپه بېرته په اس کښېناستو او په تلوار له ماڼۍ ووتلو. خو ورسره د سکندر بېگم چيغې يې واورېدې او چې دوی دننه ورمنډې کړې نو گوري چې د سکندربېگم کټ په وينو لړلی دی.

د توري گوزار نيم په بالښت او نيم د سکندربېگم په مړوند او ملا شوی و. هغې د ملهم پټۍ امر وکړ او چې سپېدې چاودېدې نو د خپلو ساتندويانو په بدرگه د خپلې مور قدسيې بېگم پر لوري اسلام نگر ته روانه شوه.

په بهوپال کې ډېر ژر دا خبر خپور شو چې جهانگير د شپې د خپلې مېرمن د وژلو هڅه کړې وه. په دې پېښې سره د عام ولس له سکندر بېگم او قدسيې سره نور هم زړه سوی پيدا شو.

د امير محمد او غوث محمد د کورنۍ تر منځ هغه معمولي رسمي اړيکي چې پاتې وو په دې کړنې او عمل سره هغه هم له منځه ولاړل. اوس په جار دښمني پيل شوه.

په اسلام نگر کې د بخشي بهادر، محمد خان او قدسيې نور وفاداره اميران د مور او لور دواړو تر څنگ ودرېدل. له حملې دوه مياشتې وروسته د سکندربېگم لور وزېږېدله او نوم يې شاه جهان بېگم ورباندې کښېښود.

اوس بهوپال عملا په دوو برخو وېشل شوی و. مور او لور په اسلام نگر او جهانگير له بهوپاله حکومت کاوه. قدسيه بېگم يو وارې بيا فعالعه شوه او انگريزانو ته يې داسې پېغامونه ورلېږل چې د هغې پر لور له وژونکي بريد وروسته جهانگير د واکمنۍ حق بايللی دی او

بايد چې سکندر بېگم د بهوپال واکمنه اعلان کړل شي. خو د انگرېزانو استازي هم هغسې د جهانگير ملاتړ کاوه. د وخت په تېرېدو سره د بهوپال وضعه په خرابېدو شوه. د قدسيې هغه کارکوونکي چې د خلکو د ستونزو حلولو ته به تيار وو اوس د جهانگير خپلو خپلوانو په پيسو اخيستي وو. کله چې خزانه په تشېدو شوه نو ويلکينسن په دې وخت کې جهانگير ته خبرداری ورکړ چې خپل چلن دې سم کړي.

انگرېزانو د قدسيې بېگم غوښتنې ته ځواب ورکاوه چې په بهوپال کې ښځه نشي واکمنه کېدای. ددې په ځواب کې به قدسيې د برتانيا د ملکې ويکټوريه مثال ورکاوه چې د دومره لوی سلطنت د واکمنې په حيث انگرېزانو ته د منلو وړ ده نو ولې بيا په دې وړوکې نوابۍ کې د ښځې واکمني نه مني. په ۱۸۴۱ کې ويلکينسن مړ شو، نو د هغه پر ځای د انگريزانو استازی هېنري ټريوليان په بهوپال کې وټاکل شو.

نوي استازي له نژدې نه په بهوپال کې حالات وڅارل. د دواړو غاړو خبرې يې واورېدې نو په خپل رپورټ کې يې وليکل چې دوی د جهانگير په ملاتړ يوه ډېره غلطه تگلاره يا پاليسي خپله کړې ده. ده وار په وار جهانگير ته د هغه کمزورۍ په گوته کړې او د اصلاح غوښتنه يې ترې وکړه.

په ۱۸۴۴ کې جهانگير د پښته ورگي په ناروغۍ اخته شو او ډېر ژر يې حالت خراب شو. خپل مرگ ورته نږدې ښکاره شو او خپلې مېرمنې ته يې ليک ورواستولو. د خپلې پخوانۍ مينې واسطه يې ورکړه او ورته يې وويل: که هغې ورسره گډ ژوند کولی نو ده به د يوه

ښه نواب په توګه حکومت کړی وای. د هغه لور شاهجهان بېګم اوس د شپږو کالو وه.

سکندر بېګم چې دا ليک تر لاسه کړ، نو هغې خپل خاوند وښلو. د خپل قتل سازش يې هم هېر کړ او له خپلې لور سره يو ځای له اسلام نګره بهوپال ته روانه شوه.

دې نژدې يوه اونۍ د خاوند له کټ سره تېره کړه! هغه د خپلې ماشومې لور په ليدو ډېره خوشاله و. خو د اونۍ په پای کې د جهانګير پلار او د هغه ماما له سکندر بېګم نه غوښتنه وکړه چې له دې ځايه دې ولاړه شي. د جهانګير د ژوند وروستۍ شپې وې او امير محمد په دې پوهېدو که سکندر بېګم د جنازې پر وخت هلته موجوده وي نو د نوابۍ دعوه به وکړي. همدغه وجه وه چې خپله نږور او لمسۍ يې په زوره له ماڼۍ وويستلې. مور او لور دواړه په سرو سترګو په ګاډي کې کښېناستې خو نيمايي لاره کې خبرې شوې چې جهانګير ساه ورکړه.

د هغه د مرګ سره سمدلاسه امير محمد انګرېزانو ته دا وليکل چې جهانګير نارينه اولاد نه لري او حکومت د نارينه وو کار و، نو ځکه د نوابۍ حقدار او د خپل زوی وارث دی. دده له دې دعوې سره د اورکزيو په کورنۍ کې د دوست محمد نور لمسي هم راپورته شول او د خپل حق غوښتنه يې کوله. قدسيې بېګم يو واري بيا د خپلې لور د حق لپاره نوي استازي ته ليک ورواستاوه. د انګرېزانو له ليکنو داسې ښکاري چې دوی هغه وخت کې سره له دې چې د انګلستان او ټول هند واکمنه ملکه ويکټوريا وه خو په بهوپال کې يې د يوې مسلمانې ښځې واکمني نه پرېښوده. دوی د نوابۍ لپاره د قدسيې بېګم د ورور موعېز پوځدارخان پلوي کوله.

په ۱۸۴۵ کې دوی اعلان وکړ چې د بهوپال نوابه به اوه کلنه ماشومه شاهجهان بېګم وي چې د خپل پلار وارثه ده.

دا چې هغه د اوو کالو ماشومه وه، نو ځکه د هغې پر ځای د قدسيې بېګم تر ټولو کشر ورور موعېز پوځدارخان به د هغې لپاره فيصلې کوي يانې عملا پوځدار خان واکمن و، خو سکندربېګم به د خپلې لور سرپرسته وي او پوځدار به په حکومتي معاملو کې له هغې نه مشورې اخلي. له دې فيصلې سره د اميرمحمد او د هغه د پلويانو دعوو ته د پای ټکی کېښودل شو. خو د قدرت او حکومت تږي اميرمحمد په دې فيصلې بيا توري ته لاس کړ. لښکر يې جوړ کړ او بغاوت يې اعلان کړ. خو په دې نه پوهېده چې اوس د هغه مقابله له ښځې سره نه بلکې انګرېزانو سره وه. په يوه معمولي جنګ کې يې ماتې وخوړه او ګرفتار شو. انګرېزانو دی په بندي خانه کې واچاوه او هم هلته نهه کاله وروسته په ۱۸۵۴ کې مړ شو. قدسيه بېګم له خپلې لور او لمسۍ سره لکه د فاتح په ۱۸۴۵ کې د نوابۍ ګاډي کې يو واري بيا بهوپال ښار ته ورداخله شوه. د سړک دواړو غاړو ته خلک ددې د هرکلي لپاره راوتلي وو.

په شاهي ماڼۍ کې د سکندر بېګم او د پوځدارخان تر سيوري لاندې حکومتي کارونه پيل شول. خو انګرېزانو ته ډېر ژر اندازه وشوه چې په يوه تېکه کې دوې تورې نه ځايېږي. سکندر انګرېزانو ته وليکل: دا کار کول غواړي خو اختيار نه لري. انګرېزانو همدا خبره معلومه کړه او پوځدارخان يې له خپلې دندې لرې کولو ته اړ کړ.

×××

په ۲۷ جولای، ۱۸۴۷ کې د بهوپال په یوه ځانګړي رابلل شوي دربار کې د انګرېزانو استازي جې- ډي کنینګم د خپل حکومت له خوا اعلان وکړ چې سکندر بېګم به د بهوپال د نوابۍ سرپرسته او د خپلې نهه کلنې لور شاهجهان له خوا واکمنه وي. په دې اعلان سره د هغې د ۲۱ کالو د نوابۍ دوره پیل شوه. لومړیو دیارلسو کالو کې دا د خپلې لور شاهجهان سرپرسته وه او وروسته اته کاله یې خپله واک لاره.

سکندر بېګم اوس د ۲۷ کالو وه دا په وجود او شخصیت کې د خپلې مور قدسیې بېګم په څېر وه. د خپلې مور غوندې یې د ژوند ښې شېبې په کورنیو سازشونو، جنګونو او ځان ساتلو کې تېرې شوې وې. له وړوکوالي نه پوهېده چې پر اوږو به یې دروند پېټی اېښودل کېږي. دې په ماشوموالي کې د اس سپرلي، د تورې او نېزې وهل او د غشي ویشتلو تربیه اخېستې وه. د خپلې مور قدسیې بېګم په نوابۍ کې دې د پوځي ډلګیو مشري کوله او پوځي مهماتو کې به پخپله هم شریکه وه. دا هم د خپلې مور په شان د عقیدې ټینګه مسلمانه وه، خو پرده به یې نه کوله. په بهوپال کې دننه به یې مخ نه پټاوه. خو کله چې به په سفر تله نو د ورېښمو سپینه بورقه به یې اغوستله، او د هغې له پاسه به یې د مرغلرو تاج هم اېښودلو. دې ډېر ساده ژوند تېرولو، خو په رسمي مراسمو او دربار کې لکه د نارینه نوابانو غوندې په دبدبه اورعب کښېناستله. له خپلو درباریانو سره به یې په سخته لهجه خبرې کولې او هېڅا ددې په حضور کې سترګې نشوې اوچتولې.

پينځم څپرکی
د سکندر بېګم نوابي

د سکندر بېګم لومړی مهم کار دا و، چې هغې د بهوپال د پوځ کنډکونه رسمي کړل. له دې وړاندې به د اورکزیو د کورنۍ خانانو د خپلو ډلګیو مشري کوله او نظم به په کې نه و.

سکندر بېګم په لومړي ځل د پوځیانو د معاش سیستم معرفي کړ. د دوی لپاره یې بارکونه جوړکړل. د سپرو او د پلي لښکر ډلګۍ یې بېلې کړې او یوه منظمه توپخانه یې برابره کړه. د سرکاري وسلو د ثبت او ساتنې لپاره یې بېل وسله تون جوړکړ. هغې په خپله د پوځي رسم ګزشت (پرېډ) معاینه کوله. ددې دویم کار دا و، چې د بهوپال مځکې یې کچ کړې. بهوپال یې په دریو انتظامي برخو وویشلو چې هرې برخې کې یو ویشت ولسوالۍ وې. د هرې ولسوالۍ حدونه یې وټاکل او په لومړي ځل د بهوپال په سرحدونو د نښې ستنې ودرول شوې.

د هرې یوې ولسوالۍ یو ولسوال یا ناظم او عامل وټاکل شو او دوی ته به معاش ورکول کېده. د مالیې راټولو لپاره یې ۵۰ سپاره او ۵۰ پلي افسران وټاکل. د خپلې نوابۍ په لومړي یو کال کې دننه هغې د بهوپال ۳۰ لکه روپۍ پور پرې کړ، چې زیاتره پیسې ددې خاوندد خپلو خرڅونو لپاره اخیستې وې.

دې د لومړي ځل لپاره د پولیس نظام هم جوړکړ، چې لرې پرتې سیمې به یې اداره کولې. ددې برسېره یې د ګمرک (محصول) او استخباراتو څانګې رامنځ ته کړې چې دې ته به یې د مځکو د حاصلاتو او د عامو خلکو د مشکلاتو خبرونه راوړل. دعدلیې نوی سیستم یې معرفي کړ، چې په کې قاضیان او وکیلان یې له بهوپاله بهر له نورو سیمو راوغوښتل. ددې هدف دا و چې خلکو سره انصاف وشي. د عدالت او قاضي د فیصلې پر ضد د اپیل حق هم خلکو ته

ورکړی شو. قوانین یې داسې جوړکړل چې د هندو او مسلمان د دواړو خیال په کې ساتل کېده.

د سکندر بېګم په نوابۍ کې په بهوپال کې د لومړي ځل لپاره خپله سیکه جوړه شوه او د ډاک (پوست) نظام معارفي کړی شو، چې له بهوپاله بهر یې هم دفترونه لرل. دې د لومړي ځل لپاره د محاسبې مشر وټاکلو، چې د ټولو ادارو حساب کتاب وګوري او د فساد او رشوت مخه ونیول شي. د هغې اصلاحات په دریو څانګو کې شوي وو. سیاست، تعلیم او حکومت.

په بهوپال کې لومړۍ ولسي جرګه یا مجلس ددې په وخت کې جوړ شو چې د یوه ټاکلي پارلمان دنده یې پر مخ بېوله. په دې پارلمان کې بېلا بېلو مذهبونو او د سیمو خلک چې پکې سپین ږیري، تعلیم یافته، بې تعلیمه، مذهبي او مسلکي هر ډول کسان شامل وو. دې شورا به قوانین جوړول او پر ستونزو به یې ازاد بحث کاوه. چې هغه وخت یو ډېر پر مختللی ګام و. دغې شورا د بیان د ازادۍ قانون جوړ کړ او په ډېرو رایو سره ومنل شو.دې شورا له ۱۸۴۷ نه تر ۱۸۶۴ پورې ۱۳۴ قوانین جوړ کړي وو.

د تعلیم په ډګر کې یې نه یوازې د هلکانو او نجونو ښوونځي جوړ کړل، بلکې له یمن او سعودي عربستان نه یې استاذان او عالمان راوبلل، چې د نواب کورنۍ ښځو او سړیو ته به یې د قرآن او حدیث درس ورکاوه. د استاذانو د هستوګنې لپاره وړیا ځایونه جوړشول او له دې پرته ورته مځکې او نغدې پیسې هم ورکول کېدې. د سکندر بېګم په امیرانو کې یو تن مولوي جمال الدین نومیده چې د هغې د لور شاه جهان بېګم اتالیق و. په دې دور کې د بهوپال رسمي ژبه د فارسي پر ځای اردو وټاکل شوه.

د حکومت او ادارې په ډګر کې يې د بهوپال ښار سړکونه پراخه کړل. چې د اس ګاډي پکې تېرېدای شوی. د شپې په لارو کوڅو کې په هر پنځوس ميټره واټن کې د تېلو څراغونه بلېدل. د هندوانو او مسلمانانو لپاره يې بېل بېل سرايونه جوړ کړل. د يو لوی روغتون او بې شمېره وړو کلينيکونو برسېره يې د وګړو د روغتيا لپاره قانون جوړ کړو او حکيمانو ته امر وشو چې د هندوانو او مسلمانانو لپاره دې د هغوی د مذهبي حساسيت په احترام بېل بېل داروګان جوړ کړي. ددې په دور کې د لومړي ځل لپاره د پور ورکولو سيستم پيل شو. خلکو به له حکومته پور واخيست او وروسته به يې په اسانو قسطونو پرې کاوه. د حکومت له خوا د ځنګلونو يوه څانګه هم پرانستل شوه چې د چاپېريال ساتنه وکړي او په ناقانونه توګه د ونو پرېکولو مخه ونيسي. په دې وخت کې له نور هند سره د بهوپال، د مځکې له لارې د نښلولو لپاره د اورګاډي پټلۍ په جوړېدو لاس پورې شو. خو هغه د اورګاډي ليدو ته ژوندۍ پاتې نه شوه. لومړی اورګاډی په ۱۸۸۲ کې د خاني انجن سره راغی.

د سکندر بېګم مشکلات

د سکندربېګم کورنۍ ته وفاداره د پوځ مشر بخشي بهادر محمد خان مړ شو، نو د ده مشر زوی صدر محمد د پوځ د قومندان وظيفه ترلاسه کړه. خو دوه کاله وروسته صدر محمد هم په ځوانه ځوانۍ کې مړ شو او د پوځ مشري د ده کشر ورور باقي محمد ته وسپارل شوه. قدسيې او سکندر د نورو خپلوانو په پرتله د پښتنو په دې کورنۍ ډېر زيات اعتماد کاوه. ددې کورنۍ غړيو د قدرت او

واک پر ځای مسلکي جنګ او د دوست محمد له کورنۍ سره د پټ پاللو لاره خپله کړې وه.

د سکندر بېګم لور اوس د پېغلتوب په درشل کې وه. سکندر بېګم له انګرېزانو نه هم هغه ژمنه ترلاسه کول غوښتل چې يو وخت د دې مور قدسيه بېګم د خپل خاوند نذرمحمد له مړينې وروسته غوښتې وه.

دواړو مېرمنو انګرېزانو ته دا ښودله چې دوی د حکومت کولو وړتيا لري. سکندر بېګم ليدل چې د انګرېزانو استازی هومره مخالف نه وو، لکه ويلکينسن چې وو. تر ټولو مهمه خبره دا وه چې د برتانيا پر شاهي تخت يوه ښځه ناسته وه. په دې حالاتو کې سکندربېګم د ليک له لارې له انګرېزانو سره اړيکي ساتلې وو او د خپلې لور شاهجهان بېګم د نواب کېدو په لړ کې يې خپل شرايط وړاندې کړل. په دې کې تر ټولو مهم شرط دا و چې د شاهجهان بېګم له واده وروسته به د هغې خاوند نه يوازې دا چې نواب نه وي بلکې انتظامي اختيارات به هم نه لري. د بېلګې په توګه يې ورته د ملکې ويکټوريې د خاوند شهزاده البرټ نوم وليکلو. دويمه دا چې د شاهجهان بېګم لپاره د يوه مناسب خاوند غوره کولو اختيار به يوازې د سکندربېګم په لاس کې وي او درېيم دا چې سکندربېګم به تر مرګ پورې د خپلې مځکې نوابه وي. په دې ليکونو کې سکندربېګم د ملکې ويکټوريه نوم بيا بيا ياداوه، مانا يې دا وه چې که انګرېزانو ته يوه ښځه واکداره عيب نه دی نو بايد د بهوپال لپاره هم عيب ونه ګڼل شي.

په ۱۸۵۴ کې چې شاهجهان بېګم د ۱۲ کلونو شوه، نو د هغې لپاره د خاوند په لټون سکندربېګم د ټول هند د بېلا بېلو پښتنو کورنيو او قبيلو ۱۲ زلميان هند ته راوبلل. د دوی ښې مېلمستياوې

وشوې او ځینې په کې د ځو ورځو وروسته ولاړل. په اخر کې يوازې شپږ ځوانان پاتې شول چې ټول د دوست محمدخان د لمسو اولادونه وو. سکندربېگم دوی هم رخصت کړل او انګرېز استازي ته يې وليکل. په دوی کې يو ځوان هم زما د لور ور نه دی. دا چې سکندر بېګم ولې دا کار وکړ. لومړی خو دا چې هغې انګرېزانو ته ښودل چې دا د خپلې لور شاهجهان خوښې ته هم ګوري. کله چې دې ۱۲ زلمي بهوپال ته راوبلل، نو انګرېزانو ته يې دا وليکل چې هغه غواړي د دې لور په خپله ځان ته مېړه خوښ کړي او په دې خبره کې يو څه حقيقت هم وو. ځکه له ځينو ځوانانو سره شاهجهان بېګم د ليکونو له لارې د مينې لنډمهالی تعلق هم پاتې شوی و. ډېر ځوانان يوازې په دې حرص بهوپال ته ورغلي وو چې له يوې ښکلې او ځوانې شهزادګۍ سره به هم واده وکړي او د مسلمانانو د يوې پراخې نوابۍ واکمن به هم شي.

ان تر دې چې په دې ځوانانو کې د مغول واکمنې کورنۍ يو شهزاده هم شامل و. اورکزيو ځوانانو خو دا خپل حق ګاڼه. خو سکندر بېګم نه غوښتل چې هغه خونړۍ تاريخ بېرته تکرارشي. د واک پر سر د هغې په خپل ژوند تېرې د هغې ياد و. په ۱۸۵۴ کې سکندربېګم د خپلې مور قدسيې سره د سلا مشورې وروسته د بهوپال د پوځي ځواک مشر سردارباقي محمدخان چې د بخشي بهادرمحمدخان زوی و خپل دربار ته راوباله او هغه ته يې امر وکړ چې له شپاړس کلنې شاهجهان سره دې واده وکړي. باقي محمد په دې خبره حيران پرېشان پاتې شو. سکندر ته يې زارۍ وکړې چې دی د بهوپال يو خدمتګار دی او نشي کولای چې په شاهي کورنۍ کې وردننه شي. دويمه دا چې هغه لا پخوا دوه ښځې او له هغوی څخه يې اولادونه لرل.

هم په دې ورځ باقي د سپينو زرو په يوه طشت کې سکندربېګم ته د ويښتو رنګولو بوتل، مصنوعي غاښونه او عينکې ورواستولې. دا ددې خبرې نښه وه چې دی زوړ او شاهجهان ځوانه وه. خو په سکندر يې هېڅ اثر ونه کړ. هغې لا پخوا دا فيصله کړې وه. باقي ته يې ډېر په سختۍ وويل چې کله د انګرېزانو هوکړه (رضايت) ورته راشي نو سمدستي به واده وي.

سکندر او قدسيې ولې دا فيصله کړې وه؟ دوی نه غوښتل چې د جهانګير په شان يو وارې بيا په خاندان کې تربګنې پيدا شي. د خپلې کورنۍ په خلکو دوی دواړو اعتماد نه کاوه. بهرني د دوی لپاره د منلو وړ نه وو. د دوی يو داسې کس په کار و چې بهوپال ته وفاداره او بې غرضه کس وي. انګرېزانو په دې هېڅ اعتراض ونه کړ. هغوی د سکندر او قدسيې د کورنۍ تاريخچې نه خبر وو. دوی د شاهجهان په تخت د کښېناستو لپاره ۲۱ کاله عمر وټاکلو. د شاهجهان بېګم او باقي محمدخان په ۱۸۵۵ کې واده وشو او په دې موقع باقي محمد ته د امراولدوله خطاب ورکړی شو. ددې سربېره هغه ته په بهوپال کې د توپو د سلامي، لوی جاګير، يو فيل او د پالکي اعزازونه هم ورکړی شول.

(پالکی هغه ډولۍ ده چې نوابان به په کې له يوځايه بل ځای ته تلل او څلورو مزدورانو به اوچتوله.)

سردار باقي محمد د اورکزيو ميشتي خيل وو. دده کورنۍ د دوست محمد او په تېره بيا وزير خېلو ته ډېر خدمت کړی و. دی په هډ مضبوط او ټينګ سړی و. سهار به يې درې ساعته ورزش کاوه. بيا به يې شپږ سېره شيدې څښلې. په يوه لاس به يې د اوبو هغه ارهټ چلولو چې دوو غويانو چلاوه. وايي ده يو ځل يوه غرڅه په دواړو

لاسونو په هوا کې اوچت کړ. چې څلورو کسانو نشو اوچتولی. له شاهجهان بېګم سره دده واده د اطمینان هغه ګړۍ وه چې دواړو قدسیې او سکندر بېګم له ډېرې مودې غوښته. خو په دې وخت کې له بهوپاله لرې په ډیلي او ځینو نورو ځایونو کې د انګرېزانو پر ضد د خپلواکۍ یو پاڅون پیل شوی و.

په **۱۸۵۷** کې د انګرېزانو خلاف یو پاڅون وشو، چې د هند خلک یې د خپلواکۍ جنګ او انګرېزان یې غدر یا بغاوت بولي. د دې پیل د ځینو هغو پوځیانو په بارکونو کې وشو چې د انګرېزانو چاونۍ په کې وې.

په دې وخت کې سکندر بېګم چې د انګرېزانو ملاتړ یې لاره، خپلو پوځیانو ته یې معاشونه زیات کړل او دوی ته یې امر وکړ چې د نورو سیمو د خلکو یا د پوځیانو په لمسون دې غوړوونه ږدي. خو په بهوپال کې دریو ډلو په دې پاڅون د انګرېزانو پر ضد توري راپورته کړې. د یوې ډلې مشري فاضل محمد کوله، چې د دوست محمد کړوسی و او غوښتل یې چې په دې پاڅون کې سکندربېګم له واکه لرې کړي. دویم هغه پوځیان وو چې د انګرېزانو پر ضد وو او د دوی مشري ولي شاه او مهاویر په نامه دوو افسرانو کوله. په دوی کې هندوان او مسلمانان دواړه شامل وو. دوی خپل ځینې افسران هم په دې ځایونو کې ووژل. دریمه ډله مذهبي عالمان وو چې ددې پاڅون پر وخت یې فتواګانې ورکولې او د انګرېزانو پر ضد جنګ یې جهاد ګڼلو. او د مغول پاچا بهادرشاه ظفر تر بیرغ لاندې یې د راټولېدو غږ کاوه. د پوځیانو بغاوت پنځه میاشتې جاري و. اخر دوی چاونۍ ونیوله او شاهي ماڼۍ یې چارچاپېره محاصره کړه. او غوښتنه یې وکړه چې سکندر بېګم دې دوی ته وسپارل شي. هغې خپل زوم امراولدوله

راوباله او غوښتنه یې ترې وکړه چې له پوځ سره دې خبرې وکړي. او د حل لاره دې راوباسي. په دویمه ورځ د پوځ غوښتنه ومنل شوه د دوی معاشونه یې زیات کړل او سمدستي خطر لرې شو.

عجیبه خبره دا وه چې د پاڅون په لومړیو ورځو کې قدسیې بېګم خپله هم د هغه یاغي پوځیانو ملاتړ کاوه چې د انګرېزانو پر ضد راپاڅېدلي وو او هغوی ته یې شخصي پیسې هم ورواستولې. کله چې سکندر خبره شوه نو خپلې مور ته یې یو سخت لیک ورواستولو او د بهوپال لپاره په راتلونکې کې یې ددې عمل د نتیجو خبرداری ورکړ. قدسیې بېګم په دې خبره له بغاوته لاس واخیست. سکندر بېګم پوهېده چې که دا پاڅون کامیابه شي نو د دوی واک به هم له مېنځه ولاړ شي. بهوپال به نه د علماوو، نه پوځیانو او نه هم د فاضل محمد لاس ته ورشي بلکې دا به د دوی د ځواکمنو ګاونډیو مرهټو لاس ته ولوېږي او یا به په کې انارشي او ګډوډي جوړه شي. باقي محمد ورو ورو په سپهور کې پوځیان بېرته خپل لاس ته کړل. هغه وخت له ده سره د پښتنو هغه ډلې ملې شوې چې د اوسني صوبه سرحد نه یې راوستي وو. اخوا په ډیلي کې هم د مغولو پاڅون ناکامه شــوی و. انګرېزانو اوس د هند ټول سلطنت په لاس کې لاره. د بهوپال باغیان هم تیت و پرک شول. فاضل محمد ونیول شو او غرغره یې کړ.

د بهوپال سرکاري سندونه ښیي چې په دې ټول پاڅون کې **۱۴۹** یاغیان ووژل شول. د پاڅون کوونکیو دعوا دا وه چې د دوی **۳۵۲** غازیان یا غرغره شوي او یا هم په جنګ کې شهیدان شوي دي.

د انګرېزانو هغه ډلګۍ چې د بهوپال خواو شا له حملو راتښتېدلې وې هغوی هم دغې سیمې ته کډه کوله. سکندر بېګم خپلو سردارانو

ته امر کړی و چې دوی دې په لويو کلاګانو کې وساتل شي او د دوی تر څارنې لاندې دې وي.

وروسته بيا يو ځل له سکندربېګم نه پوښتنه وکړه چې که انګرېزانو په دې جنګ کې کاميابي نه وای ترلاسه کړې، نو بيا به يې څه کولو. هغې ورته په ځواب کې وويل: ''په دې حالاتو کې د بهوپال پوځ دا خبره يقيني کوله چې دوی (انګرېزان) بې وسلې شي.{دا د سکندر بېګم هغه صلاحيت ښيي چې په يو سخت وخت کې د راتلونکې په اړه د پلان او تدبير خاونده وه.}

د غدر يا د ازادۍ له جنګ وروسته د برتانيې سلطنت بهوپال ته نور مراعات هم ورکړل د مننې پيغامونه، امتيازات او بادرۍ يې ورته اعلان کړې. په ۱۸۵۸ کې د شاهجهان بېګم او باقي محمد د واده درې کاله وروسته د دوی لور وزېږيده، چې سلطان جهان نوم يې ورته ورکړو. هغه وخت شاه جهان د شلو کالو وه. مور يې د ۴۰ او انا قدسيه بېګم يې د ۵۸ کالو وه. يو کال وروسته به دې د بهوپال د نوابې په توګه رسمي واک ترلاسه کاوه. خو سکندر بېګم غوښتل چې په خپله د واک په ګدۍ ناسته واوسي. هغې د انګرېزانو استازي ته ليک ورواستاوه.

د هغې دليل دا و چې سکندر بېګم د پنځلسو مياشتو وه چې د هغې پلار ووژل شو او ددې تر ځوانۍ يې مور واکمنه وه. بيا دا واده شوه نو خاوند يې نواب شو. او اوس چې دې په غدر کې خپل صلاحيتونه انګرېزانو ته ښودلي نو واک ددې پر ځای د هغې لور ته سپارل کېږي، چې تر اوسه د سياست او واکمنۍ تجربه هم نه لري. په دې خبره برتانويان په مشکل کې بند شول. يوې خوا ته د سکندربېګم قوي شخصيت او د هغې د انتظام ښه والی و او بل لوري ته د دوی

خپل ترون او شرايط وو چې شاه جهان ته د مکملو اختياراتو په ورکولو يې د ښځې پاچاهي منلې وه. هغوی سکندر ته د نوابې د سرپرستۍ لپاره ټول عمري اختيار ورکاوه. خو دې ورسره نه منل او پر دې به يې ټينګار کاوه چې دا به پخپله ټول عمري نوابه وي.

د انګرېزانو استازي رچمنډ شېکسپيېر بهوپال ته ورغلو او له شاه جهان بېګم سره يې يوازې د ليدلو غوښتنه وکړه. په دې غونډه کې شاه جهان هغه ته خپله فيصله واوروله. هغه دا چې د خپلې مور د نوابۍ لپاره په خپله خوښه له واکه لاس اخلي. په دې فيصله د انګرېزانو ستونزه حل شوه. دا فيصله انګرېزانو په ۱۸۶۰ کې په يوه رسمي دربار کې اعلان کړه او د لومړي ځل لپاره يوه مسلمانه ښځه سکندربېګم د بهوپال واکمنه او د هغې لور شاهجهان بېګم يې ځای ناستې شوه.

له دې اعلان سره سکندربېګم سمدستي يو څه ارامه شوه. په بهوپال کې اوس د هغې پښې ټينګې شوې. د دښمنانو له خوا هغه خطر کم شو چې هر وخت به ورسره و. اوس هغې کولای شو چې له بهوپاله بهر ووځي او د يو څه وخت لپاره اداري کارونه خپلې لور ته پرېږدي. د باقي محمد په موجودګۍ د پوځ له خوا هم بې غمه وه. هم دا حالات وو چې هغې د حج لپاره ملا وتړله.

په ۱۸۶۳ کال د نومبر په مياشت کې سکندربېګم له خپلې مور قدسيې بېګم او ماما مويز پوځدار سره يو ځای د حج لپاره مکې ته روانه شوه. دا سفر په دې لحاظ تاريخي دی چې تر دې وړاندې د هندوستان يو واکمن هم چې ښځې او نارينه دواړه په کې شامل وي، پخپلې واکمنۍ کې حج ته نه ووتللي. له هغې سره ۱۵۰۰ کسان مله وو. دا سفر لومړی په سړک بيا په اورګاډي او بيا په دريو سمندري

ببرېيو ترسره شو. ددې لپاره په میاشتو میاشتو تیارۍ شوې وې. په لويو سردارانو کې د هغې ديوان مولوي جمال الدين،د پوځ قومندان يو شمېر وزيران، جاګيرداران، ډاکټران، نرسانې، ساتندويان، خانسامان (ډوډۍ پخوونکي)، نايان، دوبيان، ښځينه خدمتګارې، پياده او قاصدان او بې شمېره نور خدمت کوونکي شامل وو. دوی د کاروان په شکل د سړک له لارې په پيلانو او اسونو سپاره مهارګام ته ورسېدل. هلته په اورګاډي کې ممبۍ ته ولاړل او په ۱۸۶۴ م کال د جنورۍ پر شپږمه نېټه د سمندر له لارې جدې ته روان شو. يوه بېړۍ د خاني او دوه بادباني وې. ۲۰ ورځې وروسته دوی جدې ته ورسېدل. خو د دوی سفر له مشکلاتو او ستونزو ډک و.

جدې ته په رسېدو د ترکيې يوه والي (ګورنر) او د مکې معظمې شريف شيخ عبدالله بن محمد ابن عاون دوی ته د توپو په ډزو سره رسمي هرکلی وکړ. خو د دوی د دومره لويې ډلې راتلل او ځايول ګران کار و. په بندر کې د سکندر بيګم د قيمتي سامانونو د تلاشي په پلمه د هغې د لرګي يوه پېټۍ ماته کړی شوه او له هغې نه کالي او ګاڼې غلا شوې. د هغې په قيمتي سامان د ماليې غوښتنه وشوه. د سکندر بېګم د اوسېدو لپاره چې کوم کور ټاکل شوی و کله چې دا هغه ته ور روانه شوه، نو ورته خبر ورکړل شو چې د مصر يو شهزاده راروان دی نو ځکه دا په هغه ځای کې نشي ايسارېدای. سکندر بيګم خپل ځان ته د استوګنې بل بندوبست وکړ. وروسته معلومه شوه چې د مصر شهزاده هېڅ رانغی.

له جدې نه مکې ته سفر هم له خطره ډک و. له کاروان سره د عثماني سلطنت يو استازی سليمان بېګ او د مکې د شريف ورور مله وو، چې ورسره عرب او ترک محافظان وو او د کاروان بدرګه يې کوله.

سکندر بېګم سره په خپله د بهوپال ساتندويان هم وو. په دې سيمه کې د بهوپال د واکمنانو د شتمنۍ او سخاوت کيسې لا پخوا مشهورې وې، په تېره بيا قدسيه بېګم چې د خپل ګاډي نه به يې روپۍ بهر ته غورځولې او ددې په نتيجه کې به سوالګر هم پر دوی راټول شول. ددغسې خيرات په کولو سره سکندر بېګم څو ځلې خپله مور وترټله، خو هغې به نه منل.د عربستان د دښتو بدو قبايلو ته هم د دوی د شتمنۍ خبرونه رسېدلي وو او څو وارې په دې قافله حمله وشوه خو څه خاص تاوان يې ونه کړ.

يوه شپه د قدسيې بېګم اوښ ځينو بدوګانو په مخه کړو او نژدې دا تښتول شوې وه چې ددې په شور زوږ د بهوپال محافظانو ورپسې خپل اسونه وزغلول او د يوې لنډې جګړې وروسته يې دا وژغورله. مکې ته په رسېدو د شريف لخوا د هرکلي په توګه د بهوپال حاجيانو ته پنځوس ډوله خواړه د ورځې درې ځلې ورواستول شول. سکندر او قدسيې دواړو دا ډوډۍ ونه خوړه. په عربي نړۍ کې د چا ډوډۍ نه خوړل د هغه سپکاوی ګڼل کېږي. د مکې د والي غوږ ته دا خبره ورسېده او په دويمه ورځ شل ترک پوځيان د سکندر بېګم د کور پخلنځي ته ورننوتل او لوښي لرګي يې ورمات کړل. مولوي جمال الدين يې ووهلو او ګواښ يې وکړ چې دوی به هغه چا ته سزا ورکوي چې د شريف يا د والي سپکاوی وکړي. سکندر بېګم په دې پېښه خپل کوربه ته د احتجاج يو ليک ورواستاوه چې په کې يې ليکلي وو: هغې د يوه مسلمان سلطنت د واکمنۍ او د يوې مسلمانې ښځې په توګه چې حج ته راغلې ده، د داسې چلند تمه نه لرله. شريف د روغې جوړې لپاره بيا د پنځوسو خوړو خوانچې ورواستولې او سکندر بېګم زړه نازړه دا ډوډۍ په خپله هم وخوړله او د خپلې ډلې په

نورو کسانو يې هم وخوړله. خو ورسره يې دا خبره هم په خپلو يادابښتونو کې ليکلې چې ډوډۍ خوندوره نه وه او يخه وه.

په دې کارسره د دواړو ډلو ترمنځ روغه وشوه، شريف هغې ته بلنه ورکړه چې د ده په ماڼۍ کې د ده د کورنۍ له ښځو سره ووينې.

سکندر بېګم هم داسې وکړل او د دې ليدنې حال يې ټکي په ټکي ليکلی دی.

د هغې له يادښتونو معلومېږي چې په عربستان کې د هغې يوه خبره هېڅ خوښه نشوه. هغه دا چې ښځې يو مېړه پرېږدي او بل کوي. د يوې ښځې چې به له خاونده زړه تور شو نو والي ته به يې خواست وکړ، چې دا خلع اخلي .والي به دا ومنل، ښځې به يو بل واده وکړ، داسې به يوې ښځې درې څلور او ان پنځه مېړونه کړي او پرې ايښي وو. پر يوه بله خبره چې د هغې اعتراض و هغه په خپله د خانه کعبه او د مکې د ښار بده انتظاميه وه. ښار له ګداګرو او له هغو خلکو ډک و چې د هند له لويې وچې ورغلي وو. په دوی کې معيوب، شل شوټ، غله او داسې کسان شامل وو چې په خپلو ملکونو کې يې ځای نه لرلو.

سکندر بېګم د حج اداکولو وروسته بېرته بهوپال ته ورسېده. دې ټول سفر يوولس مياشتې واخيستې او د دې په غېرموجودګي کې د دې لور شاه جهان بېګم د بهوپال چارې پر مخ بېولې.

دا د **۱۸۵۴** کال و او په بهوپال کې د سکندر بېګم له خوا د عالمانو او د ديني استادانو ډېر هرکلی کېده. د هندوستان له ګوټ ګوټ نه به خلک هلته د کار روزګار موندلو لپاره ورتلل. هغه وخت د برېلې يو ۱۷ کلن ځوان سيد صديق حسن بهوپال ته کډه وکړه. دده پلار په عقيده شيعه وو. خو يو وخت يې اعلان کړی و چې دی له شيعه مسلکه سني عقيدې ته اوښتی دی. همدا و کله چې صديق حسن د پنځو کلونو په عمر کې يتيم شو نو د خپل پلار له وراثته محروم کړی شو.

بيا دده کونډې مور صديق ډېر په سختو او خوارو رالوی کړ. هغه د عربي او فارسي ژبې له زده کړې سره د قرآن او حديث علم هم حاصل کړ. دی چې د روزګار موندلو لپاره بهوپال ته ورسېدو، نو هلته يې په لومړي سر کې د خوشبويۍ (عطر) په خرڅولو لاس پورې کړ. له دې سره سره به هغه د جمعې ورځ په يوه يا بل جومات کې خطبه هم ورکوله. په خطبه کې به يې د حنفي عقيدې پر ضد خبرې کولې او ډېر ژر خلکو د وهابي ټاپه ورباندې ولګوله. دی د سکندر بيګم له خوا په **۱۸۵۷** کال کې له بهوپاله وشړل شو. عامه خبره دا کېده چې ده له يوه مولوي سره مخالفت پيدا کړی و، خو په نوابي کورنۍ کې ويل کېده چې سکندر بېګم ډېر ژر په دې پوه شوه چې صديق حسن ښې ارادې نه لري او په بهوپال کې مذهبي شر راپورته کوي.

صديق حسن له بهوپاله د وتو وروسته د پښتنو يوه بل رياست ټونک ته مخه کړه. خو ډېر ژر د **۱۸۵۷** کال د مې مياشت کې غدر يا د خپلواکۍ پاڅون پيل شو او ويې ليدل چې هلته د انګرېزانو پر ضد د خلکو د راپورته کېدو څه امکان نه و، نو دی قنوج ته ولاړ. دده مور

شپږم څپرکی
شاه جهان بېګم

او خور هغه وخت په قنوج کې اوسېدل. د غدر په دې کال او وروسته هم صدیق حسن کار روزګار نشو موندلی. نو یو واري بیا بهوپال ته ولاړ او دا ځل یې مولوي جمال الدین ولید، چې د سکندر بېګم د لور شاه جهان استاد هم و. مولوي نوابې ته د هغه سفارش وکړ او په خپل دفتر کې یې د منشي کار ورته وسپارلو. سکندر بېګم هغه ته د بهوپال د تاریخ لیکلو دنده ورکړه او ددې کار لپاره یې ورته پیسې هم ورکړې. صدیق حسن ډېر ژر خپله مور او خور هم بهوپال ته راوستل او یو کال وروسته په ۱۸۶۰ م کې مولوي جمال الدین خپله مشره لور چې کونډه وه او اولادونه یې لرل او له صدیق حسن نه یولس کاله مشره وه ورته په نکاح کړه. په دې واده صدیق حسن د خپل راتلونکي او له معاش نه بې غمه شو. د ده تګ راتګ د سکندر بېګم کورنۍ ته هم زیات شو او د خپل خسر له برکته یې ډېر ژر د اداري کارونو لوړو عهدو ته ځان ورسولو. دده تر ټولو لویه کامیابي د شاه جهان بېګم استاد مقررېدل و.

د شاهجهان لور سلطان جهان اوس د شپږو کالو وه. سکندر بېګم چې حج ته تللې وه نو په ټول سفر کې یې د بېلا بېلو ځایونو حال په لیک کې خپلې لمسۍ ته ولیکلو. شپږ کلنې سلطان جهان به د خپلې نیا (انا) لیکونو ته ځوابونه هم لیکل. دا د سکندر بېګم تر سیوري او روزنې له پروګرام سره سم تربیه کېده.

د هندوستان د ډېرو مسلمانو کورنیو دا دود و او په ځینو ځایونو کې دا دود اوس هم ساتل شوی دی چې ښځې د خپلې لور یا د زوی مشر اولاد لکه د خپل اولاد غوندې لویوي. په هغو ورځو کې چې جینکۍ به ډېرې وړې وې ودېدې نو په دې کار به هغوی د ماشوم د سمبالولو او د هغه له ساتنې بې غمه وې. سکندر بېګم د سلطان

جهان بېګم روزنه په خپله کوله. شاهجهان بېګم د خپلې مور او نیا په پرتله ډېر شاعرانه طبعیت لرلو. د هغې کالي پټري خوښېدل. د ژوند ښایسته شیان به یې ستایل. د هغې خاوند باقي محمد له هغې په عمر کې ډېر لوی و او دا هم د هغې د ناارامۍ یو سبب و. بلخوا سکندربېګم په خپل ژوند کې د سخت ډیسیپلین خاونده وه او له حج نه چې بېرته راغله نو د خپلې لمسۍ سلطان جهان د راتلونکي په اړه یې فکر شروع کړ.

په ۱۸۲۷ م کې امرالدوله (باقي محمد) د حج لپاره ولاړ خو کله چې بېرته د مصر له لارې په بېړۍ کې راتلو نو ناروغه شو او لږ ورځې وروسته مړ شو. د هغه مرګ د شاهجهان لپاره دومره د اندېښنې او خپګان وړ نه و څومره چې د سکندر بېګم لپاره و.

شاهجهان بېګم په ځوانه ځوانۍ کونډه شوه او سکندربېګم ته یو واري بیا په کورنۍ کې دننه سازشونه جوړ شول. سکندربېګم د خپلې لور شاهجهان بېګم له کړو وړو دومره خوشاله نه وه. هغه اوس د اوویشتو (۲۷) کالو وه. ۳۳ کلن صدیق حسن د هغې استاد و چې عربي او فارسي لوړې زده کړې یې ترې کولې. دوی د سبق نه علاوه په شعر او ادبیاتو هم خبرې کولې او په نوابي کورنۍ کې داسې ګنګوسې خورې شوې چې دوی د درس پر وخت نوکرانې له هغه ځایه وباسي. د کورنۍ د ملازمانو له خوادا خبره هم وشوه چې یو ځلې سکندربېګم دا ښه ووهله او په کوټه کې یې بنده کړه. لکه چې شاهجهان بېګم شاعرانه طبعیت درلود او په ځوانۍ کې کونډه شوې وه، د هغې د ژوند هغه ارمانونه نه وو پوره شوي چې ددې د سن ښځې یې لري. سکندربېګم په خپله ځواني له خاونده لرې تېره کړې وه او د قدسیه بېګم په شان خپلې ارزوګانې یې پر کار او د خلکو په

خدمت کې لټولې. خو شاه جهان رومانتیک طبعیت درلود. صدیق حسن په داسې وخت کې ورسره مخ شو چې دې ته یوه جذباتي اړانه په کار وه. بل خوا صدیق حسن لپاره شاه جهان یوه داسې مرغۍ وه چې په خپله دده لومې ته ورداخله شوه. سکندربېګم پر ځای ددې چې د شاه جهان بېګم د واده غم یې کړی وای د بهوپال سیاست او ددې د راتلونکې په اړه یې فکرونه کول.

سکندر بېګم په دې هم ښه پوهېده که د هغې لور ښه واکمنه نه شوه نو لمسۍ به یې بې واکه شي. د دوست محمد په کورنۍ کې د هغې وربرونو او نورو ځوانانو اوس هم د بهوپال واکمني غوښتله او تل به یې سازشونه کول. د دوی د خطر د مخنیوي لپاره سکندر بېګم له خاندانه بهر په یوسفزیو او پېروزخېلو کې د یوه مناسب هلک لټون پیل کړی و او په دې لړ کې هغې د لوهاري د سردارجلال خان کورنۍ ته خپل یو وزیر ورواستاوه. دا هغه کورنۍ وه چې دوست محمد په کې پناه اخیستې وه. په ۱۸۲۲م کې د اګرې په دربار کې له ګډون وروسته سکندربېګم د اورکزیو ځینې ځوانان اګرې ته راوبلل چې په خپله یې ووینې. په دوی کې یوه کونډه محمدي بېګم له خپل ۱۷ کلن زوی احمد علي خان سره ورغله. د احمد علي ښې تربیې پر سکندربېګم اغېز وکړو.

محمدي بېګم له خپلو دوو اولادونو احمد علي او چندا بي بي سره بهوپال ته کډه وکړه. د هغې په کورنۍ کې داسې څوک سړی نه و چې د هغې واکمنۍ ته یې خطر رامنځ ته کړی وای.

له اګرې نه بېرته د راتلو سره سکندربېګم ناروغه شوه او دوه کاله وروسته د ۵۰ کلونو په عمر کې مړه شوه. دا تر ۲۱ کالو پورې د بهوپال نوابه وه.

ددې د مړینې اوولس ورځې وروسته په ۱۸۶۸ م کال کې شاهجهان بېګم په دویم ځل د بهوپال نوابه اعلان شوه. په دې وخت کې دا اعلان هم وشو چې لس کلنه سلطان جهان بېګم به ددې ځای ناستې وي. شاهجهان د ۳۰ کالو وه، د دې خبرې امکان و که هغې دویم واده وکړو او زوی یې وشو نو د انګرېز او د اسلامي قانون تر مخې به د هغې ځای ناستی وي. خو سکندربېګم له مرګ وړاندې له انګرېزانو دا ژمنه اخیستې وه چې د هغې لمسۍ به راتلونکې حکمرانه وي. دویمه دا چې سکندربېګم غوښتل چې د بهوپال واک دې په اورکزیو کې پاتې وي. همدا وجه وه چې هغې د سلطان جهان لپاره یو اورکزی پښتون غوره کړی و.

کله چې شاهجهان نوابه شوه نو هغې صدیق حسن خپل مشر منشي اعلان کړ او په دې توګه به دوی دواړو یو بل سره لیدل. شاهجهان اوس ده ته د صدیق حسن پر ځای د صدیق حسن خان نوم اخیستو. مانا یې دا وه چې دی د یوه پښتون په توګه وروښایي. اوس د هغې پر سر د سکندربېګم غوندې مور هم نه وه چې ددې کړه وړه وڅاري. دا ثرګنده وه چې د شاهجهان بېګم له صدیق حسن سره مینه وه او خپله صدیق حسن د هغې احساسات او ذهن دواړه په لاس کې نیولي وو.

د خپلې نوابۍ په لومړیو څلورو کالو کې شاه جهان د حکومت په کارونو کې ښه په لېوالتیا برخه اخیسته. د مالیو انتظام یې ښه کړ، د پولیس او پوستې سیستم یې ښه پر مخ یو وړ. د سپرو پوځیانو معاش یې زیات کړ. په خپله به د بهوپال لرې پرتو سیمو ته ورتله او د خلکو له حاله به یې ځان خبراوه. ددې په حکومت کې د بهوپال خاوره کچ شوه او سرشمېرنه یې وکړه. چې له دې حسابه هلته ۷۲۴۰۰۰ (اوه لکه څلور ویشت زره) خلک اوسېدل او داپه داسې حال کې وه چې

هلته د څو کلونو سوکړې (وچکالي) او يوواړې د طاعون وبا ډېر خلک مړه کړي او بې شمېره نورو له دې ځايه کډې کړې وې.

د وچکالۍ له کبله د مځکې حاصل کم شوی و. همدا وجه وه چې په بهوپال کې د اپيمو کر ته اجازه ورکړل شوه. خو ورو ورو ددې نوابۍ کلتور هم په بدلېدو شو. شاه جهان په خپله شاعره وه، آرټ، ادبيات او موسيقي يې خوښېدله. هغه دربار چې يوازې عالمان او مذهبي خلک ورته راتلل اوس د شاعرانو، ليکوالو، انځورګرو او سندرغاړو تګ راتګ په کې زيات شو. شاه جهان به ورله د دوی په تخليق انعامونه او مځکې ورکولې.

د شاه جهان لور د لسو کالو د وړوکي عمر نه خپله روزنامچه ليکله. او يو ځای ليکي چې د نيا (سکندربېګم) د مړينې نه وروسته چې يې له خپلې مور سره ژوند پيل کړ، نو ددې ورځنی مهال وېش چې پخوا ټاکل شوی و اوس نيمايي ته راولوېد.

د سکندربېګم په وخت کې د سلطان جهان لپاره دا مهالوېش ټاکل شوی و:

سهار له پنځو نه تر شپږو بجو ـ ازاده هوا کې ورزش
اتو نه تر لسو بجو ــ ـ د قران زده کړه
دولس نه تر يوې بجې ــ ـ خطاطي او ليکنه
دريو نه تر څلورو ــ ـ انګرېزي درسونه
څلورو نه پنځو بجو پورې ـ ـ حساب
پنځو نه تر شپږو بجو ـ پښتو او د تورې تربيه د اس سپرلي
خو شاهجهان بېګم دا مهال وېش بدل کړ.
سهار له اوو بجو نه تر نهو ــ د قران درس
د غرمې له دوو نه تر څلورو ــــ د سرکاري اسنادو مطالعه ورپسې ټول وخت د تفريح لپاره

سلطان جهان له وړوکي عمره ليدل چې صديق حسن ددې پرکونډې مور څومره اغېز لري او دا يې هم احساس کړی و چې د هغه له کبله يې له خپلې مور سره واټن او لرېوالی پيدا شوی و. د دوی په سرکاري استوګنځي کې د شعر و شاعرۍ او موسيقي په محفلونو کې به صديق حسن هرو مرو موجود و.

په ۱۸۷۱م کال کې چې سلطان جهان د ديارلس کالو وه هغې د قرآن کريم زده کړه پای ته ورسوله او له رواج سره سم شاه جهان بېګم د خپلې لور لپاره د نشرح محفل جوړکړ. او تر څلوېښتو ورځو پورې په بهوپال کې ددې خوشالي ولمانځل شوه.

صديق حسن له هغې ورځې راهيسې چې شاه جهان په رسمي توګه نوابه شوه، قدرت ته د رسېدو لپاره لاس وپښې وهلې. دده لومړی کار دا و چې خپل خسر مولوي جمال الدين يې له حکومتي کارونو لرې کړ. په شاه جهان بېګم يې دومره اغېز پېدا کړ چې ځان يې مدارالمهام (مشر وزير) کړو. عجيبه خبره دا وه چې د صديق حسن مېرمنې ذکيه بېګم ددې هر څه ملاتړ کاوه. هغه اوس پنځوس کلنه وه او خپل خاوند يې دې ته هڅاوه چې له شاه جهان بېګم سره واده وکړي.

صديق حسن په بهوپال کې د انګرېزانو استازي مېجر اېډورډ تامسن ته يو پټ خبر ور واستولو چې شاه جهان بېګم سره په جنسي اړيکو کې هغه حامله کړې ده.او هغه يې په دې قانع کړ که شاه جهان بېګم ډېر ژر له ده سره نکاح ونه تړي نو دا به د بهوپال لپاره يوه لويه بدنامي وي. انګرېزانو دا خبره ومنله او د دوی استازي چې له شاه جهان بېګم سره وليدل نو دا خبره يې ورته وکړه چې د هغې لپاره به دا

بهتره وي چې بل واده وکړي. ځکه چې اسلام کې د ښځې لپاره د دويم واده اجازه شته.

شاه جهان په خپلو يادشتونو کې ډېر په معصومانه ټکيو کې ليکي: 'هغې د انګرېزانو لخوا يو ليک تر لاسه کړ چې ورته په کې د واده مشوره ورکړل شوې وه. دې خپلو خپلوانو کې وکتل چې څوک دومره علم او شرافت لري چې له دې سره د واده کولو وړ وي. نو څرګنده شوه چې دا محترم (صديق حسن) له تېرو لسوکلونو راهيسې د بهوپال خدمت کوي او زما د مور سکندربېګم منشي هم پاتې شوی و او په ټول بهوپال کې دده غوندې علم له هيچا سره نه و. نو ما د قرآن له تعليماتو سره سم او د انګرېزانو په مشوره دا فيصله وکړه چې زه دويم واده وکړم'

په دې به هغه شيطاني خبرې هم ختمې شي چې زه ولې له يوه پردي سړي سره يوازې يمه او دا خو ښکاره ده چې زه به د حکومت د کارونو لپاره له خپل مشر وزير سره يوازې کېنم. په ۱۸۷۱ کې شاه جهان بېګم له صديق حسن سره واده وکړو او صديق حسن په رسمي توګه د شاه جهان بېګم بې اختياره سرپرست وټاکل شو. قدسيه بېګم لا ژوندۍ وه او اويا کلنه وه. هغې چې دا خبر واورېدو نو ډېره سخته خپه شوه. هغې لا پخوا د شاه جهان او د صديق حسن د اړيکو مخالفت کاوه. د هغې کرکه او قهر لا زيات شو. صديق دا خبره ياد وساتله او د نيا او لمسۍ تر منځ يې فاصله زياته کړه.

له واده سمدستي وروسته ده پر شاه جهان فشار راوړ چې د نوابۍ لقب دې هم ورته ورکړل شي او انګرېزانو ورته نواب والاجاه اميرالملک خطاب ورکړ. شاهجهان بېګم په دې دومره خوشاله شوه چې دی يې په يوه هاتي سپور کړ او د جلوس په شکل يې د بهوپال

لارو ته وويستلو. د بهوپال خلکو له هغه دومره نفرت کاوه چې په کور کېښناستل او هيڅا يې هرکلي ونه کړ. مهمه خبره دا وه چې د شاه جهان بېګم د حمل خبره دروغ وختله. له واده وروسته صديق حسن په دې خبره ناراضه شو او شاه جهان بېګم ته يې وويل چې دا د هغې د خپلوانو او د بروکټ پښتنو يو سازش و. هغه شاه جهان بېګم چې د شعر وشاعرۍ او د موسيقي په محفلونو کې به کېښناستله او هغه صديق حسن چې په دې محفلونو کې يې خپله هم ګډون کاوه او خوند به يې ترې اخيست، اوس دواړو د اسلام د سپېڅلي دين په درناوي د پردې او ستر فيصله وکړه. يانې دا چې شاه جهان بېګم اوس له پردې شا ته حکومت کاوه او د خلکو مخې ته به نه راتله. تر واده له مخه چې صديق حسن څه ډول ژوند کاوه له واده وروسته ورته هر څه عيب ښکاره کېدل د پوښتنې وړ و. شاه جهان بېګم په دې کار له عملي پلوه د بهوپال واک صديق حسن ته وسپارلو او د کوم واک اختيار لپاره چې د هغې مور او نيا نيمه پېړۍ وړاندې مبارزه کړې وه هغه يې له لاسه ورکړ. د صديق حسن په لمسون شاه جهان له خپلې نيا قدسيه بېګم سره هم اختلاف پېدا کړ، تر دې حده چې هغه به يې خپل کور ته نه رابلله. او کله چې د سلطان جهان واده و نو هغې ته يې اجازه ورنکړه چې خپلې لمسۍ ته سوغات راوړي.

تر ټولو مهمه خبره دا وه چې د بهوپال اورکزي پښتانه د صديق حسن له غروره او د هغه له فيصلو په عذاب وو، خو د هغه د موجوديت تر ټولو لوی ګوزار د سلطان جهان په ژوند و چې له مور سره يې اړيکي د ورځې په تېرېدو سره خرابېدل.

×××

د ۱۸۷۱م کـال د بهوپـال خلکـــو د ســــــلطان جهـان د نـشرح د جشـــن په توګه یاد وســــــاتلو خو دا کـال د شاه جهان د دویم واده کال هم و.

سلطان جهان په لومړي ځل د صدیق حسن لـه منفي شخصیت سره مخـامخ شـوه. دا لـه وړوکـوالي راهیـسې د جـلال ابـاد یـوه اورکـزي احمدعلي ته ناسته وه او هغـه یې د خپـل ژونـد ملګری منلی و. لـه ده سره یې د ځوانۍ مینه هم پیدا شوې وه خو اوس صدیق حسن د هغې د پلنـدر پـه رول کې وربانـدې فـشار راوړو چې دا کوژدنـه دې ختمـه کـړي او دده لـه زوی نورالحـسن سـره دې واده وکـړي چـې د لـومړۍ مېرمنې نه یې و. شاه جهان به د صدیق هره خبره منله او پـه دې معاملـه کې یې هم څه اعتراض ونه کړ. خو سلطان جهـان سکوټ انکـار وکـړ. هغې د احمد علي نه علاوه بل هېڅوک نه غوښتل.

شا ه جهان انګرېزانو ته ولیکل چې دوی څه مشوره ورکوي. هغـوی هېڅ اعتراض ونه کړ. بیا دې له خپلو سردارانو او نـورو امیرانـو سـره مشوره وکړه دوی هم په دې واده ورسره رضا شو، خـو صدیق حسن د دوی واده تر یوه کاله پورې وځنډاوه. په دویم ګام کې ده احمد علي له شاهي مانۍ نه وشړلو او دی له خپلې مور سره په یوه بل سرکاري کـور کې مېشت شو. ده هڅه کوله چې د احمدعلي کمزوري پیدا کـړي یـا دی مجبـور کـړي چې ورتـه نافرمـاني وکـړي خـو احمـد علـي هوښـیار ځوان و. پـدې پوهېـدو چې یـوه معمـولي خبـره بـه د واده د ختمېـدو سوب وګرځي. اخر په ۱۸۷۵ م کال کې احمد علي د احتـشام الملک او د سلطان الدولـه لـه القـابو سره سلطان جهان پـه ډولـۍ کې خپـل کورته بوتله.

اووم څـــپرکـــــی

مور و لور او سیاست

کله چې شاه جهان بېګم د پردې شاته پټه شوه نو په رسمي دربارونو کې یې د بهوپال د نوابې په توګه له ګډون نه ډډه کوله او د عذر په توګه یې انګرېزانو ته ولیکل چې ددې استازیتوب به یې مېړه صدیق حسن کوي.

د انګرېزانو له خوا په ۱۸۵۷ م کې د خپلواکۍ د پاڅون له بریالیتوب وروسته په بېلا بېلو صوبو کې دربار رابلل کېده. دې دربارونو که یوې خوا ته نوابانو او راجه ګانو ته موقع ورکوله چې له یوه بل سره وویني. نو بل خوا به انګرېزانو د دوی د سیمو په باب اورېدل چې دوی نوې تګلاره څنګه پلې کوي. په دودیزه توګه نوابانو او راجه ګانو د عیش او ارام ژوند کولو او په دې دربار کې به دوی خپل نوکران او خدمتګاران هم ځان سره وړل. د استوګنې لپاره به دوی خېمې لګولې او لکه د یوې لویې مېلې غونډې حالت به جوړ شو. په رسمي غونډو کې به د هر چا ځای معلوم و. د راجه ګانو او نوابانو ځای ناستي به هم په کې شاملېدل او د دوی ځای به معلوم و. د دوی د مېرمنو ځای به تل د غونډو په وروستیو لیکو کې و. په ۱۸۷۷ م کال کې انګرېزانو شاه جهان ته د یو اعزاز ورکولو اعلان وکړ. نو هغې د صدیق حسن نوم وړاندې کړ، چې د هغې پر ځای به دی دا اعزاز ترلاسه کړي. خو انګرېزان په دې پوهېدل چې صدیق د واک ترلاسه کولو په لاره روان دی. دوی انکار وکړ او ورته یې وویل چې په خپله به دربار او نورو سرکاري سفرونو ته ورځي.

له واده وروسته سلطان جهان په شپږو کلونو کې پنځه ماشومان وزېږول. لومړۍ لور یې بلقیس جهان نومېده. له دې وروسته په ۱۸۷۶ م کې ددې زوی محمد نصرالله خان وزېږېد، چې د څلورو واکمنو ښځو نه پس لومړی هلک و. ورپسې عبیدالله خان او یوه بله

لور آصف جهان پیدا شوه. څوارلس کاله وروسته ددې زوی حمیدالله خان په ۱۸۹۴ کې وزیږېد چې د بهوپال راتلونکی نواب و.

په دې کلونو کې چې سلطان جهان کال پر کال اولاد زېږولو. د شاه جهان بېګم او د صدیق اولاد نه کېده. دوی د اولاد لپاره ډاکټرانو، حکیمانو، پیرانو او عالمانو ته ولاړل چې پکې هندوان او مسلمانان دواړه شامل وو، خو فایده یې ونه کړه. په دې وخت کې د بهوپال ټولنه هم په دوو برخو وویشل شوه، یو هغه وهابي او مځکه وال وو چې په صدیق حسن راټول وو. دویم هغه پښتانه چې د باقي محمد د کورنۍ او د جلال اباد نه له احمدعلي سره ورغلي وو. د سلطان جهان تر ټولو لوی ملاتړ د هغې د مور نیا قدسیه بېګم وه.

د مور او لور تر منځ رابطه به د سلطان جهان د مشر لور بلقیس جهان له لارې کېده چې په ورځ کې به یو ځلې د خپلې نیا سلام ته ورتله.

صدیق حسن د حکومتي کارونو لپاره ټول خلک په خپله لګول. د پولیس مشر، مشر وزیر میرمنشي او دغسې نورې مهمې څوکۍ یې د خپلې خوښې خلکو ته ورکړې.

په ۱۸۷۷ م کال کې صدیق حسن یو دربار راوبللو او په خپله یوه اوږده وینا کې یې د سکندربېګم د وخت او د هغې پر حکومت نیوکې وکړې. اوسنی دور یې وستایلو او د باقي محمد د دوو زامنو لطیف محمدخان او مجید محمدخان په اړه یې وویل چې د دوی له احمدعلي سره پټې رابطې دي او سازشونه کوي.

سلطان جهان او احمدعلي هغه ګړۍ هلته ناست وو، خو هېڅ غږ یې ونه کړ. خو هغې دا هر څه په خپلو یادشتونو کې ولیکل.

په ۱۸۸۱ کې د هندوستان ټول واکمن کلکتې ته په یوه دربار کې مېلمانه شول. شاهجهان له خپلې ځای ناستې سلطان جهان سره وربلل

شوې وه. شاه جهان د صدیق حسن په بدرګه هلته ولاړه. د انګرېزانو له خوا د هر یوه نواب او راجه لپاره بېله چوکۍ او د سلطان ځای ناستو لپاره یې بېلې چوکۍ وې. سلطان جهان لیکي چې کله هغې له وایسرای سره ستړې مه شې کول نو صدیق حسن ولاړ و او هغې ته ټاکل شوې چوکۍ باندې کښېناست. په دې وخت کې د انګرېزانو د مراسمو مشر راوړاندې شو. له هغه یې غوښتنه وکړه چې دا ځای دې پرېږدي. په دې خبره صدیق حسن سخت په قهر شو او انګرېزانو ورته په سخته وویل چې دی هلته نشي کښېناستلی. دی مجبوره شو چې هغه ځای سلطان جهان ته پرېږدي.

د ورځو په تېرېدو سره د قدرت لپاره د صدیق حسن حرص او د سلطان جهان لپاره مشکلات زیاتېدل.

په ۱۸۸۱م کې قدسیه بېګم د ۸۲ کلونو په عمر کې مړه شوه. صدیق حسن یوازې د بهوپال واکمنې نه غوښتله، هغه د وهابي عقیدې تبلیغ هم کاوه او د انګرېزانو پر ضد د رسالو او کتابونو چاپولو لپاره یې د بهوپال له خزانې پیسې اخیستې او علماوو ته به یې ورکولې، چې په جوماتونو کې وعظونه وکړي. هغه په سوډان کې له مهدي سره اړیکې جوړ کړې وو او له دې پرته یې په ترکیې، عربستان او برما کې له انګرېز مخالفو ځواکونو سره رابطې وې.

انګرېزان په دې خبر وو او شاه جهان بېګم ته یې څو وارې ویلي وو چې د ده فعالیتونو ته پام وکړي. هغې به ورته په ځواب کې وویل چې ددې سرپرست د حکومت په معاملو کې هېڅ لاس نه لري. د انګرېز استازی سر لیپل ګریفین د صدیق حسن په فعالیتونو دومره نا ارامه وو چې خپل حکومت ته یې دده پر ضد د ګام اوچتولو غږ وکړ. خو د هند وایسرای لارډ ډېفرین د بهوپال نوابه کورنۍ خپه کول نه غوښتل.

په ۱۸۸۵م کال کې د برتانیا حکومت په بهوپال کې د استخباراتو یوه داسې شبکه یا جال جوړکړی و، چې د صدیق حسن د هرې ګړۍ حال به یې معلومولو. نوموړي د انګرېزانو د تهدید نه وروسته په پټه خپل کارونه سرته رسول.

په ۱۸۸۵م کال کې سر لیپل ګریفین بهوپال ته ولاړ، یو دربار یې راوغوښت چې په کې د صدیق موجودیت لازم و، د بهوپال په خلکو کې ګنګوسې وې چې دی به د صدیق حسن په اړه یوه مهمه فېصله کوي. د شاه جهان بېګم پښتنو امیرانو که څه هم له صدیق حسن څخه بد وړل، خو هغې ته یې ډاډ ورکړی و، چې که انګرېزانو په دربار کې د بېګم نواب یا د هغې د سرپرست سپکاوی وکړ نو دی به ژوندی له بهوپاله ونه وزي.

ښاغلي ګریفین په خپله وینا کې د شاه جهان بېګم د اصلاحاتو او د هغې د انتظام ستاینه وکړه. نو د دربار خلک ارامه شول. بیا هغه د صدیق حسن د پټو سیاسي فعالیتونو خبره وکړه او دا چې هر څوک د برتانیې د حکومت پر ضد عمل کوي هغه به د امتیاز ټایټل څخه بې برخې وي. نو ځکه د صدیق حسن ټول القابات او امتیازات بېرته ترې اخیستل کېږي. هغه د خپلې وینا په وروستیو کې د رشوت خورو غندنه وکړه او د صدیق حسن له خوا ټاکل شوي دوه بدنامه په درغلۍ او فساد تورن افسران یې ونیول او په خپله یې دوی ته په لاسونو کې ولچکې وروا چولې.

شاهجهان بېګم او صدیق حسن په خاموشۍ دا هر څه وزغمل. له دې وروسته تر ټولو مهمه فیصله د انګرېزانو له خوا دا وه چې د صدیق حسن د بد انتظامي له کبله به د برتانیا حکومت په خپله د بهوپال مشر وزیر (Cheif minister) ټاکي. نوابه به په ټولو

مراسمو کې د مشرې په توګه پاتې وي. خو د حکومت چارې به د مشر وزير په لاس کې وي. دوی عبدالطيف خان چې د باقي محمدخان زوی و پر دې ځای وټاکلو. خو د شاه جهان بېګم لپاره دا د منلو وړ خبره نه وه. هغې د خپلې کورنۍ پښتانه نه غوښتل او اخر عبدالطيف خان څلور مياشتې وروسته له خپلې عهدې استعفا ورکړه.

انګرېزان په دې خپه وو، خو شاهجهان بېګم ورته وويل چې دا د يوه هندوستاني امر ته سر نشي ټيټولای، نو ښه به دا وي چې مشر وزير دې يو انګرېز وټاکل شي. کله چې انګرېزانو دې ته غاړه کېښوده نو دې سمدستي د کرنل بروک نوم وړاندې کړ. دی په کلکته کې اوسېده او له صديق حسن سره يې نژدې اړيکي وو. ګريفين پر دې پښه کېښوده او نه يې غوښتل چې صديق حسن بيا نفوذ ومومي. بالاخره د کرنل وارډ په نوم يو تن مشر وزير وټاکل شو. دی هغه وخت په شمله کې و او کله چې دی د خپلې دندې لپاره ونومول شو نو له بهوپاله د شاه جهان بېګم له خوا يو استازی ورته ولاړو او له ده يې وپوښتل چې ايا مېرمن وارډ به ګانې په سوغات کې ومني. وارډ په دې خبره ټکان وخوړو او سمدلاسه يې انکار وکړ. دی پوه شو چې په بهوپال کې يو څه لوبه روانه ده. د وارډ په راتګ د صديق حسن زور مات شو. هغه له سلطان جهان بېګم سره زړه سوی لاره او که څه هم د شاه جهان بېګم دی نه خوښېده چې هغه تګلاره ومني خو د انګرېز وزير لپاره هغې خپله ويلي و. هغې داسې احساس کاوه چې ددې هر څه تر شا يې د لور سلطان جهان لاس دی.

صديق حسن د شاه جهان بېګم د خاوند کېدو له کبله د انګرېزانو له خوا له سختې سزا پاتې شو. ګريفين خپل حکومت ته ويلي وو چې دی دې تورو اوبو ته واستول شي خو وايسرای يې مرستې ته راغلی و.

په دې وخت شاه جهان بېګم ځان ته بېله ماڼۍ جوړه کړې وه چې تاج محل نومېده. او ډېر ژر له صديق حسن سره دې ماڼۍ ته کډه شوه. له دې سره د شاه جهان لمسۍ بلقيس بېګم هم وه. چې د هغه وخت د ډېرو مسلمانو کورنيو له دود سره سم خپلې نيا لويوله. بلقيس اوس د ۱۲ کالو وه او په دې خبرونو وارخطا شوه چې شاه جهان بېګم د صديق کشر زوی علي حسن چې هغه وخت نولس کلن و د واده لپاره بلقيس ورته کېنښوي او ډېر ژر يې د کوژدنې اعلان کېدونکی و.

په دې ورځو شپو کې بلقيس ډېره سخته ناروغه شوه او په نوابې کورنۍ کې داسې ګنګوسې شوې چې د صديق حسن کورنۍ وربانديې څه ټوټکې (کوډې) کړې دي. تر څو مياشتو د هغې علاج کېدو چې بيا وروسته يو څه روغه شوه نو د خپلې مور ليدو ته ورغله. سلطان جهان د خپلې لور په ژېړ مخ او کمزري بدن ډېره وځورېده او هغه يې په خپل کور کې ايساره کړه. شاه جهان په دې کار ناراضه شوه او په پيل کې بلقيس هم خپه وه. خو وروسته د خپلې مور په احساساتو پوه شوه اوس به هغه هره ورځ د نيا ليدو ته له يوې ماڼۍ نه بلې ته ورتله. دې سره د هغې ناروغي بيرته راوګرځېده . د بلقيس د ژوند هيله چې ختمه شوه نو يوه ورځ سلطان جهان د خپلې مور ماڼۍ ته ورغله له هغې يې بښنه وغوښتله او ورته يې وويل:

د بلقيس ليدو ته دې راشي. خو شاه جهان دومره مروره وه چې د هغې خبره يې ونه منله. خو څو ورځې وروسته دولس کلنه بلقس مړه شوه. د مور او لور تر منځ د روغې جوړې يو بل ور وتړل شو. شاه جهان تر پنځو کلونو پورې هڅه کوله چې د صديق حسن په اړه د انګرېزانو مخالفه رويه واړوي او هغه ته خپل امتيازات او القابات بيرته ورواخلي. هغې د يوې پټمنې مېرمنې په شان له انګرېزانو سره

د خپل خاوند په دفاع کې خبرې اترې کولې. د پېرنګیانو استازي بدل رابدل شول او دوی په دې غور کاوه چې صدیق حسن ته خپل امتیازات بېرته ورکړي، چې هغه وخت د تور ژبړي (یرقان) په ناروغۍ اخته شوی و. په ۱۸۹۰ کې دا څرګنده شوه چې دی د مرګ غاړې ته نژدې دی. انګرېزانو خپل ډاکټر ورواستاوه خو د هغه کټ ته لا پخوا لس حکیمان او یو هندو جوتشي ولاړ وو. څو ورځې وروسته صدیق حسن مړ شو خو شاه جهان بېګم بیا هم هڅه کوله چې د هغه له نامه تهمت لرې کړي. انګرېزان پردې رضا شول او له مرګه وروسته یې صدیق حسن ته د نواب خطاب بېرته وروبانبه.

پرته له دې چې څوک د صدیق حسن د اغېزو په رڼا کې د شاه جهان قضاوت وکړي، د هغې د دورې کارونه به په نظر کې ونیسو. په بهوپال کې د اورګاډي د راوستو پلان د سکندربېګم په ژوند کې پیل شوی و او د پیسو د کمي له کبله څو کاله ډېر ورو کار پرې روان و. قدسیې بېګم له خپلو شخصي پیسو ورته بودجه (بجټ) برابره کړه. د دوی دواړو په ژوند کې د اورګاډي راتګ ونشو. خو اخر په ۱۸۸۴ م کال کې لومړی اورګاډی بهوپال ته ورداخل شو. شاه جهان بېګم په برتانیا کې د ووکنګ په سیمه کې لومړی جومات جوړ کړ، چې په اروپا کې هغه وخت د عبادت لپاره لومړی جومات ګڼل کېږي. له دې نه پرته یې په بهوپال کې تاج المساجد جوړ کړ، چې د هندوستان تر ټولو لوی جومات و. ددې دوره ۳۳ کاله وه چې په دې کې هغې د فنون، علم او د مذهب لپاره ډېر کارونه وکړل. د ښځو د تعلیم لپاره یې اداري جوړې کړې. د روغتیا لپاره کلینیکونه او د مساپرو لپاره یې سرایونه جوړ کړل. هغه هنرمندان چې خلکو به ورته په سپکه سترګه کتل عزت یې ورله ورکړ او د دوی د استوګنې لپاره یې

مځکې او کورونه ورکړل. د هغې لوی کار په علي ګړ کې د مسلمانانو لپاره د لومړي پوهنتو ن جوړېدو ته پیسې ورکول و. دا په خپله یوه لیکواله او شاعره وه. په اردو او فارسي کې یې لیکنې کولې او د تاجور او شېرین تخلص یې کارولو. فارسي دیوان یې دیوان شېرین نومېږي. اردو کې مثنوي، صدیق البیان، تاج الکلام او نثر یې تهذیب النسا په نوم چاپ شوي دي. د هغې په وخت په بهوپال کې ارامي وه.

په ۱۹۰۱م کې شاه جهان بېګم د خولې په سرطان اخته شوه. هغې له علاجه ډډه وکړه. سلطان جهان د مور د حال په اورېدو د هغې نه د بېنني لپاره ورغله. دوی دواړو دیارلس کاله له یوه بل سره خبرې نه وې کړې. سلطان جهان له ځان سره خپل اوه کلن زوی بوتلو چې شاه جهان هېڅ نه وو لیدلی. شاه جهان د مرګ په بستره پرته وه او خپلو خلکو ته یې پیغام استولی و: ''که زما په رعیت کې څوک دا سې وي چې په تېرو ۳۳ کلونو کې یې زما له لاسه بې ګناه سزا خوړلې وي نو زه دوی ته وایم چې د خدای لپاره دې ما وبښي''.

سلطان جهان د خپلې مور د لیدو حال په خپلو یادشتونو کې لیکي:

''زه د هغې کټ ته ورنژدې شوم. هغې زه ونه پېژندلم. پوښتنه یې وکړه 'ته څوک یې'. زه وېرېدم هېڅ ځواب مې ورنه کړ. هغې بیا وپوښتل؛ ما بیا ځواب ورنه کړ. درېیم ځل چې یې پوښتنه وکړه، نو خدمتګاري زما نوم ورته واخیست. هغې د افسوس او قهر په ګډ غږ کې وویل: ''ما پرېږده زما له مړینې وروسته بیا دلته راشه''. زه لا بیا هم ورته ولاړه وم چې هغې راته بیا په سختۍ خپله خبره وکړه. زه پوهېدم چې هغه زما په لیدو ناارامه وه نور مې طاقت نشو کولای او له هلته نه په اوښکو راووتلم. شاه جهان بېګم په ۱۹۰۱ م کال کې مړه شوه.

اتم څپرکی

سلطان جهان بېګم

د خپلې مور له مړینې وروسته او ۳۳ کاله د وارثې په توګه په سختو کې د ژوند کولو وروسته سلطان جهان په ۱۹۰۱ کې د ۴۳ کلونو په عمر کې نوابه شوه. د مور سره خرابو اړیکو، په ځوانۍ کې د سازشونو او د دوو لوڼو د مړینې درد یې ولید. د هغې د مشرې نازولې لور بلقیس له مرګه لږ وروسته یې دویمه لور آصف جهان هم د دولسو کلونو په عمر کې د یوې نامعلومې ناروغۍ له امله مړه شوه.

د سلطان جهان بېګم روزنه د خپلې نیا او د مور قدسیې بېګم په لاس شوې وه. دا په عقیده ټینګه مسلمانه وه او د عېش او عشرت ژوند یې نه خوښاوه. د نوابۍ د واک د ترلاسه کولو وروسته سلطان جهان چې د خزانې حال ولید، نو هلته هېڅ نه وو. د شاه جهان بېګم د دورې اداري فساد هغه ټوله شتمني زبېښلې وه، چې د سلطان جهان نیا په خوارو راټوله کړې وه. نه یوازې دا بلکې ډېر پوروړې هم وو. لکه د یوې مبارزې غوندې هغې خپلې متې ونغښتلې او پر کار یې پیل وکړ. خپلې شخصي پیسې یې حکومتي خزانې ته ورواړولې چې د کارکوونکو تنخواګانې پرې پوره کړي. بیا یې خپل بااعتماده او ایمانداره کسان پر لوړو ځوکیو ولګول. فاسد او رشوت خواره یې لرې کړل.

دې ډېر کار په خپله کولو، ټول فایلونه او د حکومتي کار سندونه به یې په خپله مطالعه کول. د هغې د سختۍ نتیجه دا شوه چې د وخت لومړي وزیر عبدالجبار خان استعفا ورکړه.

سلطان جهان په دې ډېره خواشینې نه شوه او د لومړي وزیر کار یې هم پر خپله غاړه واخیست. هغې به د لرې پرتو کلیو سفرونه کول او د مځکې او کر حال به یې په خپله معلومولو. انګرېزان چې ددې له کار

او محنت نه خبر شو، نو یې پوره ملاتړ ورسره وکړ. هغې خپلو دوو زلمیو زامنو نصرالله او عبیدالله ته هم کارونه سپارلي وو. او وړوکی اته کلن زوی حمیدالله به یې هم له ځان سره ګرځاوه.

د سلطان جهان خاوند احمد علي ته د سلطان الدوله خطاب ورکړی شوی و او کله چې دا نوابه شوه، نو د خاوند د کورنۍ خلک یې، چې له جلال اباده ورغلي وو په نوابۍ کې د خپلو ګټو لپاره په راټولېدو بوخت شول. د احمدعلي خور چې چندابي نومېده د هغې اوه پېغلې او ښـــــایسته لوڼې وې. په دوی کې دوه قیصر جهان او شهریار جـــهان د نوابې د دوو زامنو لپاره کښېنول شوې. د واده تیارۍ پیل شوې او هم په دې ورځو (۱۹۰۱) کې احمدعلي د زړه د حملې له امله مړ شو.

د سلطان جهان لپاره دا یو لوی ټکان و. ځکه احمد علي ددې لپاره یوه لویه تکیه وه او له ماشوموالي نه یې ورسره مینه درلوده.

د دواړو زامنو ودونه یې وځنډول خو د ځلوېښتۍ وروسته یې ودونه وکړل او زامن یې له خپلو مېرمنو سره بېلو کورونو کې مېشته شول.

په ۱۹۰۲ م کال کې له دې ټولو بحرانونو تر راوتلو وروسته سلطان جهان په ډیلي دربار کې د ګډون لپاره په لومړي ځل په اورګاډي کې سفر وکړ. له هغې سره ۱۴۲ کسان مله وو. هغې لا پخوا ۴۲۲ کسان د ځای او کیږدیو لټولو لپاره ډیلي ته استولي وو.

سلطان جهان د خپلو دوو مشرانو زامنو د تعلیم لپاره هم هغسې دودیزه طریقه کارولې وه. دوی د اس د سپرلۍ، د توري او غشي ویشتلو تربیه واخیسته. عربي، فارسي او انګرېزي یې زده کړه. د قرآن او حدیث تعلیم یې وکړ.

نصرالله چې مشری زوی یې و له ښکار او موټر سره یې ډېر شوق لرلو. د مور سترګې هم ده ته وې چې دی د ځلورو نسلونو نه وروسته د نوابۍ لومړی هلک و.

عبیدالله د ۱۲ کلونو په عمر کې د قرآن حافظ شو. ده له جنګي فنونو سره شوق لاره او سلطان جهان راهڅاوه چې د بهوپال پوځي خدمتونو کې ورداخل شي.

په ۱۹۰۳م کال کې سلطان جهان له خپلو دریو زامنو سره حج ته ولاړه. په دې سفر کې هغه د مدینې او مکې په لاره کې څو واري د عرب بدو قبیلو له خوا له خطر سره مخامخ شوه. ددې پر قافلې حملې وشوې. خو د پنځو میاشتو د سفر نه وروسته بېرته بهوپال ته راوګرځېده. هغې د خپل حج کیسه په یوه کتاب کې ولیکله.

د سلطان جهان د دوو زامنو ودونه د جلال اباد د اورکزیو کورنۍ کې شوي وو او ډېر ژر ورته دا جوته شوې وه چې هغوی د بهوپال په حکومتي کارونو کې خپلې اغېزې زیاتې کړې وې. سلطان جهان ځان له یوازې پاتې وه. د هغې نګیندو غوښتل چې خپله وړه خور هم حمیدالله ته واده کړي. خو د سلطان جهان دا نه وه خوښه هغې د خپلې خسرګنۍ له اغېزو ځان خلاصول غوښتل. دې کتل چې دواړو مشرانو زامنو ته یې د خوشامدګرو او بوټپاکو درباریانو ډلې چاپېره وې. هغې نه غوښتل چې ۱۱ کلن حمیدالله هم دې کندې ته ولوېږي. اوس د شلمې پېړۍ پیل شوی و او په هند کې د انګریزي تعلیم او سیاسي شعور په راټوکېدو و.

سلطان جهان بېګم حمیدالله لپاره په ټول هند کې د یوه مناسب ښوونځي په لټه کې وه. اخر یې فیصله وکړه چې دی به د بهوپال په الېګزانډرا ښوونځي کې سبق وایي. دا ښوونځی څو کاله مخکې دې

په خپله جوړکړې و. له دې ښوونځي وروسته حميدالله د علي ګړ پوهنتون ته د سبق لپاره ولاړ او اخرله د ۲۰۰ کالو د بهوپال د نوابې کورنۍ لومړی غړی د عصري تعليم لپاره له بهوپاله ووتلو. د حميدالله د واده لپاره هغې د اورکزيو نه پرته نجلۍ غوښته او خپل يوه با اعتماده استازي کندهاري خان ته يې دا دنده وسپارله چې پېښور ته ورشي او د يوه ښه پښتانه کور نجلۍ د حميدالله لپاره غوره کړي. دی مردان، بنو او کوهاټ پورې ولاړ.

په پېښور کې دی د شاه شجاع د کورنۍ يو ټبر سره مخامخ شو. هلته يې د پنځو کالو يوه نجلۍ وليده چې د يوه نل لاندې يې لامبل. دا نجلۍ مېمونه سلطان نومېده. د دراني خاندان د شهزاده خېل ټبر دا نجلۍ د کندهاري خان خوښه شوه او سمدستي يې سلطان جهان ته خبر ورواستولو.

هغې هم وخت ضـــــايع نه کړ او د يوولس کلن حميدالله او د پنځه کلنې مېمونې د واده لپاره يې خپل مشـــر زوی عبيدالله او د هغه مېرمنه شـــــهريار دلهن سره له يوې ډلې پېښور ته ورواستول.

د ميمونه سلطان ټولې کورنۍ له دې سره بهوپال ته کډه وکړه لکه چې د سلطان جهان سره د احمد علي د کوژدنې پر وخت شوي وو. د درانيانو له راتګ سره په بهوپال کې يو ځل بيا د پښتنو دودونه راتازه شول.

بهوپال ته په راتلو د مېمونې د تعليم او روزنې لپاره پلان جوړ شو. د عربي، اردو او فارسي د زده کړو سره سره هغې ته د اس سپرلۍ، د ټوپک چلولو، او د ستن تار او د ډوډۍ پخولو چل وروښودل شو. د انګرېزي ژبې د زده کړې لپاره هغې ته يوه مېرمنه د اوليور په نوم

وټاکل شوه. د پيانو او وايلن غږولو پرته هغې فرانسوي ژبه هم زده کړه.

سلطان جهان د مېمونې په روزنه کې ډېره فعاله وه او په دې خوشاله وه چې د خپل زوی لپاره يې يوه ښکلې ښځه تېارولـه. مېمونه سلطان هندي او لويديز دواړه کلتورونه خپل کړل.

د لومړي ځل لپاره د بهوپال د شاهي کورنۍ يوې غړې له انګرېزانو او اروپايانو سره د هغوی په ژبه ښه په اعتماد خبرې کولای شوې.

د خپل حکومت په لومړيو لسو کلونو کې سلطان جهان پر هر شي خپله ټاپه لګوله. دا له برتانويانو سره نژدې وه او د هغوی په مشوره يې د پوليس، بندي خانو، د اوبه خور او قضايي محکمو کې اصلاحات راوستل. هغه په خپلو يادښتونو کې ليکي:

"زما خپل کارونه د ورځې اتلس ساعتونو ته غزېدلي وو. د سهار له اوو بجو د شپې تر دولس بجو ماته په دربار کې د ولسواليو، د تاڼو افسران او جاګيرداران مستجر موافع دار راځي، چې دوی سره زه د شاوخوا سيمې په اړه خبرې کوم.

لس بجې زه ناشته خورم. له هغې وروسته زه هغه ټول درخواستونه ولولم چې له تېرې ورځې نه راپاتې وي. دا چې وشي نو بيا د ماليې وزير راځي او د ماليې کاغذونه راښيي او موږ د پيسو جاج اخلو. دا کاغذونه د هغه د مشورې او تصويب او د رايو په رڼا کې جوړ شوي وي او زما د وروستۍ فيصلې لپاره راوړل کېږي. وروسته هغه ليکي چې دوه بجې ديوان ټهاکر پرشاد د مځکو کاغذونه زما په موجودګۍ کې مستجارانو ته ورکوي. تر شپږو دا کار روان وي. شيخ محمد حسن او منشي اسرارحسن خان د تېرو ماليو د راټولولو کاغذونه راوړي."

سلطان جهان د شپې اته بجې ډوډۍ خوري او له هغې وروسته د شپې تر يولسو بجو ان تر نيمې شپې ليکونه ولولي. ځوابونه ورته ورکوي. د طاعون دخپرېدو د مخنيوي لپاره کارونه ووېشي او داسې نور.

سلطان جهان مشاورتي مجلس يو واري بيا رامنځته کړو او د ښاروالۍ انتخاب يې وکړو. د ساري ناروغيو د مخنيوي لپاره يې عامو خلکو ته د ستنو وهلو او د مفتو داروګانو د وېشلو انتظام وکړ.

هغې په لومړي ځل په بندي خانه کې له بنديانو نه د کار اخيستلو لپاره د لاسي توکو د جوړولو، اوبدلو او د بوټلو تربيې تګلاره جوړه کړه.

په خپل ورځني ژوند کې هغه ډېره مذهبي ښځه وه. پرده به يې کوله او ان مېمونه سلطان ته به يې هم په پرده کې د اوسېدو غړ کاوه. خو د سرکاري کارونو لپاره به يې له سړو سره ليدل. انګرېز مېرمنو ته دا لاربښوونه وه چې د سلطان جهان د ليدو لپاره ورځي، نو خپلې متې به بربنډې نه ساتي. يوه بريتانوي مېرمنه ګريس تهامس سيټون چې په ۱۹۲۷ کې بهوپال ته تللې و په خپله سفرنامه کې ليکي:

''اوسنۍ بيګم د جينکو لپاره ښوونځی، د ښځو يو روغتون او د لاسي کارونو يو پوهنځی پرانستي دي. دا هر څه په پرده کې کېږي. محترمې نوابې چې هر څه په وس کې وي او اسلامي قانون ورته اجازه ورکوي د ښځو لپاره يې کوي.''

''نواب سلطان جهان بېګم د شپږو کتابونو يوه باصلاحيته ليکواله ده. دا د انجينېرۍ، موسيقي، پخلي او د ستنې د کار پوره علم لري. او د علي ګړ پوهنتون ريسه (چانسلره) ده.''

وروسته نوابې سره د چای د څښلو لپاره چې ورځي نو د سلطان جهان په اړه ليکي:

''ددې د واورې په شان سپين ويښته و. لباس يې يو دکمې (بټن) لرونکی کميس او ورېښمين پرتوګ وو او نسواري کشميری شال يې پر اوږو لکه د ساړۍ تاوکړی و. نه د دې پر سر تاج و، نه ورېښمينه چپنه او نه هم ځلېدونکي کالي پټري، خو وقار او دروند شخصيت ددې له مهربانو سترګو څرګند و. داسې سترګې چې هم يې غم ليدلی و او هم يې برياليتوب ترلاسه کړی و.

her highness جلالت مآب په انګرېزي هم خبرې کولای شي خو ماسره يې خپله ژبه اردو کې خبرې کولې. په دې ژبه کې يې ليکنې هم کړې دي. په دوی کې يو د دې د مور او نيا او يو د دې د خپل ژوند ليک دی. نور کتابونه يې د يوې مسلمانې کورنۍ او د پردې په دفاع کې ليکلي دي.''

مېرمن ګريس وروسته بيا د سلطان جهان د دريو لمسيو ذکر کوي. چې د خپلې نيا د سلام او تعظيم وروسته يې ترې د لوبو اجازه واخيسته. د مېمونه سلطان په اړه وايي دا به د درويشتو کالو وي او ډېره نرۍ او ښايسته وه. ددې کړه وړه شاهانه وو او خوشاله معلومېده. دا په سخته پرده کې له خپلې خوابنې سره د شاهي ماڼۍ په نورو خونو کې ژوند کوي.

د هغې دربار ته به د يورپ اميران هم ورتلل. په ۱۹۰۷ کې هغې ته د هند د امپراتورۍ لوی اعزاز ورکړل شو. په اګره کې د يوه دربار پر وخت هغه د افغانستان له امير امان الله خان سره هم مخامخ شوه او ورسره يې په پښتو او فارسي کې خبرې وکړې.

په دې ورځو کې هغې د حمید الله پر شخصي مځکه ځان ته یوه ماڼۍ د احمدآباد په نوم جوړه کړه. هغه په دې وېرېده چې که مړه شوه نو د نواب سرکاري کور صدر منزل به د جلال آباد پښتانه ترې نه واخلي.

سلطان جهان چې څه وخت حج ته تله، نو په لارې په سمندري بېړۍ کې یې د خپل انګرېز ډاکټر له مېرمنې انځورګري زده کړه. له دې وروسته چې به سلطان جهان هر وخت موقع وموندله نو ځان به یې په دې کار بوخت ساتلو.

په ۱۹۰۲ م کال د بریتانیا شهزاده (ځای ناستی) چې بیا وروسته د پنځم جورج په نوم پاچا شو، هند ته ورغی او په بېلا بېلو دربارونو کې سلطان جهان ده او دده مېرمنې شهزادګۍ مېرې سره ولیدل.

په دې کال په بهوپال کې یوه جرګه او قانون جوړونکې اسمبلي جوړه شوه چې د خلکو د استازیتوب په برخه کې د پرمختګ یو بل ګام و.

په ۱۹۱۱ م کال کې جورج پنځم د خپل پلار له مړینې وروسته د برتانیا پاچا شو او د هغه د تاجپوشۍ په مراسمو کې سلطان جهان ته هم بلنه ورکړل شوې وه. هغې په ځواب کې انګرېزانو ته ولیکل چې دا په بورقه کې په دې مراسمو کې ګډون کوي. سلطان جهان یوازې بریتانیا ته نه بلکې د نورو اروپایي ملکونو تر څنګ فلسطین، ترکیې او مصر د لیدو لپاره هم پلان جوړکړ. د هغې دویم زوی عبیدالله د زړه په ناروغۍ اخته و، او دې غوښتل که په اروپا کې یې علاج ممکنه وي، نو کېدای شي چې جوړ شي. هغې نصرالله په بهوپال کې د خپل ځای ناستي په توګه پرېښود. عبیدالله د هغه مېرمن، حمیدالله او وړه مېمونه چې د یولس کلونو وه په دې سفر کې له سلطان جهان سره مله وو.

په ممبۍ کې دوی په بېړۍ کې سپاره شول او په سویز کانال کې په عدن کې ایسار شول. دلته د بېلجیم پاچا او ملکه هم ورسره مله شول. دوی اټالیې او بیا د فرانسې مارسیلز (مارسای) ته ورسېدل. د اروپا خبریالان په بندر کې راټول وو، چې غوښتل یې د هند د یوې ملکې په اړه راپورونه ولیکي او عکسونه یې واخلي. خو سلطان جهان له بېړۍ بهر ګام نه پورته کاوه. اخر پولیس ټول خلک له هغه ځایه لرې کړل او دوی یې اورګاډي ته ورسول. د فرانسې حکومت دا خصوصي ګاډی دوی ته ور اخیستی و. دوی پاریس ته ورسېدل.

ددې سفر ټول حال یوولس کلنې مېمونې لیکلی دی. یوځای دا لیکي چې د دوی د هوټل په غسل خانه کې دوې نلکې وې. یوه د تودو اوبو بله د سړو اوبو لپاره. یوه لویه ستونزه د حلالو خوړو وه. د پاریس د مېجیستیک هوټل په پخلنځي کې یوه پرده ودرول شوې وه او د سلطان جهان اشپز په کې دوی ته حلال خواړه پخول. دوی هلته پنځلس ورځې ایسار وو او میمونه لیکي چې په هوټل کې د ټولو لپاره دوی لس زره روپۍ ورکړې. عبیدالله د علاج لپاره جرمنې ته واستول شو او سلطان جهان رودبار انګلستان channel نه په تېرېدو لندن ته ورسېدله. له دې ځایه ۱۸ میله لرې د رېډ هیل نومي ځای په پېټیسن کورټ نومي کور کې یې کډه واړوله.

تر تاجپوشۍ وړاندې دوی په لندن کې ښه وګرځېدل. په مېلمستیاوو کې یې ګډون وکړ او اخر یې د مراسمو ورځ رانږدې شوه، نو دوی د بکینګهم ماڼۍ سره جوخت یوه هوټل ته راکډه شول.

هغې خپل دواړه زامن او وزیران له ځانه سره بوتلل، خو خپلې نګیندې یې په رېډ هیل هوټل کې پرېښودې.

په مراسمو کې سلطان جهان په بورقه کې ولاړه او عجيبه يې لا دا چې خپل ټول مېډالونه يې د بورقې له پاسه ټومبلي وو. د برېتانيې ورځپاڼو د بهوپال د بېگم په اړه عجيبه کيسې ليکلې. دا چې هغه د دې ځای اوبه نه څښي او خپلې اوبه يې له ځانه سره راوړي دي. دا چې هغه ژوندي چرگان خوري. د اوبو خبره دا وه چې سلطان جهان د زم زم اوبه له ځانه سره راوړې وې او د دې د خوراک لپاره به ژوندي چرگان حلالېدل او بيا به پخېدل. هغه ځکه چې دې د بازار غوښه نه خوړله.

د تاجپوشي له مراسمو وروسته سلطان جهان جرمني او ژنيو ته ولاړه او هلته خبره شوه چې په ترکيې کې سخته زلزله راغلې ده، دې سمدستي درې زره پونډه عثماني سلطان ته ورواستول.

د ختيز پر لورې يې خپل سفر جاري وساتلو او په اورگاډي د ويانا له لارې ترکيې ته ولاړه.

په استنبول کې د ترکيې سلطان وزير راغب بېگ د دوی هرکلي ته ولاړ و. دوی يې هوټل کې مېشت کړل. هغې د دې ښار ښکلي جوماتونه او ميوزيمونه وليدل.

د دولما باچې په شاهي ماڼۍ کې د سلطان ليدو ته ورغله او د هغه مېرمن سلطانه يې وليدله. پاچا له سلطان جهان سره په فارسي خبرې کولې او بيا يې خپلې مېرمنې ته په ترکي ترجمه کولې.

کله چې سلطان له هغه ځايه ولاړه، نو سلطانې ورته وويل چې بورقه دې لرې کړه. هغې چې بورقه لرې کړه نو سلطانې په مخ ښکل کړه. خبرې په انگرېزي پيل شوې او د سلطانې لور له انگرېزي ترکي ته ژباړلې.

له ترکيې د روانېدو پر وخت سلطان هغې ته د ترکيې تر ټولو لوی اعزاز د ورکولو اعلان وکړو. سلطان جهان له انگرېزانو نه اجازه

وغوښتله نو هغوی ورته وويل: له برېتانيا پرته بل څوک هغې ته د اعزاز ورکولو حق نه لري. د ترکيې سلطان په دې خبره سخت په قهر شو. خو تر هغه يې لوی سوغات ورته وړاندې کړ او دا د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم هغه وېښته و چې دوی ډېر په عقيدت سنبال کړي و. سلطان جهان په دې عقيدوي تحفه دومره خوشاله وه چې يو وزير ته يې دا وروسپارلو چې د يوې شېبې لپاره به يې هم له ځانه نه لرې کوي. دا وېښته په بهوپال کې ډېر په عقيدت يوه ماڼۍ کې کېښودل شو او د ميلادالنبي پر موقع به خلکو ته ښودل کېده.

له ترکيې څخه سلطان جهان هنگري او ورپسې د اټاليې څو ښارونو ته ولاړه او په فلورېنس کې وه چې د نصرالله ليک ورته راورسېدو چې په بهوپال کې د طاعون وبا گډه شوې ده.

هغې خپل نور سفرونه پای ته ورسول او سمدستي د مصر د سکندريې له لارې په سمندري بېړۍ کې بمبۍ ته روانه شوه. په مصر کې هغې جامع الازهر ته هم ښې ډېرې پيسې ورکړې.

په بهوپال کې د طاعون پر وخت د ورځې ۱۵۰ کسان مړه کېدل او شپږ مياشتې وروسته چې سلطان جهان بېرته راوگرځېده نو ډېر خلک دې وبا خوړلي وو.

په ۱۹۱۱ کې سلطان جهان د ډيلي دربار ته ورغله چې د پنځم جورج او د ملکې مېرې د هند د سفر پر مهال جوړ شوی و. هم په دې کال د ټول هند د ښځو د تعليم د اصلاحاتو په اړه يو کنفرانس جوړ شوی و چې سلطان جهان يې مشري کوله. د هغې وينا (تقرير) د هغه وخت د يوه تاريخي سند ارزښت لري. هغې د تعليم او تحقيق لپاره د ډېرو پروژو سرپرستي وکړه. په دوی کې د مولانا شبلي نعماني له خوا د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د ژوند په باب د نوميالي

کتاب سیرت النبي لیکل او چاپول هم شامل و. د انګرېزانو له خوا هغه د علیګړ پوهنتون لومړۍ چانسلره وټاکل شوه. له دې وروسته خپله پوهنتون هم دا د دوو دورو لپاره پر دې ځای وټاکله. د یوې مسلمانې او پښتنې ښځې لپاره دا یو ډېر لوی بریالیتوب و.

سلطان جهان د تعلیم په اړه ډېره خواشیني وه. پخپلو یادښتونو کې لیکي:

"زما لپاره دا ډېره د غم او ناارامۍ خبره ده چې زما د ملک بهوپال د شپږ لکه شپېته زره نهه سوه او شپېته وګړو (۶۶۰۹۶۰)کې یو تن هم داسې نشته چې د پوهنتون سبق یې ویلي وي. دا له دې حقیقت سره سره چې زما د مور د حکومت په دوره کې هر هغه کس ته مالي مرسته ورکول کېده چې له لومړیو زده کړو وروسته یې تعلیم جاري ساتلو.

په خپله په ښار کې د لومړۍ زده کړو لپاره ښوونځي شته خو ځلوښت کسان به پېدا نه کړې چې لسم یې ویلي وي.

په ۱۹۱۱ کې د یورپ له سفره وروسته دې په هند کې د ښځو هرې لویې غونډې کې ګډون کاوه. په دې وخت کې د هغې دریځ دا و چې د ښځو لپاره د پردې ضرورت نشته او دا چې د غریبو او بې وزلو ښځو حالت ښه کولو لپاره کار پکار دی. په ۱۹۲۸ م کال کې هغه په خپله له پردې راووتله او خلکو په لومړي ځل اویا کلنه سپین سرې نواب سلطان جهان ولیدله.

په ۱۹۱۲ کې مېمونه سلطان او حمیدالله د ښځې او مېړه په توګه ګډ ژوند پیل کړ او د دولس کلو په عمر کې مېمونه د یوې ماشومې مور شوه، چې عابده سلطان ونومول شوه. وروسته دا ماشومه د

بهوپال د وروستۍ وارثې په توګه د ګوهر تاج په نوم د دې نوابۍ بې واکه واکمنه شوه.

د سلطان جهان مشر زوی به زیاتره وخت په خپلو مځکو او ښکار بوخت و. ده د نوابۍ شوق نه لرلو. خو عبیدالله په ډاګه د مور مخالفت پیل کړ او خپلو وربرونو (دنصرالله زامنو) او کشر ورور حمیدالله ته به په قهر و. سلطان جهان د خپل زوی د مخالفت تر شا د جلال اباد د پښتنو لاس لیدو. د عبیدالله او نصرالله مېرمنې خویندې وې او دوی به ځان ډېر متمدن او له نورو اوچت ګڼلو. دوی به د خپلې یور مېمونه سلطان په کړو وړو او د هغې په ژبه اعتراض کولو. مېمونې به تل له پېښوره خپل خپلوان بهوپال ته وربلل. په دوی کې به ډېرو خپله جامه اغوستله چې ګېډۍ پرتوګ او لوی چیندار کمیس و.

جلال آبادي مېرمنو به د دوی په لیدو ملنډې وهلې او دوی ته به یې ګهاګرا پلټن (د ګګرو اغوستونکې ډله) ویله.

د هند په مسلمانانو کې یو دود دی چې کله یو ماشوم د څلورکالو څلور میاشتو او څلورو ورځو شي، نو د ده لپاره د "بسم الله" مراسم ترسره کوي. ماشوم ته ښکلې جامې اغوستل کېږي او خپل خپلوان ورته راغواړي. بیا هغه څوک چې ماشوم ته د قرآن د لوست د نده ورکړې شوې وي، له ماشوم سره کېنېني او د بسم الله الرحمن الرحیم په ویلو سره دیني زده کړې پیل شي. په دې موقع ماشوم ته په خوله کې خواږه ورکول کېږي او نژدې خپلوان ورته تحفې او پیسې هم ورکوي.

د بهوپال وروستۍ وارثه عابده سلطان په خپل کتاب کې لیکي:

"په ۱۹۱۸م کال کې د جنوري پر لومړۍ نېټه زما د بسم الله مراسم وشو".

عابده سلطان د خپلې نیا سلطان جهان په کور کې لویه شوې وه او هم هغې ورته د قرآن او د هغه لفظي ترجمه ورزده کړې وه. دا زده کړې د ماشومې عابدې لپاره سختې وې. ځکه هغه به سهار د ملا بانګ سره راپاڅېدله. د لمانځه وروسته به نیا ورته سبق ښودلو او که غلطي به یې وکړه او یا سبق به یې نه ویلو نو سلطان جهان به په سوکانو وهله.

د بهوپال د واکمنې په توګه د سلطان جهان دربار به په انګړ کې لګېدو. هلته به سلطان جهان په یوه سپین توشک، ګدۍ یا درۍ په مځکه کښېناستله. په یو شمېر نورو صندوقونو کې به یې کاغذونه اېښې وو. ددې خواوشا به عریضه کوونکي، منشیان، او مېلمانه ناست او ولاړ وو. عابده سلطان لا د اتو کالو نه وه چې قرآن یې له لفظي ترجمې سره حفظ کړی و.

سلطان جهان د خپلې لمسۍ په دې کامیابۍ تر ځلوېښتو ورځو پورې په بهوپال کې د نشرح جشن اعلان کړ. خو د واکمنۍ مشرانو نګیندو له دې هر څه ځان لرې وساتلو. په سرکاري ماڼۍ کې به هر ماښام ښځې راټولېدې او سندرې به یې ویلې. اخر سلطان جهان خپلو نګیندو ته د سبق ورکولو فیصله وکړه. یوه ورځ یې دوی ټول خپل کور ته وروبلل او کله چې مېلمانه په انګړ کې راغونډ شول، نو سلطان جهان د ډولکي په درز راپاڅېده. په دواړو لاسونو کې یې دسمالونه ونیول او له یوې مخې یې د پښتنو اتڼ پیل کړ. د واکمنې په دې کار سره د هغې ټولو مېلمنو هم ځان ورګډ کړلو اوس نو د جلال آبادي مېرمنو لپاره بې له دې بله هېڅ لاره نه وه چې اتڼ وکړي. سره له دې چې جلال آباديان په خپله هم پښتانه وو. دوی به د پېښور اوسېدونکو ته کهاري (ترخه) ویل. دوی نه غوښتل چې واکمنه ترې

خپه شي، نو د لاسونو په وهلو په دې اتڼ کې ورګډې شوې. د عابده سلطان لپاره د هغې ترونو او خپل پلار په بېلو بېلو ورځو د نکریزو تالونه ورواستول. په ۱۹۲۱ کې تر یوه ښکلي تمبو لاندې د نهو وړوکو جینکو په بدرګه مېلمنو ته راغله چې په کې د عابدې دوې خویندې ساجده او رابعه هم شاملې وې. سلطان جهان له ټولو مېلمنو سره پر مځکه ناسته وه. د خپلې لمسۍ پر قابلیت یې یو تقریر وکړ. ټولو د الله اکبر نعره پورته کړه او بیا عابدې سلطان په مصري لهجې د قرآن تلاوت پیل کړ. سلطان جهان په خپلې ماڼۍ کې د جینکو ښوونځی پرانیستی و چې په کې ددې لمسۍ له نورو سره یو ځای د نوې زمانې زده کړې پیل کړې.

نهم څپرکی
وروستی نواب

په ۱۹۱۴ کې د لومړۍ نړیوالې جګړې له پیل سره سم د بریتانیا حکومت د هند له لویې وچې نه د پوځیانو برتي کول پیل کړل. د هند له ټولو راجه ګانو او نوابانو دا هیله کېده چې دوی به خپل ټول وسایل انګریزانو ته ورکوي. د مسلمانو ریاستونو لپاره دا یو ډېر سخت کار و. ځکه چې په دې جنګ کې د انګرېزانو مخالف جرمني له ترکیې سره اتحاد کړی و. بهوپال د انګرېزانو پلوي نوابي ګڼل کېده. خو سلطان جهان د ترکیې د حکومت په پلوي مجبوره وه، ځکه د هغې د حج کولو پر مهال ترکي عسکرو د هغې ټوله کورنۍ ژغورلې وه.

په علي ګړ پوهنتون کې مسلمانو محصلینو د ترکیې په چارو کې په ډاګه احساساتي تقریرونه او بحثونه کول. په خپله په ترکیې کې د عثماني دورې د بیا راژوندي کولو لپاره خلکو د هند پر مسلمانانو لویه تکیه کوله. د هند مسلمانانو د مغول سلطنت له ړنګېدو وروسته ترکیې ته سترګې نیولې وې او غوښتل یې چې هلته د مسلمانانو یو غښتلی اسلامي دولت جوړشي.

حمیدالله له خپلو ملګرو سره د ترکیې خلافت د پاڅون لپاره هلې ځلې کولې.

انګرېزانو پر دې وخت سلطان جهان ته مرموز پیغامونه ورلېږل چې په حمیدالله دې نظر ساتي. سلطان جهان د بهوپالي عسکرو یوه ډله هغوی ته په دې شرط ورکړه چې دوی به د ترکانو پر ضد نه جنګېږي. هغې درې لکه او درویشت زره روپۍ هم انګرېزانو ته ورکړې. په ۱۹۱۵ کې جګړې زور اخیستی و. د هغې زوی عبیدالله د پوځي قوماندان په توګه عدن ته لاړ. خو ډېر ژر ناروغه شو او بېرته یې

راواستولو. حمیدالله له سبق وروسته په بهوپال کې د خپلې مور د مشر وزیر دنده پر غاړه واخیسته. هغه د علیګړ نه خپل ملګري راوغوښتل او په بهوپال کې یې په بېلا بېلو حکومتي کارونو بوخت کړل. په دې کار د بهوپال خلک هم ناراضه وو. ځکه دوی د بهوپال په کلتور نه وو خبر.

په بهوپال کې اوس هر چا له انګرېزانو څخه د خپلواکۍ اخیستلو خبره کوله. په **۱۹۲۴** کې د سلطان جهان زوی جنرال عبیدالله د سرطان په ناروغۍ مړ شو. د هغې مشر زوی نصرالله د شکرې په ناروغۍ اخته و او د خپل ورور له مړینې څو میاشتې وروسته دی هم مړ شو. د نوابۍ لپاره د حمیدالله چانس برابر و خو ها خوا د نصرالله زوی حبیب الله هم د خپلې نیا د ځای ناستي په توګه او د جلال آبادیانو په ملاتړ د بهوپال نوابي غوښتله.

سلطان جهان په دې وخت کې د خپل زوی حمیدالله لپاره یو ځل بیا د خپلو خپلوانو له مخالفت سره مخامخ شوه. د نصرالله له مړینې لس ورځې وروسته یې د انګرېزانو پاچا، خارجه وزیر او استازي ته لیکونه واستول او د اسلامي قانون له مخې یې د حمیدالله د ځای ناستي د حق خبره وکړه. بلخوا حبیب الله هم له انګرېزانو سره رابطه ټینګه کړې وه. انګرېز استازي د سلطان جهان دعوا په قانوني اساس رد کړه. نو هغه دومره په قهر شوه چې سمدلاسه یې انګلستان ته د سفر نیت وکړ.

په **۱۹۲۵** کې هغه یو واري بیا انګلستان ته ورسېده. دلته هغې د بریتانوي حکومت له مهمو وزیرانو او پارلماني غړیو سره لیده کاته پیل کړل. حمیدالله په خپله هم د خپل حق لپاره هلې ځلې کولې. میمونه سلطان هر ځای له خپلې خوانبې سره مله وه او کوم ځای چې

به سلطان جهان په خپلې ماتې ګوډې انګرېزي خپل مطلب نشو بیانولی نو مېمونې به ورسره مرسته کوله.

په دې ورځو کې د انګلستان د پاچا جورج پنځمه لمسۍ ایلیزبیت وزېږېده. سلطان جهان د هغې مبارکۍ ته ورغله (وروسته دا شهزادګۍ د انګلستان ملکه شوه) او پاچا ته یې خپله عریضه واوروله. پاچا ورته په ځواب کې وویل چې دی هېڅ واک نه لري او هر څه چې د هند په باب کېږي هغه د برتانیې حکومت کوي. سلطان جهان له دې نه وه خبره چې د برتانیا د پارلمان ځینو غړیو په هند کې د انګرېز حکومت له استازیو پوښتنې کولې، چې دوی په کوم قانون د حبیب الله ملاتړ کوي. هغوی د حکومت هغو خلکو ته مشوره ورکړې وه چې د سلطان جهان په مخالفت ولاړ وو چې دغدر (د ازادۍ جګړه) پر مهال د بهوپال د شاهي کورنۍ رول مطالعه کړي. د انګرېزانو تر منځ قانوني لیکونه تلل راتلل او اخر په **۱۹۲۶** کې د حمیدالله حق ومنل شو.

سلطان جهان د زړه په مرض اخته وه او په لندن کې یې اعلان وکړ چې دا د خپل زوی حمیدالله خان په حق کې له نوابۍ لاس اخلي. انګرېزانو په خپل لیک کې ویلي وو چې له حمیدالله وروسته به د نصرالله او عبیدالله زامنو ته نوابي ورکول کېږي. ځکه حمیدالله درې لوڼه لرلې، خو سلطان جهان دا خبره نه منله. په دې دلیل چې په دې فیصله به د حمیدالله ژوند په خطر کې وي. دی به د ګدۍ لپاره د خپلو وربرونو له خوا ووژل شي. انګرېزانو دا دلیل ومانه، خو پوښتنه یې وکړه چې که د حمیدالله لور عابده سلطان د هغه وارثه شوه او وروسته د حمیدالله زوی وزېږېده بیا به څه کېږي؟ ځکه حمیدالله د دېرشو او مېمونه سلطان په دې وخت کې د پنځه ویشتو کلونو وه.

سلطان جهان د خپلې لمسۍ د وراثت لپاره پر دې اساس جنګېده چې د بهوپال په ۱۰۷ کلن تاریخ کې څلورو ښځو ډېر په بریالیتوب حکومت کړی دی. نو عابده سلطان به هم ددې وړ وي چې د بهوپال واکمنه شي. دوه کاله وروسته د انګرېزانو او د حمیدالله ترمنځ په یوه تړون کې عابده سلطان د هغه ځای ناستې اعلان شوه. هغې ته د ګوهر تاج خطاب ورکړل شو.

د نواب حمیدالله دور په بهوپال کې ډېر لوی بدلونونه راوستل. دا بدلون په مراسمو او انتظام دواړو کې لېدل کېده. کابینه د دوو وزیرانو پرځای اوس په شلو وزیرانو ډکه وه. سلطان جهان به په دې خپه کېده او زوی ته به یې ویل چې ولې دومره پیسې لګوې. خدمتګارانو ته سپینه درېشي (یونیفارم) ورواغوستل شو. شاهي شان شوکت پیدا شو. د مالیې مستحاجري نظام معرفي شو.

سلطان جهان نور هیڅ نشو کولای هغې اوس هم د پنځو لکو روپیو مځکې او جاګیر لرلو او فیصله یې وکړه چې پر خپله مځکه به د عابده سلطان لپاره یوه ښکلې ماڼۍ جوړوي. دا ماڼۍ نورالصباح نومېږي او اوس یو هوټل دی.

سلطان جهان د ۷۲ کلونو په عمر کې د ګردې یا پښتنه ورګو د عملیاتو وروسته په حق ورسېده.

په ۱۹۳۲ کې د هند نوابي ریاستونو او نورو راجه ګانو خپله یوه اتحادیه جوړه کړې وه او نواب حمیدالله درې واري ددې اتحادیې مشر ټاکل شوی و. په دې کلونو کې د هند د خپلواکۍ خبرو زور نیولی و او دا خبره یقیني وه چې انګرېزان به له هنده وځي او هند به وېشل کېږي. د کانګرس ګوند خپل استازي راجه ګانو ته ور واستول چې له هند سره د یوځای کېدو (الحاق) سند لاسلیک کړي او په

رسمي توګه له هند سره یو ځای شي. په دې وخت کې مسلمانو ریاستونو، حیدرآباد، جوناګړ او بهوپال له دې فیصلې نه ډډه وکړه.

نواب حمیدالله نه غوښتل چې د بهوپال خپلواکي د ده له لاسه هند ته وسپارل شي. ده غوښتل چې دا کار د هغه لور عابده سلطان وکړي. او دا یې تر څه ځایه ددې کار لپاره تیاره کړې وه.

عابده سلطان په خپل کتاب کې لیکي:

''په دولسم اګست ۱۹۴۷ کې زما پلار په ډیلي کې له جناح، ماونټ بېټن، او د کانګرس له مشرانو سره تر خبرو اترو وروسته په الوتکه کې بهوپال ته راورسېدل، په زړګونه وګړي دده هرکلي ته ولاړ وو. دوی نارې وهلې چې 'پاکستان ته مه ځه.'

حمیدالله هم هلته په خپله وینا کې خلکو ته ډاډ ورکړ چې 'دوی به نه مایوسه کېږي.'

له انګرېزانو د خپلواکۍ د ترلاسه کولو په هلو ځلو کې دی څو واري د کانګرس، مسلم لیګ او د انګرېزانو تر منځ په جرګو او مرکو بوخت و، او دوی ټولو په دې اعتماد لرلو. ده مهاتما ګاندهي په دې قانع کړی و چې د مسلم لیګ او محمد علي جناح وجود دې ومني او دا چې د هند مسلمانان ځان له پېژندګلوي او خپله خاوره غواړي. خو دبهوپال پولې له هرې خوا د هندوانو له اکثریتي سیمو سره نښتې دي او دلته ډېری اوسېدونکې هم هندوان دي. د هند او پاکستان وېش هم په دې اساس کېدو چې د ډېرکي هندوانو سیمې به له هند سره او ډېرکی مسلمانو سیمې به له پاکستان سره شاملېږي. حمیدالله په دې پوهېدو چې د پاکستان له جوړېدو وروسته به بهوپال ځان ته پاتې وي.

په ۱۹۴۷ م کال کې حمید الله په کراچۍ کې یو لوی کور ځان له په بیه واخیست او ''بهوپال هاوس'' نوم یې ورله ورکړ. په دې کې د استوګنې انتظام هم وشو او د جناح له خوا هغه ته داسې پېغامونه استول کېده چې که دی راغی، نو کېدای شي د هغه ځای ناستي به وټاکل شي او یا به هم د ختیز پاکستان چې اوس بنګله دېش دی د هغه والي مقرر شي. خو په ۱۹۴۸ م کال کې د جناح له مړینې وروسته د پاکستان سیاسي فضا بدله شوه. اخوا د هند حکومت هم زور لګولی و چې نواب حمید الله دې په بهوپال کې پاتې شي. اخر په ۱۹۴۹ م کال کې دا خپلواکه ریاست لکه د نورو سلګونو ریاستونو غوندې د هند برخه وګرځېده.

په ۲۰۰۲ م کې د مې پر دولسمه نېټه د کراچۍ په ډان نومي ورځپانه کې یو وړوکی خبر چاپ شو چې ''د بهوپال د پخواني ریاست وارثه شهزادګۍ عابده سلطان د شنبې په سهار د ۸۹ کلونو په عمر کې وفات شوه. دا د پاکستان د پخواني ډیپلومات شهریارخان مور وه او په ۱۹۴۲م کال کې لومړۍ مسلمانه پیلوټه ښځه وه. نوموړې د هاکۍ، پولو او ټېنیس لوبغاړې او د هند د ښځو د سکواش اتله پاتې شوه وه.''

عابده سلطان د بهوپال د نواب ځای ناستي حمید الله خان او د میمونه سلطان مشره لور وه. چې په ۱۹۱۳ کې په شاهي ماڼۍ کې وزېږېده او سمدلاسه د نواب سلطان جهان بېګم په غېږ کې ولوېدله. تر څو چې هغه ژوندۍ وه د عابده سلطان پالنه او روزنه یې کوله. عابدې په وړوکي عمر کې له خپلې نیا د قرآن لوست له اردو ترجمې سره زده کول پیل کړل او په غلطي کولو به د خپلې نیا له خوا وهل کېدله.

عابده سلطان پخپل کتاب کې لیکي: ''د اس سپرلي او ننبه ویشتل زموږ ټولو ماشومانو لپاره یو لازمي کار و. راته ویل کېدل به چې هر یو پښتون باید ښه ننبه ویشتونکی وي.''

عابدې ته په خپله د بهوپال د واکمنې سلطان جهان له خوا ډېر ښه پام کېده. هغه ځکه چې دا د خپل پلار نواب حمید الله خان ځای نیوونکې وه. د یولس کلونو په عمر کې هغې د قرآن لوست پای ته ورساوه. نو د هغې د نشرح جشن ولمانځل شو. په ټول بهوپال کې هغه مهال ددې د لمانځلو ذکر تر ډېرې مودې د خلکو په خوله کې و. په ۱۹۲۲ م کال کې چې کله ددې پلار حمید الله خان په لندن کې په رسمي توګه نواب اعلان کړل شو. نو عابده هغه وخت له خپلې مور او خویندو سره یو ځای وه او بهوپال ته بېرته په راتګ چې اورګاډی ښار ته رانژدې شو نو دا په ستر کښېنول شوه. د عابدې لپاره دا یو عجیبه حالت و. هغې خپل ټول ماشومتوب په لوبو او منډو کې تېر کړی و. د یوې عادي مېرمنې غوندې ژوند کول هغې ته ګران و. خو څو میاشتې وروسته دا د کوروایي د نواب سرور علي خان ته په نکاح کړل شوه. هغه د اورکزیو له فیروزخېلو څخه و. راتلونکي پنځه کاله هغې خپل رسمي تعلیم او زده کړې پوره کړې او کله چې د ۱۷ کالو شوه نو د پلار له کوره رخصت شوه او په کوروایي کې یې ژوند پیل کړ.

د سرورعلي خان او عابدې خوی خصلت او ژوند له یوه بله سره ډېر په توپیر کې و. عابدې د اس ځغاسته، بایسکل، پولو، لوبې او ښکار خوښول او د هغې د خاوند شطرنج او تاش لوبه خوښه وه. دی د ساړه طبعیت خاوند و او په کور کې د اوسېدو او مطالعې شوقین وو او هر وخت به یې بدني لوبې نه خوښېدې. نتیجه دا شوه چې د دوی تر منځ شخړې کېدې. عابدې یو څو میاشتې ورسره تېرې کړې او

ببرته د پلار کور ته راغله. هغې په خپل کتاب کې د خپل واده کړي ژوند د ناکامۍ پړه پر خپلې غاړې اخيستې ده.

يو کال وروسته دا د يوه ماشوم مور شوه چې شهريارخان ونومېدو. بيا عابدې په خپله سرورعلي خان ته اجازه ورکړه چې بل واده دې وکړي. خو په خپله يې تر مرګه له هغه طلاق وانه خيست او نه يې بل واده وکړ. عابده د خپل پلار له خوا د بهوپال مشره وزيره وټاکل شوه او په ۱۹۳۷ م کال کې له خپل درې کلن ماشوم زوی، مور پلار او خويندو سره يوځای د انګلستان د پاچا ځلورم جورج د تاجپوشۍ مراسمو کې د ګډون لپاره ولاړه.

عابدې سلطان له خپل پلار سره د مشرې وزيرې په توګه سرکاري کارونه سرته رسول او د خپل زوی شهريارخان د تربيې او تعليم سره سره يې د الوتکې چلولو، ښکار او لوبو کې ځان له مصروفيت موندلی و. په ۱۹۴۷م کال کې د هند او پاکستان د وېش معامله په ځينو ځايونو کې د خونړيو جګړو او بلواوو سوب ګرځېدلې وه.

په دې حالاتو کې عابدې خپل زوی انګلستان ته بوتلو او هلته يې په ښوونځي کې داخل کړ. په دې کال د هغې پلار د افتاب بېګم نومې نجلۍ سره دويم واده وکړ، چې له عابدې سره په ښوونځي کې وه. مېمونه سلطان او د عابدې نورو خويندو دا خبره په صبر سره وزغمله. تر يوه حده عابده سلطان هم ددې واده مخالفه نه وه خو حميدالله دوی ټولو ته امر کړی و چې افتاب بېګم ته به هره ورځ سلام کولو ته حاضرېږي. د عابدې لپاره دا خبره د منلو وړ نه وه. دا هسې هم ډېره سرتمبه او سرکشه ښځه وه او پلار ورته ډېر ګران و. په دې خبره د هغې زړه ځنې مات شو او له بهوپاله مايوسه شوه. دلته ورته ژوند عبث ښکاره شو.

په ۱۹۴۹ کال کې د هغې پلار د خپل علاج لپاره په انګلستان کې و. عابدې خپل کالي پترې راټول کړل او تر ټولو نژدې خدمتګارې ته يې وروسپارل او دا يې بمبۍ ته وروا ستوله. څو ورځې وروسته دا په خپله هم بمبۍ ته ور ورسېده. هلته يې د سکواش په اتلوليو کې برخه واخيسته او بيا په بېړۍ کې کښېناسته او د هند خاوره يې پرېښوده. دې په خپلې مانۍ کې نوکران، موټرې، اسونه او د کور هرڅه همدغسې پرېښودل او تر ډېرو ورځو څوک خبر نه وو چې دا به بيا نه راځي. څو ورځې وروسته يې په انګلستان کې يو جيپ واخيستو او د سړک له لارې اروپا، ترکيې او له ايرانه پاکستان ته ولاړه. هغه مهال د دې زوی شهريارخان په کېمبريج پوهنتون کې سبق ويلو.

د کراچۍ په ملير سيمه کې هغې ځان له مځکه واخيستله او خپل کور يې پرې جوړ کړ، چې تر ډېرې مودې پورې نامکمله پاتې و او برېښنا په کې نه وه. هغې خپل کالي خرڅول او شهريار ته يې د سبق لپاره پيسې وراستولې. ځکه د هغه د تعليم لپاره لا پخوا د بهوپال سرکاري وظيفه بنده شوې وه. د هغې په وتلو سره نواب حميدالله خان ورسره ټول اړيکې شلولې وو. د هغې د مځکو ګټه هم ورباندې بنده شوه او د نورالصباح مانۍ سرکاري شوه.

عابدې سلطان اته کاله ډېر په خوارۍ ژوند تېر کړ خو له پلاره يې چېرې هم پيسې ونه غوښتلې. يو واري د دې په کور کې غلا هم وشوه او يو څه کالي پترې چې ورسره وو هغه هم ترې ولاړل. دا په خپل کتاب کې ليکي:

"يوازې زما رښتيني ملګري زما کور ته راتلل ځکه زما کور ته له کراچۍ ښاره د نيم ساعت لاره وه. زما په کور کې د خدمت لپاره کله

ناکله بنګالیان راتلل. دوی تاوده زړونه او خوشاله روح لرلو. کله به د هند مهاجر راتلل چې ډېر با ادبه او ډېر بې اعتباره وو. کله به پښتانه راتلل چې ډېر مودبه نه خو پتمن وو او پنجابیانو به کار ډېر کولو خو پتمن نه وو"

په ۱۹۶۰ کې عابده سلطان د خپلې خور ساجده سلطان د لیدو لپاره ډیلي ته ورغله. ساجده د پټوډي په پښتون نواب منصورعلي خان واده وه. په دې وخت د هغې مور مېمونه سلطان ورته ټېلیفون وکړ چې پلار یې سخت ناروغه دی. دا له خپلې خور سره یو ځای په الوتکه کې بهوپال ته ورسېده.

عابده سلطان لیکي:

"موږ د خپل پلار د شخصي ساتونکي له خوا په پوړو ودرول شو او راته یې وویل چې هېڅوک اجازه نه لري له دې ځایه وړاندې ولاړ شي. موږ دواړه خویندې سختې خواشینې بهر ولاړو. بیا بهر په باغ کې کښېناستو زموږ مور له ډاکټرانو سره جنجال کاوه. دوی ډېر مودبه وو او ویل یې: "چې په مناسب وخت به اجازه ورکړي، چې نواب صېب ووینې" که څه هم بهوپال په ۱۹۴۹ کې له هند سره یو ځای شوی و خو تر ۱۹۶۰ پورې ځینو نوابانو خپل رسمي حثیت هم هغسې ساتلی و. دوی څه خاص امتیازات نه لرل او تش په نوم پاتې وو. زیاتره یې د خپلو مځکو او باغونو په آمدن ژوند تېراوه.

په بله ورځ عابدې او د هغې خور ته اجازه ورکړل شوه چې خپل پلار نواب حمیدالله خان ووینې. عابدې دولس کاله خپل پلار نه وو لیدلی او په وروستي ځل خپل پلار ورته په یو سخت لیک کې خبرتیا ورکړې وه چې دا د بهوپال په مځکو او جایداد کې هېڅ برخه نه لري.

اوس د هغه سترګې کمزورې شوې وې او کله چې یې د خپلې لور غږ واورېدو نو له خوشالۍ یې غېږه پرانیستله او عابده یې تر غاړې وته. څو ورځې وروسته د ۱۹۶۰ کال پر ۴ فروري نواب حمیدالله خان له دې فاني دنیا سترګې پټې کړې.

د هغه د جنازې د مراسمو لپاره عابدې هلې ځلې وکړې او غوښتل یې چې پلار یې په پوره سرکاري درناوي سره خاورو ته وسپارل شي او د بهوپال د یوویشتو توپو سلامي ورته وکړي. دې ته اطلاع ورکړل شوه چې اوس په بهوپال کې توپې نشته. دلته بیا د عابدې سرټمبګي کار وکړو. هغې فیصله وکړه چې مقصد د بارودو د ډز نه دی. په څه سترو یې ۲۱ د بارودو ګولې تیارې کړې او د جنازې پر وخت یې وار په وار خلاصولې. د نواب حمیدالله مړی یې د بهوپال په شاهي جنډې (بېرغ) کې خاورو ته وسپارلو.

د عابدې کورنۍ اوس پر هغې فشار راوړ چې دا دې پاتې شي او د پلار میراث دې سمبال کړي. د هغې مېرې افتاب بېګم هم ورته په ټینګار وویل خو عابدې اوس په بهوپال کې ځان پردی احساساوه. په ۱۹۸۰ م کال کې دا یو واري بیا د خپلې ناروغې مور میمونه سلطان لیدو ته له پاکستانه هند ته ولاړه. په بمبۍ کې ورته وویل شو چې اوس به دا په پولیس تاڼه کې خپل نوم لیکي. ځکه چې دا د پاکستان اوسېدونکې ده. دې هلته د اورګاډي د دربیمې درجې ټکټ واخیست او څلورویشت ساعته یې د نورو خلکو په شان سفر وکړ او په ګاډي کې نیمه ویښه، نیمه ویده کله چې بهوپال ته ورسېده. دې ځان دومره په بدحال احساساوه چې خپل پېټۍ یې پر سر کېښوده او د ټېکسي موندلو په لټه کې شوه. دې فکر کاوه چې څوک به یې ونه پېژني او نه یې غوښتل چې څوک یې وپېژني. په دې وخت کې یو پولیس واله

ددې لوري ته راغی او ورته یې ویل: ''ته بیا حضور یې (بیا په بهوپال کې خورکۍ یا مورکۍ په مانا کارېږي. خو عابده سلطان ته به ټولو ''بیا'' ویل.)

کله چې دې ورته ځان ورو پېژندلو نو نور خلک ترې هم راټول شول او اخر په یو ټانګه (ګاډي) کې یې تر خپل منزل ورسوله.

هلته په شاهي ماڼۍ کې عابدې خپله مور او کشره خور رابعه سلطان ډېر نا اسوده لیدل. هر څه په زړېدو وو. باغونه یې شاړ او د لوبو میدان له وښو او وحشي بوټو ډک وو. کله کله به یو چا سر ورته ښکاره کړو. ځینې پخواني خدمتګاران لا پاتې وو. میمونه سلطان ډېر شاهي خویونه لرل او لکه د یوې صبرناکې مېرمنې هرڅه یې په خاموشي زغمل، خو د ژوند وروستۍ شېبې یې په یوازیتوب تېرې شوې. د بهوپال د نوابۍ وروستۍ وارثې عابدې سلطان چې کله پاکستان ته کډه وکړه، نو په لومړیو څو کلونو کې یې ځان له نویو حالاتو سره برابرولو.

په ۱۹۵۸ م کال کې دا په برازیل او وروسته په چیلي هېواد کې سفیره شوه. ددې د کورنۍ په درناوي د پاکستان هر حکومت ورته ارزښت ورکولو. د ۱۹۶۰ په لسیزه کې هغې د واکمن جنرال ایوب خان پر ضد د مسلم لیګ له خوا په هغو انتخاباتو کې کمپاین وچلولو چې مشره یې د محمدعلي جناح خور فاطمه جناح وه. په عملي سیاست کې دا په لومړي ځل فعاله شوه، خو د دوی ګوند رایې ونه ګټلې او ورسره ددې سیاسي ژوند هم پای ته ورسېد. کله چې ددې زوی شهریارخان د خارجه وزارت لخوا مسلکي ډیپلوماټ وټاکل شو او واده یې وکړ، نو عابدې ټولنیزو کارونو ته لاس واچولو. په خپل

کور کې یې د ملیر د غریبو او بې وزلو ماشومانو لپاره د زده کړې اسانتیاوې برابرې کړې او تر مرګه په لیک لوست بوخته وه.

×××

لسم څپرکی

د بهوپال اوسني پښتانه

په بهوپال کې هغه پښتانه چې د دوست محمد خان په وخت کې ورغلي وو، د استوګنې ځایونه یې نه لرل. زیاتره په کې مېشتي خېل وو او لکه چې د پښتنو دود دی. په پردېس کې هر وخت چې یوه ډله ځان له ځای جوړ کړي نو نورخپلوان هم ورپسې ځي. د بهوپال د ویالو او تالابونو په غاړه یو بوټی کېږي چې مېږزرو ته ورته وایي او دې ته "بروو" وايي. دې لومړنيو پښتنو چې کله ځان ته جونګړې او کوډلې جوړولې نو د "بروو" بوټي به یې پرې کول او په چټونو به یې غوړول، له همدې کبله ورته د هندوستان خلکو "برووکټ"یا (بروو پرېکوونکي) ویل. په شلمه پېړۍ کې هم د دې پښتنو اولادونو د کرکټ او هاکي لوبو کې نوم وګاټه او یو په کې منصورعلي خان چې د پټوډي نواب او د هند د کرکټ نامتو لوبغاړی و او بل د هاکي اتل اسلم شېرخان و. کله چې دوست محمدخان په بهوپال کې ځای پر ځای شو، نو له تیرا یې خپل خپلوان راوبلل. د ده ورونه چې شېرمحمد، الف محمد، شاه محمد، میر احمد او عاقل نومېده. د عاقل نه علاوه نور ټول په بېلا بېلو جګړو کې ووژل شول. له دې وروسته په لومړۍ جوپه کې نژدې پنځوس تنه راغلل چې زیاتره مېرازي خیل وو. ورپسې مېشتي خېل او فیروزخېل ټبرونه ورغلل. له بهوپاله لرې د کوروايي نوابي دلېرخان جوړه کړې وه. چې فیروزخېل اورکزي وو. دی په ۱۲۷۰ کې په کندهار کې زېږېدلی و او له دوست محمد سره یو ځای په ډېرو جنګونو کې لکه د ښو ملګریو جنګېده.

په ۱۷۱۷ کې مغول پاچا فرخ سېرور له د بهوپال سره نژدې ۳۰ پرګنې ورکړې. تر دې وړاندې دلېرخان دلته ۱۷۱۳ کې یوه د ختو کلا جوړه کړې وه. دا سیمه په ۳۲۸ مربع کیلومیټره غزېدلې ده او په

۱۹۰۱ کې هلته د یارلس نیم زره خلک مېشت وو. دلېرخان په ۱۷۲۰ کې د جې پور د راجه تر قوماندې لاندې د کوټه په جنګ کې برخه واخیسته او هم په دې کال له حیدرآباد سره وجنګېده. خو دوه کاله وروسته دوست محمد خان دی له خپلو زامنو سره یوځای یوې مېلمستیا ته وبراسیه ته وربللو او له خپل زوی سره یو ځای یې ووژلو. دا معلومه نه ده چې له دوست محمد خان سره یې څه وخت او څنګه مخالفت پیدا شو.

دلېرخان د مغول پاچا محمد شاه له خوا شاهي نشان او د امیرالدوله لقب اخیستی و او د پنځو زرو عسکرو منصب دار و. دده مېرمن شاه درۍ بي بي د یوه بل سردار نصرالله خان خور وه. دده زوی عزت خان د پلار پر جاګیر وارث شو او څه وخت چې دوست محمد له مرهټه وو سره په جنګ اخته و، نو دی د پښتنو د دښمنۍ له کبله د خپل دښمن له دښمن یعني مرهټو سره لاسونه یو کړل. په ۱۷۶۱ کال چې احمد شاه ابدالي پر هندوستان حمله وکړه او د پاني پت په میدان کې د مرهټه وو او افغان پوځونه یو بل ته مخامخ شول، نو عزت خان د مرهټه وو په صف کې ولاړ و. هم په دې جنګ کې د ده خپل ماما د احمد شاه ابدالي په پوځ کې جنګېده. په سختې جګړې کې عزت خان ټپي شو او هم دغه ماما وپېژانده او د درملنې لپاره یې له مېدانه خپلې خیمې ته یوووړ. کله چې یې ټپونه جوړ شول، نو د احمد شاه ابدالي خدمت ته یې حاضر کړ. ده ورته د لقب او د جاګیر نه علاوه د یوې لویې جنګي ډلګۍ قومانده وسپارله. دی کورواېي ته د یوه معزز او مېړني په توګه بېرته ولاړ. خو لږه موده وروسته مړ شو. مرهټه وو دده غداري هېره نه کړه او څه موده وروسته د عزت خان زوی نواب حرمت خان د پلار ځای ناستی شو. نو ډېر ژر د مرهټه وو

لاس ته ورغی او د پلار په بدل کې یې ونیولو او تر درې کاله د هغوی بندي و. په بندي خانه کې شکنجه شو او ډېره بده وضعه ورسره وشوه. مرهټو غوښتل چې دده خزانه او پرګنې ترې واخلي. اخر دی مجبوره شو او یو شمېر کلي یې مرهټه وو ته وسپارل. له دې علاوه ده درې لکه روپۍ د خوشې کېدو په بدل کې ورته ومنلې. له بنده له خلاصېدو سره سم هغه د نویو ملګریو په لټه کې شو او انګرېزانو ته یې مخ واړولو. ده داسې فکر کاوه چې انګرېزان به د مرهټه وو له ماتې وروسته هغه کلي بېرته ورته ورکړي. خو هغوی دغه مځکې په خپل واک کې وساتلې. د حرمت خان دوه زامن مظفرخان او نجف خان یو په بل پسې نوابان شول. خو د دواړو له مړینې وروسته دوی نارینه اولادونه نه لرل چې نواب شي. په دې وخت کې د بسوده نواب په دې ګدۍ دعوا وکړه. خو اخر دا دعوا د نجف خان لمسي منورعلي خان وګټله. د منور مور د نجف خان لور وه. د منورخان هم زامن نه وو او دغسې دده له مړینې وروسته نوابي دده ورور یعقوب علي خان ته ورکړل شوه.

یعقوب علي خان له خپلې کونډې وربنداري عمرالنساء سره واده وکړ. ده یو زوی او یوه لور لرل. دی هم ددېرشو کالو په عمر مړ شو. نو دده ماشوم زوی سرورعلي خان د څلورو کالو په عمر کې نواب اعلان شو. انګرېزانو د هغه د سرپرست په توګه یوه شورا وټاکله چې مشره یې د سرورعلي خان مور عمرالنساء وه. دا د ''سرکاراما'' په نامه پېژندل کېده او د بهوپال د نوابې سلطان جهان ملګرې وه. نو د هغې خبره به یې ډېره منله. هغې د واکمنۍ په توګه په کورواېي کې د غریبو خلکو لپاره اداري جوړې کړې. یوه کلیوال بانک به کروندګرو ته د تخم د وېشلو او بې له سوده پورونه ورکول چې مځکې وکري. د

سلطان جهان په وینا نواب سرورعلي خان او دده خویندې د نوې زمانې تعلیم او زده کړو لپاره ښوونځیو او کالجونو ته واستول شول. په خپله سرورخان د اندور په ډالي کالج او بیا د اجمیر په مایو کالج کې د زده کړو لپاره ولېږل شو. په ۱۹۲۱ کې سرورخان د لندن په سینډ هرسټ کې پوځي زده کړو لپاره ولاړ او په ۱۹۲۳ کې نواب شو.

په ۱۹۲۲ کې دده د بهوپال له شهزادګۍ عابده سلطان سره واده وکړ. د نکاح نامې یو شرط دا و چې د سرورخان مشر زوی به دبهوپال نواب وي. په ۱۹۳۴ کې د ده زوی شهریارخان وزیږېد خو دا څرګنده وه چې عابده سلطان او نواب سرورعلي خان یو ځای ژوند نشو کولای. دوی بیل شول او څه موده وروسته سرورخان دویم او بیا دریېم واده وکړ. له دریېمې ښځې دده زوی ظفرعلي خان دده له مړینې وروسته نواب شو. نواب سرورعلي خان د هندوانو له ټیټې طبقې سره ډېره خواخوږي او زړه سوی لاره اوپه خپل حکومت کې یې دوی ته ډېره ونډه ورکړې وه. دکورواېي په ولسي جرګه کې یې ددې طبقې ډېر خلک راواستل. ده د زور ودونو او جهېز پر ضد هم ډېرې هلې ځلې وکړې. دی په ۱۹۸۲ کې مړشو.

کله چې عابده سلطان له سرورعلي خانه بېله شوه، نو هغه ته یې وویل چې بل واده دې وکړي. نواب سرور د "وای" د نواب له لور عایشه سره واده وکړ. دوی درې اولادونه لرل چې قیصر زمان، ظفرعلي خان او منورعلي خان نومېدل.

قیصرزمان اوس په بهوپال کې یو شخصي ښوونځی پرانیستی دی او لور یې د شهریارخان په دویم زوی علي واده ده او په لاهور کې ژوند تېروي.

د دلیرخان یو بل زوی محمد احسن الله خان د بسوده نومي ځای نواب وټاکل شو. د نواب حرمت خان یو بل زوی نجف خان هم د خپل ورور له مړینې وروسته نواب شو، خو ده صوفي طبعیت درلود او د قادریه طریقې منونکی و. زیات وخت به یې په عبادت کې تېرولو. دده مېرمن لاډلي بېګم د محمدګړ د نواب احمدقلي خان لور وه.

د نجف درې زامن په ماشومتوب کې مړه شول او چې دی مړ شو، نو دده خور کرامت الزماني بېګم نوابه شوه او د بسوده دا دواړه نوابۍ یعنی کورواېي او بسوده یو ځای شول. د میمونه سلطان دویمه خور ساجده سلطان د پټوډي په نواب افتخارعلي خان واده شوه چې د پښتنو یوه بله نوابي وه. دی د هند د کرکټ لوبغاړی و. د ساجده سلطان زوی منصورعلي خان هم د پلار په شان د کرکټ لوبه غوره کړه او یو وخت کې د هند ستوری و. ده د هندي فلمونو له بنګالۍ اداکارې شرمیلا ټېګور سره واده وکړ. د منصورعلي خان درې اولادونه دي چې دوه یې اوس د هند د بالي ووډ په فلمونو کې د سیف علي خان او سوها علي خان په نامه پېژندل کېږي.

د ده یوه لور چې سباعلي خان نومېږي اوس په بهوپال کې د هغو لسګونو زیارتونو او جوماتونو متولي ټاکل شوې ده چې په تېرو دریو سوو کلونو کې پښتنو جوړکړي وو. د "اوقاف شاهي" په نوم اداره په بهوپال کې ټول مذهبي ځایونه اداره کوي. له دې علاوه سکندر بېګم چې په مکه کې د حاجیانو لپاره کوم رباطونه (وړیا اوسېدو ځایونه) جوړکړي وو دا د هغې مسولیت هم په غاړه لري. د دې خبرې څه مخالفت هم کېږي، ځکه چې د ساجده سلطان کورنۍ له بهوپاله وتلې ګڼل کېږي او ځینې خلک په دې باور دي چې اوس د نوابانو او دراجه ګانو دور ختم شوی دی. لکه چې د بهوپال نورې

ځانګې (شعبې) د حکومت له خوا اداره کېږي. په کار ده چې د نوابې کورنۍ اوقاف هم له حکومت سره وي. په دې اړه راته شهريارخان د يوه ډيپلوماټ ځواب راکړ او هغه دا چې ''څه چې په هندوستان کې پاتې دي هغه په ما پورې اړه نه لري. زما مور بې له هغې هم د پلار په مېراث چې دعوا کړې وه ورته هېڅ تر لاسه نشول. زه خپل ښه ژوند لرم.''

د اورکزو يوه بله کورنۍ د جلال خېلو وه چې له دوست محمد خانه ډېر وړاندې د لوهاري په سيمه کې اوسېدل. دا سيمه د هند د اترپردېش ولايت سهارن پور ولسوالۍ (ضلعې) ته نژدې ده، چې د ديوبند مدرسه په کې ده.

د سردار جلال خان څو پښتونه د مځکه والو په توګه د لوهاري خواوشا مېشت وو. د سردارجلال خان د پلارنوم ميرحضر خان و او د دولسمې پېړۍ په نيمايي کې د مغول پاچا اورنګزېب پر وخت د دې سيمې مځکه وال و. جلال خان ته دده د خدمتونو په بدل کې منصب ورکړی شوی و او دی د ''بهيم'' نومې ولسوالۍ تاڼه دار و. د جلال آباد د د نوابۍ بنسټ هم ده ايښی و. دی په ۱۷۱۷ کې مړ شو او هم هلته په جلال آباد کې ښخ شو. د جلال خان له کړوسيو يو احمدعلي خان و چې د دولس کلونو په عمر کې د بهوپال نوابې سکندربېګم د خپلې کونډې مور او وړې خور سره خپلې ماڼۍ کې وساتل. وروسته احمدعلي له سلطان بېګم سره واده وکړ.

یوولسم څپرکی
پټــــــهـــــاري

دا سیمه هم بهوپال ته نژدې ده او په ۷۸ مربع کیلومیټره غزېدلې ده. دلته د بارکزیو د قبیلې خلکو خپله نوابي جوړه کړه. ښايي د ۱۷۹۴ راهیسې په کې پښتانه مځکه وال وو او په ۱۸۰۷ کې نواب حیدرمحمد خان واکمن و. وروسته دده زوی عبدالکریم او لمسی عبدالرحیم خان نوابان وو. د هند تر وېش پورې (۱۹۴۷) عبدالغني او دده زوی ابوبکر غني دلته نوابان وو. بیا وروستی نواب آصف محمدخان په ۱۹۷۰ کې له دې ځایه کډه وکړه او بمبۍ ته ولاړ. د هند او پاکستان تر وېش وروسته د بهوپال ډېرو پښتنو په تېره بیا هغه چې د اورکزیو یا درانیانو له ټبره وو پاکستان ته کډه وکړه. دوی زیاتره په کراچۍ کې ژوند کاوه. د امراولدوله (د سلطان جهان خاوند) کړوسی انورکمال د پاکستان له خوا په بنګله دېش او بیا په مصر کې سفیر پاتې شو.

د دوست محمدخان د کورنۍ دوه نور مهم غړي غضنفر محمدخان او اسلم محمدخان د پاکستان په پوځ کې د ډګرمن چوکۍ ته ورسېدل. د امرالدوله لمسۍ منورجهان د جوناګړ نواب ته واده شوه.

د مېمونه سلطان خورزه شهزادګۍ فرحت سلطان د پاکستان د هوايي ځواک مشر (اېيرمارشل) نورخان ته واده شوه.

د بهو پال په پوځ کې به تل پښتانه زیات وو او د نوابۍ د ساتنې په لاره کې دغو پښتنو ډېر لوی رول لوبولی دی. د مېمونه سلطان ورور سلطان عزیز خان ته به له پېښوره ځینې خلک راتلل او ده به ورته کار روزګار ورکاوه.

په دوی کې ډېر خلک چې ژوند یې ښه شو تر اوسه په بهوپال کې اوسېږي. دوی به د واده لپاره جینکۍ او هلکان د پښتنو په کورونو

کې لټول. خو لکه چې په نورو ځايونو کې هم کېږي. له لومړي کول نه دويم ته ژبه کډه نه کوي او په تېره بيا چې په چاپېريال کې پښتو نه وي. دوی پښتو له لاسه ورکړې ده. د نوابي کورنۍ زياترو خلکو خپلې مانۍ يا په کرايه ورکړې او يا يې هوټلونه ترې جوړ کړي دي.

د عابدې سلطان کشره خور رابعه اوس هم په بهوپال کې ده او پخپل کور کې يې يو ښوونځی جوړ کړی دی.

نور يا په بمبۍ او يا هم په ډيلي کې اوسېږي. ځينو پخوانيو پوځيانو يا ښار او کليو کې مځکې اخيستې دي کورونه يې جوړ کړي او هم هلته اوسېږي. په داسې کورنيو کې يو څه پښتو پاتې ده او د هغې علت دا دی چې دوی په پاکستان کې د خپلو خپلوانو سره رابطه لري او کله چې د هند او پاکستان تر منځ پولې پرانستې وي، نو دوی د يوه بل کره تګ راتګ هم کوي. نوې واده شوې مېرمنې له ځانه سره پښتو راوړي او دغسې ژبه يو څه تازه شي. نورې په اردو کې د پښتو ټکي راګډوي. يو ځای د ډوډۍ پر وخت ښځو په خپلو کې خبرې کولې.لکه اينې،مرې، مرا ، خو چپ شه، زه، څه مې تر غوږو شول.

د بهوپال يو اغېزمن شخصيت مفتي عبدالرزاق نومېږي. دده کورنۍ نژدې سل کاله پخوا د صوبه سرحد (پښتونخوا) له مردانه هند ته تللې وه. ده هم هلته ديني زده کړې کړي دي. دده يوه زوی د مذهيه پردېش له يوې حوضې (حلقې) نه د لوک سبها (پارلمان) غړی دی. د بهوپال په ښار کې د ده يوه لويه مدرسه ده او دلته له څلورو سوو زيات ماشومان د ديني زده کړو لپاره ورځي خو دا مدرسه د سپين ږيرو پښتنو لپاره د راټولېدو يو مرکز هم دی. د مدرسې د انتظام لپاره څه ناڅه ۸۰ کسان کار کوي. په دوی کې د مفتي صېب د کورغړي هم شامل دي. ده راته وويل: ''موږ هره ورځ دوه نيمو سوو

خلکو ته دوه وخته ډوډۍ ورکوو.'' ډوډۍ خوړونکي زياتره هغه ماشومان وو چې د سبق لپاره هلته ورتلل. په مدرسه کې دننه يو دالان کې ښځې ناستې وې. دوی وريجې او نوره غله پاکوله. د مفتي صېب يو زوم هره ورځ د پخولو لپاره غوښه او ترکاري په خپله راوړله.

له ښاره شل کيلوميټره لويديځ لوري ته په يو کلي کې مفتي عبدالرزاق يوه مدرسه جوړه کړې وه او هم هلته يې يوه ورځ د خپلې کورنۍ غړي او ځينې نور خلک مېلمانه کړل. هر چا ته يې د صحبت بلنه ورکړې وه. د ښځو لپاره د مدرسې په دويم پوړ کې يوه برنډه غوره شوې وه. د مفتي صېب لور راته وويل: موږ دې ډوډۍ ته 'وره مړۍ' وايو. بيا د چپلۍ (اوزي) د غوښې لويې لويې ټوټې چې په يوه غټ دېګ کې پخې شوې وې راوړل شوې. په ښوروا کې پاستې (چپاتي) واړه شو. په غټو غټو خانکونو کې يې دا ډوډۍ راوړه او موږ په ډلو کې کښېناستو او ومو خوړله. د ښاريو څو ښځې ناارامې وې. دوی په لاسونو ډوډۍ نشوی خوړلای او قاشوغې يې غوښتې.

په بهوپال کې د دوست محمد خان کلا چې فتح ګړ نومېږي اوس هم شته. خو ددې له يوه دېوال سره سرې ورې جنډۍ رپېدلې او دا ددې نښه وه چې هندو مذهبي سخت ګيرو دلته د رام د مندر کېدو دعوه لري.

د دوست محمد خان د استوګنې ځای ډېر ساده و. ددې کوټې او دالانونه هم هغسې دي لکه چې په تيرا کې د ځينو خانانو کورونه وي.

د نوابي کورنۍ هغه ښکلې مانۍ چې صدر منزل، موتي محل او تاج نومېږي اوس په کې هوټلونه جوړ دي. د بهوپال د نامتو جهيل (تالاب) خواوشا ټولې ودانۍ اوس د سېلانيانو لپاره په کرايه ورکول کېږي.

د دوست محمد خان د کور په برنډه کې د تېرو سلو کلونو تصويرونه ځوړند وو. په دوی کې د وروستي نواب حميدالله خان او دده د مشرې لور عابدې سلطان عکسونه ډېر وو. عابدې له ماشومتوبه پوځي لباس اغوستلو او په اس به يې ډېره سپرلي کوله. موږ سره مل د بونير يو پښتون طالع زرخان چې دعوا يې کوله دی له سلو کلو زيات عمر لري او د بهوپال په پوځ کې عسکر پاتې شوی و. د عابده سلطان يو عکس ته يې ګوته ونيوله او ويې ويل: ''موږ چې کله پوځي پرېډ کاوه او نواب حميدالله خان به کتنې ته راتلو نو عابده سلطان به ورسره مله وه''

د رای سين ولسوالۍ د بهوپال له ښاره ۲۰ کلوميټره د لويديځ پر خوا ده. د يوې غونډۍ له پاسه د رای سين د مشهورې کلا کنډوالې له سړکه ښکارېدې. دا کلا په شپاړسمه پېړۍ کې شېرشاه سوري له يوې محاصرې وروسته نيولې وه. دوه سوه کاله وروسته هم دغه کلا دوست محمد خان نيولې وه. ددې غونډۍ په شاوخوا کليو کې د پښتنو مېنې دي. په دوی کې يو څو نومونه داسې دي: سيلواني، اوچيره، باوليه، خان ډېره، نښتره، دهنورا، بهولايي، بورلايي، ځارنپور او داسې نور....

په باوليه کې محمد ايوب او د هغه ورونه په خپل هغه لوی کور کې ژوند کوي چې د ده پلار پنځوس کاله پخوا جوړکړی و او تقريبا د ټول کلي مځکې د دوی خپلې دي. دده د پلار نوم شمس احمد و او دی له سواته بهوپال ته تللی و. هغه وخت په خان ډېره (کهنډېره) کې دوه نور پښتانه ورونه د عابد حسين او ماجد حسين په نومونو اوسېدل. دوی به د بهوپال د ځنګلونو لرګي پرېکول. چارتراش به يې ترې جوړول، او د کورونو او فرنيچر جوړولو لپاره به يې پر خلکو پلورل. شمس احمد

هغه وخت د دوی دا لرګي په يوه ټرک کې د هند بېلابېلو برخو ته رسول. د لاری (ټرک) چلولو کار ده پخوا هم کاوه، خو اوس يې په کې ډېره ګټه وکړه. وروسته ده هم د لرګيو کار پيل کړ او په باوليه کې يې مځکه واخيستله.

د شمس دوه مېرمنې وې. يوه عايشه بي بي نومېده چې ما ورسره په باوليه کې وليدل او زما له تګه يو کال وروسته وفات شوه. دويمه خوشاله بي بي ده، تردې دمه چې زه دا ليکنه کوم لا ژوندۍ ده.

خوشاله بي بي د ايوب احمد مور ده او په وړوکي عمر کې له سواته راواده شوه او د بهوپال په دې وړوکي کلي کې يې ژوند پيل کړ. په باوليه کې د ټيليفون او د برېښنا اسانتياوې شته خو د کلي سړک پوخ نه دی.

زما په پوښتنه ايوب احمد راته وويل: دا کلی همدغسې ښه دی. موږ سړک نه غواړو.

اوس د کروندې لپاره دوی ټرېکټراو سره کاروي او تېرکال يوازې د غنم حاصل (پالېز) يې دوه زره کيلوګرامه و. د غنمو سربېره دوی چڼې او دال او په لږه مځکه ترکاري هم کري. دوی بزګران هم لري چې زياتره هندوان دي. د دوی مېرمنې هم د کور په کارونو کې بوختې وي. هر يوه خدمتګار ته دوی څلورسوه روپۍ تنخواه ورکوي. په واده ښادۍ کې ورته نوې جامې او پيزار اخلي. د پښتنو له هر کور سره جوخته يوه حجره ضرور جوړه وي. سرې ماښام په حجره کې راټولېږي او څراغ (لالټين) په رڼا کې کيسې کوي، يا راډيو اوري. د دې کلي پښتانه په اسلامي اصولو سخت ولاړ دي. کله چې يې ښځې د يوه بل کور ته ځي نو پړوني يې پر سروي. خو چې له بهوپال ښاره بهر وځي نو بيا چادري (برقعې) اغوندي. ځينو سپين ږيرو د نوابۍ وخت په ښه

ټکو کې یاداوو خو د کلي ځوانانو یې په هغه اړه هېڅ معلومات نه لرل. داسې ځوانان هم شته چې په پښتو خبرې کوي او په دې ویاړي چې دوی پښتانه دي او نور بیا د اسلامیت او د مسلمانۍ او د مسلمانانو د یووالي په خبره ټینګ دي.

په بهوپال کې د کونړ اوسېدونکي یوه وکیل وحیدخان د صدیق حسن ذکر په ښه ټکیو کې وکړ. صدیق حسن د شاهجهان بېګم دویم خاوند و او د انګرېزانو پر ضد یې تبلیغ کاوه. وحیدخان په دې نظر و چې صدیق حسن یو لوستی سړی و او د اسلام د دین لپاره یې له یوه لوی قدرت سره ډغره وهله.

که څه هم په اوسني هندکې مسلمانان خپل ځان ډېر ترګواښ لاندې احساسوي، خو په بهوپال کې پښتانه د پېژندګلو لپاره د خپلې ژبې یا کلتور پر ځای تر اسلامي چتر لاندې خپل ځان زیات خوندي ګڼي.

په بهوپال کې زیاتره پښتانه اوس د ځایي خلکو غوندې ژوند تېروي. دوی خپله ژبه هېره کړې ده. د نوي کول ځوانان اردو وایي خو لوستلای یې نه شي ځکه چې په هند کې رسمي لیکنې په ګورمکهي رسم الخط باندې کېږي. له پښتنو پرته (علاوه) چې دلته نور مسلمانان ژوند کوي په کړو وړو کې یې ډېر توپیر نشته. د هندوستان له وېشه وروسته هغه هندو مهاجر چې د پاکستان له سند سوبې (ایالت) نه ورغلي وو، د دوی ګڼ شمېر په بهوپال کې ځای کړل شو.

ځیني پښتانه په دې خبره په تشویش کې دي چې په پاکستان او افغانستان کې د دوی د قام خلک په ترهګرۍ بدنامېږي. دوی هلته د امریکا او اروپایي ځواکونو په شتوالي هم خواشیني وو. په بهوپال کې ورته د یوه لږکي (اقلیت) په توګه ژوند ګران نه دی خو کله کله د

خپلو مشرانو د وختونو او د هغه دور یادونه ضرورکوي، چې په دې خاوره یې حکومت کړی و.

د دوست محمد روزنامچه

د سلطان جهان د نوابۍ پر وخت هرکال د اختر پر موقع د کورنۍ ټول غړي به په لوی تالار کې راټول شول او هغه وخت به د دوست محمدخان روزنامچه د هغه د اوسپنې له لویې پېټۍ راوایستل شوه او ټولو به لکه د تبرک ولیدله. بیا به یې هم هغسې سنبال کښېښوده. پر دې موقع به یې د حضرت محمدصلی الله علیه وسلم وېښته مبارک هم لیدو چې ورته ترکي سلطان ډالی کړې و. عابدې سلطان په خپله دا دواړه شیان کال پر کال لیدل.

د دوست محمد روزنامچه د هغه دیوان (وزیر) بیجي رام ورته په فارسي کې لیکلې وه. د نواب حمیدالله د مړینې وروسته لکه چې د هغه نور شیان ورک شول د دې روزنامچې درک هم ونه لګېد.

کله چې شهریارخان د بهوپال د تاریخ لیکلو لپاره له خپلوانو سره رابطه وکړه، نو دا روزنامچه له هېچا سره نه وه. په ۱۹۲۲ م کال کې د هندوستان یوه اردو مجله ''شعله حیات''ددې روزنامچې ژباړه په قسطونو کې چاپ کړه. عابده سلطان وایي: دا د اصل متن ژباړه ده.

شهریار خان راته وویل چې ده د مجلې له چلونکیو سره هم رابطه وکړه، خو دوی خبر نه وو چې اصل روزنامچه له چا سره وه ان تر دې چې د هند په ملي آرشیف کې هم نشته. خو مهمه خبره داده چې ددې روزنامچې له مخې د قدسیې بېګم د زماني راهیسې د بهوپال تاریخ لیکل شوی دی. شاهجهان بېګم په خپله هم د بهوپال د تاریخ د لیکلو پر وخت له دې روزنامچې څخه پېښې لیکلې دي.

اخځلیکونه

۱. د بهوپال بېګمات. شهریارخان
۲. د باغي شهزادګۍ یادونه. عابده سلطان ۲۰۰۵ م کال اکسفورډ یونیورسیټي پرېس کراچي.
۳. د هندستان طلایي کتاب. سر روپر لیت برج ۱۹۰۰
۴. انسایکلوپېډیا اېشیاټیک. ۱۹۷۶ اېډورډ بال فور کوزمو خپرندویه
۵. په بهوپال، ډیلي او لندن کې د د نوابي کورنۍ او نورو پښتنو او غېرپښتنو سره مرکې.
۶. مسلماني ښځې. اصلاحات او شاهي ساتنواله (Patronage) د بهوپال نواب سلطان جهان بېګم... سیوبان لومبرت-شاهي اېشیایي ټولنه هرلي روټ لاج ۲۰۰۶
۷. په هند کې زما سفرونه (۱۹۲۷)ګرېس تهامسن سي ټون ختیځ او لویدیځ (مجله)

مننه

ددې کتاب په جوړولو کې ما سره ډېرو خلکو او ادارو مرسته کړې ده. د بي بي سي د اوناسیس نومې بورس چې د هند د سفر لګښت یې پوره کړ.
په جواهر لال نهرو پوهنتون کې د ژبې او ادبیاتو استاد عبدالخالق رشید، هم ددې پوهنتون پروفیسر اخلاق احمد انصاري، د بهوپال مفتي عبدالرزاق، وکیل عبدالوحید، محمد ایوب او په تېره بیا د نوابي کورنۍ شهریارخان چې د ارشیف درک یې راکړو.

د کتاب په کمپوز کې محمد قاسم خان مندوخېل او میرویس میاخېل ډېر زیار ایستلی دی. زه د دوی ټولو د مرستې او لارښوونې لپاره ورته مننه وایم.

Download from: aghalibrary.com